بسم الله الرحمن الرحيم

# د روژې فضائل


**مؤلف**

**شيخ الحديث مولانا محمد زكريا نور الله مرقده**

**ژباړونکی :**

**مولوي عبدالهادي (حماد)**

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم حامدا و مصليا و مسلما

# تمهيد

د اللهﷻ د ثنا او ستاينې او پر نبيﷺ باندې تر درود او سلام وروسته دا يو څو حديثونه دي چې د روژې د مياشتې په فضيلت کې راغلي دي. د رسول الله رحمة اللعلمين ذات چې څومره فضيلتونه د مسلمانانو لپاره فرمايلي دي نو زمونږ لپاره يې په شکريه کې په کار دا وه چې ځانونه پرې قربان کړو، خو زمونږ د دين سره مينه دومره کمزورې سوې ده چې عمل کول خو لا پرېږده د دين و لورې ته بيخي پام نه اړوو آن تر دې چې خلکو ته يې پوهاوى ډېر کم سوى دئ.

د دې پاڼو موخه دا ده چې د مسجدو او امامان صاحبان او د تراويحو حافظان او هغه کسان چې څه ناڅه مينه د دين سره لري نو موږ رساله د روژې په اولو ورځو کې و خلکو ته واوروي نو د اللهﷻ د رحمت څخه هيله دا ده چې د خپل محبوب د ويناوو په برکت سره د دې مياشت ارزښت او درنښت ته لږ تر لږه يو څه توجه پيدا سي او د نېکو عملونو د زياتوالي او د بدو عملونو د کموالي لامل جوړه سي. رسول اللهﷺ فرمايي : که چيرې اللهﷻ ستا په وجه يوه کس ته هدايت په برخه کړي نو ستا لپاره تر سرو اوښانو (چې غوره مال ګڼل کېږي) بهتر دئ.

د روژې مياشت په حقيقت کې د اللهﷻ يو لوى انعام دئ هغه وخت چې موږ يې د ارزښت څخه ګټه واخلو که نه نو موږ بې برخو انسانانو ته د دې پرته چې د روژې، روژې ناري وهو نور څه په لاس نه راځي. په يو حديث کې راځي : که چيرې خلکو ته دا معلومه سي چې روژه څه شي ده نو زما امت به دا آرزو وکړي چې روژه دې په کلونو سي. که څه هم په کلونو روژه نيول اسانه کار نه دئ خو د روژې د مياشتې د ثواب په مقابله کې د نبيﷺ ارشاد دئ چې خلک به د دې کار آرزو وکړي. په يو حديث کې راغلي دي چې د روژې د مياشتې روژې نيول او په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيول د زړه خيره او وسوسې ليرې کوي. لنډه دا چې په هر صورت يو څه سته که نه اصحابو به د روژې په مياشت کې د جهاد په سفر تلل سره د دې چې نبيﷺ په تکرار سره د روژې ماتولو اجازه ورکړې وه خو بيا هم دوى مبارکانو روژې نيولې آن تر دې چې بيا پر دوى باندې حکماً منع ولګېده. د مسلم شريف په يو حديث کې راغلي دي:

اصحابان د يوې غزا په سفر كي يو ځاى تم سوه ډېره سخته ګرمي وه دوى د ناداري، له وجي دومره جامې هم نه درلودي چي د ګرمۍ څخه ځان پرې وساتي ډېرو يې د لمر ساتني په موخه لاسونه مخ ته نيولي وه په دغه وخت كي هم د ډېرو روژې وي دوى مباركانو د ولاړې توان نه درلودى پرېوتل. د اصحابانو مباركانو يوه ډله داسي وه لكه چه تل يې روژې وي د نبيﷺ په ښوونه داسي روايتونه رانقل سوي دي، چي په هغه كي د روژې فضيلتونه بيان سوي دي. زما ګنهګار لپاره د ټولو راجمع كول ګران كار نه بلكي تر وس وتلى كار دئ كه راجمع هم سي نو لوستونكي به ستړي سي ځكه په معاصر وخت كي د دين څخه بې پروايي دومره ډېره ده چي د بيان اړتيا نه لري. په علم او عمل دواړو كي چي څومره كمزوري روانه ده هر سړى چي فكر وكړي ځانته يې معلومولاى سي. نو زه په دې ځاى كي په يوويشتو حديثونو باندي بسوالى كوم او دا پر درو فصلونو باندي وېشم.

لومړي فصل : په دې كه به لس حديثونه وي د روژې د مباركي مياشتي په فضيلتونو كي به وي.

دوهم فصل : په دې فصل كي به اووه حديثونه وي د شب قدر په بيان كي به وي.

دريم فصل : په دې كي به درې حديثونه وي د اعتكاف بيان به پكښې وي تر دې وروسته به يو اوږد حديث وي چي دغه رساله به پرې ختمه سي. اللهﷻ دي يې د خپل كريم ذات او د خپل محبوب په بركت د قبوليت په لورونه و نازوي او ما ګنهګار بنده ته دي د دې بركتونو څخه د ګټې اخيستلو توفيق را په برخه كړي.

فَا نه بِر جَواد كَرِيم

# لومړى فصل

## د روژې د مياشتي (رمضان) په فضيلتونو كي

۱. عن سلمان ﷺ قال خطبنا رسول اللهﷺ في آخر يوم من شعبان قال يآايهاالناس قد اظلكم شهر عظيم مبارک شهر فيه ليلة خير من الف شهر شهر جعل الله

ژباړه : سلمانؓ فرمايي: چي رسول اللهﷺ د برات د مياشتي په وروستۍ ورځ موږ ته وعظ وكړ او راته وې فرمايل: اې خلكو پر تاسو باندي يوه لويه مياشت راتلونكې ده مباركه مياشت ده، په دې مياشت كي يوه شپه ده چي عبادت يې تر زرو مياشتو عبادت بهتر دئ

صيامه فريضة وقيام اليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن ادى فريضة فيما سواه ومن ادى فريضة فيه كان كمن ادى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزاد في رزق المؤمن فيه من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل اجره من غير ان ينقص من اجره شيئ قالوا يا رسول الله ليس كلنا يجد ما يفطر الصائم فقال رسول الله ﷺ يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما علي تمرة اوشربة مآء او مذقة لبن وهو شهر اوله رحمة واوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه فيه غفرالله له واعتقه من النار فاستكثروا فيه من اربع خصال خصلتين ترضون بهما ربكم وخصلتين لاغناء بكم عنهما فاما الخصلتان اللتان ترضون بهما ربكم شهادة ان لا اله الا الله وتستغفرنه. واماالخصلتان اللتان لاغناء بكم عنهما فتسئلون الله الجنة وتعوذون به من النار ومن سقى صائما سقاه

داسي مياشت چي روژه پکښي نيول فرض دئ او د شپې عبادت (تراويح) پکښي کول نفل دي. دا يوه داسي مياشت ده چي څوک نفلي کار پکښي وکړي داسي ثواب لري لکه په نورو وختو کي چي اويا فرضونه ادا کړي دا مياشت د صبر ده او د صبر ثواب جنت دئ. دا مياشت د غمخوارۍ ده په دې مياشت کي د مؤمن رزق زياتېږي څوک چي په دې مياشت کي د يوه روژاتي روژه ورماته کړي (يعني روژه مات ورکړي) نو د ده د ګناهونو د بخښلو او د اور څخه د خلاصون سبب به سي او دومره ثواب به تر لاسه کړي لکه د هغه روژاتي ثواب، بېله دې چي د هغه د ثواب څخه يو شی کم سي (يعني ده به هم پوره ثواب ورکول کېږي). اصحابو وپوښتل چي موږ ټوله داسي نه سو کولای چي روژاتي ته روژه مات ورکړو (يعني په موږ کي مسکينان سته)؟ رسول ﷺ وفرمايل : (روژه مات ورکول تر مړېدو نه دي بلکي) يوه خرما يو ګيلاس اوبه يا شيدې ورکول هم دغه ثواب لري. دا يوه داسي مياشت ده چي اوله برخه يې رحمت ده، منځنۍ برخه يې مغفرت ده او وروستۍ برخه يې د اور د دوزخ څخه خلاصون دئ. څوک چي په دې مياشت کي پر خپل غلام (خادم) باندي اسانتيا راولي الله ﷻ به ګناهونه ور وبخښي او د دوزخ څخه به يې خلاص کړي. په دې مياشت کي تاسو په څلورو شيانو کي ډېروالی کوئ په دغه څلورو شيانو کي دوه داسي شيان دي چي الله ﷻ په راضي کېږي او دوه داسي شيان دي چي د هغوی څخه ستاسو خلاصون نسته، هغه دوه شيان چي الله ﷻ په راضي کېږي د کلمې طيبې او استغفار ويل دي او هغه دوه شيان

الله من حوضي شربة لا يظماء حتى يدخل الجنة(١).

چي ستاسو خلاصون ځني نسته يو د جنت غوښتل دي او بل د اور څخه د دوزخ پناه غوښتل دي. چا كه روژاتي اوبه كړ الله ﷻ به يې (د قيامت په ورځ) زما د حوض په اوبو اوبه كړي چي د جنت تر داخلېدو پوري به تږي نه سي.

**فايـده** : محدثينو د دې حديث په ځينو روايت كوونكو كي بحث كړى دئ. لومړى دا چي په فضائلو كي دومره اندازه بحث د زغملو وړ دئ دوهم دا چي د زياتو مضامينو تائيد نورو روايتو كړى دئ. د دې حديث څخه څو خبري معلومېږي لومړى دا چي د نبيﷺ د برات د مياشتي په وروستۍ ورځ په خصوصي ډول وعظ وكړ او خلكو ته يې وښودل چي د روژې په مياشت كي يوه لحظه غفلت نه دئ په كار د ټولي مياشتي د فضيلت د بيانولو وروسته يې خلك څو شيانو ته په خصوصي ډول متوجه كړل لومړى يې شب قدر ته (توجه وكړه) چي دا په حقيقت كي ډېره د ارزښته ډكه شپه ده، چي په دوهم فصل كي به يې مستقل بيان راسي. بيا نبيﷺ وفرمايل چي د روژې نيول فرض دي او د تراويح كول سنت دي د دې څخه معلومه سوه چي تراويح هم د الله ﷻ د لوري څخه امر دئ او په كومو روايتو كي چي نبيﷺ و ځانته د تراويح نسبت كړى دئ د هغه څخه مقصد دا دئ چي نبيﷺ د دې تائيد او پوخوالى كړى دئ له همدې وجې څخه د څلورو امامانو پر دې خبره اتفاق دئ چي تراويح كول سنت دي. په برهان نومي كتاب كي راغلي دي چي د روافضو پرته بل هيڅوک د تراوح څخه منكر نسته. حضرت مولانا شاه عبد الحق دهلوي په ما ثبت بالسنة نومي كتاب كي د فقهي د ځينو كتابونو څخه نقل كړى دئ چي كه د يو ښار خلک ټوله تراويح پرېږدي نو د وخت پاچا دي جنګ ورسره وكړي. يوه خبره د يادوني وړ ده هغه دا چي ځيني خلک په دې آند دي چي قرآنكريم به ژر، ژر په اتو يا لسو ورځو كي ختم كړو دستي به تراويح رخصت كړو دا صحيح فكر نه دئ ځكه دلته دوه سنته دي يو سنت د قرانكريم په تراويح كي ختمول دي او دوهم سنت په ټوله مياشت كي تراويح كول دي دلته نو يو سنت پر ځاى سو چي قرانكريم ختم سو او

(١) رواه ابن خزيمه في صحيحه ثم قال صح الخبر ورواه من طريقة البيهقي ورواه ابوالشيخ بن حبان في الثواب باختصار عنهما وفي اسنادهم على بن زيد جدعان ورواه ابن خزيمة ايضا والبيهقي باختصار عنه من حديث ابي هريرة وفي اسناده كثير بن زيد كذا في الترغيب صــ ٢٠٣ قلت على بن زيد ضعفه جماعة وقال الترمذي صدوق وصحح له حديثا في السلام وحسن له غير ما حديث وكذا كثير ضعفه النسائي وغيره وقال ابن معين ثقة وقال ابن عدي لم ار بحديثه باسا واخرج بحديثه ابن خزيمة في صحيحه كذا في رجال المنذري صــ ٧٠٤ لكن قال العيني الخبر المنكر فتامل.

دوهم سنت پاته سو، چې په ټوله میاشت کې تراویح کول دي. البته کومو کسانو ته چې د سفر او یا د یو بل شي په وجه تراویح کول ګران وي نو هغوی دي په یو مناسب وخت کې د تراویح پرته قران کریم ختم کړي بیا چې کله موقع پیدا کړي نو تراویح دې وکړي نو نه به یې په ختم کې نیمګړتیا راځي او نه به یې په تراویح کې نیمګړتیا راځي. نبيﷺ تر روژې او تراویح وروسته و نفلي عبادت توجه وګرځول چې یو نفل کول په دې میاشت د نورو میاشتو د فرضو سره یې ثواب برابر دئ او یو فرض په دې میاشت کې د نورو میاشتو د اویا فرضو سره په ثواب کې برابر دئ. په دغه ځای کې زموږ خلګو ته یو څه فکر کول په کار دي هغه دا چې موږ په دې میاشت د فرضو څومره حق ادا کړی دئ او د نفلو مو څومره اهتمام کړی دئ. موږ خو چې کله پیشلمی وکړو بیا بیدېږو نو زیات وختونه د سهار لمونځ را څخه قضا سي که قضا نه سي نو جماعت خو د زیاتو څخه تېر سي موږنو د پېشلمي دا حق ادا کړي چې د اللهﷻ حق یعني د سهار لمونځ مو بیخي قضا کړئ او یا مو په جماعت پرېښودلو سره نیمګړي کړ ځکه اهل اصول بې جماعته لمونځ نیمګړی بولي. نبيﷺ فرمایي: کوم څوک چې مسجد ته نژدې وي (ګویا) بېله جماعته یې لمونځ نه کېږي. مظاهرالحق نومي کتاب لیکلي دي چې څوک د عذر پرته بېله جماعته یوازي لمونځ کوي فرض یې د غاړي اوړي خو د لمانځه ثواب نه ورته رسېږي. د ماښام لمونځ په روژه مات کې ولاړ سي دا خو لا پرېږده د ماخوستن لمونځ د تراویح د احسان په بدله کې تر وخت مخکې کوي دا درې لمونځونه خو زیاته برخه ده کنه نو د ماپښین لمونځ د غرمي تر خوب قربانول او د ماځیګر لمونځ د روژمات په تیاري کې قضا کول په ستر ګو لیدل سوي دي دا زموږ د فرضو حال دئ د روژه مات په تیاري کې چې د یوه فرض په بدله کې درې یا پنځه د لاسه ورکوو په دغه ډول په نورو فرضو کې پخپله غور وکړئ چې څومره کوښښ به د روژې په میاشت کې ورته کېږي. چه دا د فرضو حال وي نو د نفلو به یې څه پوښتنه کوي ځکه د اشراق او څاښت وخت خو په خوب کې تېر سي د اواینو لمونځ (یعني د ماښام تر لمانځه وروسته شپږ رکعته نفل) دا به څنګه وکړي ځکه اوس یې روژه مات وکړ، ورپسې دستي د تراویح وېره ده او تهجد دلمانځه وخت خو د پیشلمي د خوراک وخت دی نو د نفلو لپاره خو بیخي وخت پاته نه سو دا ټوله د بې پروایۍ او بې توجهۍ څخه کېږي.

*تو ہی اگر نہ چاہی تو باتین ہزار ہین*

یعني که یې ته نه غواړې نو خبري په زرګونو دي.

ځومره د الله ﷻ بندګان دي دوی ټولو ته د هر شی لپاره وخت سته ځکه زما پیر او زما استاذ مولانا خلیل احمد رحمه الله په ډېرو د روژې په میاشتو کي ما لیدلی دئ چي د ماښام تر لمانځه وروسته به یې یو ساعت او پنځلس دقیقي په لمانځه تلاوت کاوه او یا به یې اورېدی ورسته به دېرش دقیقې په خوراک او نورو شیانو بوخت سو، بیا به یې دوه نیم ساعته په تراویح کي تیرولې چي په هندوستان کي به اوسېدی او چي په مدینه منوره کي به و بیا به یې درې ساعته په تراویح او لمانځه تېرولي بیا به د موسم د اختلاف په نظر کي نیولو سره دوه یا درې ساعته بیدېدی بیا به کښیناستی د تهجد لمونځ به یې کاوه تر سپېدو نیم ساعت مخکي به یې پېشلمي وکړ، تر پېشلمي وروسته به یې کله په یاد تلاوت کاوه کله به یې نور ذکرونه کول چي رڼا به سوه د سهار لمونځ به یې ادا کړ بیا به تر اشراق پوري مراقبه و بیا به یې یو ساعت ارام کاوه وروسته به د ژمي په موسم کي تر دوولسو او د دوبي په موسم کي تر یوې بجي پوري به یې بذل المجهود (د ابو داود شریف مکمله شرحه) لیکله او راغلو خطونو ته به یې جواب وایه تر دې وروسته به یې تر ماپښین پوري ارام کاوه د ماپښین تر لمانځه وروسته به یې تر ماځیګره پوري تلاوت کاوه. د ماځیګره ځخه تر ماښام پوري به په تسبیحاتو مشغول و او د حاضرینو سره به یې خبري اتري کولې. د بذل المجهود تر خلاصېدو وروسته یې ځه وخت په تلاوت او ځه وخت د کتابو په مطالعه کي تیراوه په دغه وخت کي یې د بذل المجهود او وفاء الوفاء زیات مطالعه کاوه د روژې د میاشتي په عادت کي یې خاص توپیر نه و او پورتني نفلونه یې سر او کال کول البته د روژې په میاشت کي یې رکعتونه اوږده کول خو د بزرګانو په ځیر په روژه کي عبادت کول د هر سړی لپاره ګران کار دئ. حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله به د تراویح وروسته د سهار تر لمانځه پوري په نفلو بوخت و او د بېلو بېلو حافظانو ځخه به یې قرانکریم اورېدی. حضرت مولانا شاه عبدالرحیم رائپوري رحمه الله به د روژې په میاشت کي شپه او ورځ تلاوت کاوه ډاک به یې بند و یعني د چا لیکونه به یې نه منل او د هیچا سره یې لږ ملاقات هم نه کاوه یوازي د تراویح وروسته یې دوې پیالي ساده چای چیښلي په دغه وخت کي د ده خاص خادمان د ده حضور ته ورتلل د بزرګانو د عادتونو د بیان ځخه مقصد دا نه دئ چي یوازي دي سړي ځغلنده نظر پرې تېر کړي وریسي دي د تفریح الفاظ پسي وو ایي بلکي مقصد ځني دا دئ چي د توان سره سم عمل پرې وکړي او توان سره سم یې د کولو اهتمام وکړي. ځکه هره طریقه پر نورو باندي د خاصو امتیازاتو په وجه لوړه ده. کوم کسان چي د دنیا په لانجو کي ښکیل نه دي ځومره به ښه وي چي د یوولسو میاشتو د بې ځایه تېرېدو وروسته یوه میاشت قرباني ورکړي.

کوم کسان چي رسمي دنده د نهو بجو څخه تر څلورو بجو پوري لري ځومره به ښه وي چي تر نهو بجو پوري د روژې په میاشت کي په عبادت بوخت واوسي یا په تلاوت اخته وي دا نو څه ګران کار دئ لنډه دا چي د دفتر دباندي وختو کي دي د عبادت لپاره څه وخت وباسي او بزګران خو نه د چا نوکران دي او نه د رسمي وخت پابندي لري او نه د وخت د بدلېدو پروا لري دوی خو کولای سي چي په ناسته ناسته په مځکه کي تلاوت وکړي په همدې ډول تجارانو ته هم هیڅ تکلیف نسته چي په دغه میاشت کي د دوکان وخت یو څه کم کړي او یا لږ تر لږ په دوکان کي د تجارت تر څنګ تلاوت هم کوي ځکه د دې میاشتي د تلاوت سره خاص مناسبت دئ. هم دغه وجه ده چي اسماني کتابونه په دغه میاشت کي نازل سوي دي لکه قران کریم چي د روژې په میاشت کي پر یوه ځاي باندي د لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته نازل سو او بیا د دغه ځای څخه د اړتیا سره سم لږ، لږ د درویشتو کلونو په موده کي نازل سو د قران څخه علاوه و ابراهیم ؈ ته هم د روژې په اوله یا دریمه ورځ صحیفې ورکړل سوې. حضرت داود ؈ ته زبور پر دولسم یا اتلسم د روژې ورکړل سوی دئ. حضرت موسی ؈ ته توراة پر شپږم د روژې ورکړل سوی دئ حضرت عیسی ؈ ته انجیل پر دوولسم یا دیارلسم د روژې ورکړل سوی دئ همدا وجه ده چي د دې میاشتي د الله ﷻ د کلام سره خاص مناسبت دئ نو ځکه باید په دې میاشت کي ډیر تلاوت وسي او بزرګانو هم داسي عمل کړی دئ. حضرت جبرائیل ؈ به هر کال د روژې په میاشت کي نبي ؈ ته قرانکریم اوروی او په یو روایت کي راغلي دي چي نبي ؈ به ورته اوروی. علماوو د دې دواړو حدیثونو څخه دا را ایستلي چي یو د بله قرانکریم اورېدل مستحب کار دئ. لنډه دا چي ځومره چي د قرآن کریم د تلاوت اهتمام کولای سي کوه یې او کوم وخت چي د تلاوت څخه پاته سئ هغه هم مه ضایع کوئ ځکه نبي ﷺ د پورتني حدیث په پاي کي ویلي دي چي په دې میاشت کي د څلورو شیانو ډېروالی کوئ: کلمه طیبة، استغفار، د جنت غوښتل او د دوزخ څخه د پناه غوښتلو دعا کول نو ځومره وخت چي په لاس درسي په دغه څلورو شیانو یې لګول د ځان لپاره نېکبختي وګڼه. او هم دا د نبي ؈ د ارشاد درښښت دئ. په دې کي نو څه تکلیف دئ چي د دنیایي کار د بوختیا تر څنګ په ژبه درود شریف او یا کلمه طیبة وایي چي صبا درته لویه ګټه وي.

*مین گور ہار ہین ستمہائی روزگار*

*لیکن تماری یاد سی غافل نہین رہا*

يعني که څه هم زه په روزګار کي بند ومه خو ستا د ياد څخه غافل نه ومه.

تر پورتنيو خبرو وروسته نبيﷺ د روژې د مياشتي ځيني خصوصيات بيان کړل، لومړی دا چي دا د صبر مياشت ده په کار ده چي د لوږي تندي سره په ښه شوق او خوند سره ونيول سي نه دا چي نارې او سورې وي لکه د ځينو خلکو چي د ګرمۍ په روژه کي عادت دئ او که پيشلمي نا ببره ځني پاته سي نو د سهار څخه د روژې فرياد شروع سي دا نه دئ په کار بايد صبر پرې وسي. همدا ډول که په تراويح کي څه تکليف وي بايد وزغمل سي آفت او مصيبت ونه ګڼل سي. دا ښځي د تاسف خبره ده چي موږ د دنيا د کمزوري خبري لپاره خوړل، چښل، خوب او ارام پرېږدو او د دين لپاره هيڅ نه کوو په حقيقت کي پورتني کارونه د اللهﷻ د رضا په مقابل کي هيڅ نه دي.

ورپسې رسول اللهﷺ فرمايي چي دا د غمخوارۍ مياشت ده يعني د غريبانو او مسکينانو سره مرسته کوئ نو څوک چي د خپل روژه مات لپاره لس شيان برابروي نو دوه شيان مسکينانو ته ورکول په کار دي که نه نو اصلي خبره خو دا ده چي مسکين ته که تر ځان زيات شی ور نه کړي برابر خو بايد خامخا وي. غرض دا چي څومره چه دي همت وي د پيشلمي او روژه مات په خوراک کي د غريبانو برخه خامخا ورکوه.

اصحابان مبارکان د دې امت لپاره عملي نمونه ده دوی مبارکانو د دين د هري خبري لپاره عمل پرې ايښی دئ د دوی د هر نېک کار د تابعداري کولو لاره خلاصه ده. د قربانۍ او غمخوارۍ په لاره کي د بزرګانو تابعداري کول هم د لوی زړه د خاوندانو کار دئ په سوونو او زرګونو داسي واقعات دي چي په هغه د حيرانتيا پرته بل هيڅ نه سي کېدلای. د مثال په ډول يوه قصه ليکم: د يرموک په غزا کي ابو جهمؓ فرمايي چه زه د خپل اکا د زوی په لټه کي روان وم د اوبو يو لوښی مي د ځان سره واخيستي په دې فکر وم که چيري لږ ساه پکښې وه نو اوبه به يې کړم او مخ او لاس به يې ور پرېولم نابېره مي هغه وليدی چي زخمي پروت و، ما د اوبو ورته وويل د اکا زوی مي په اشاره د اوبو غوښتنه راڅخه وکړه په دغه وخت کي يوه بل زخمي آه وکړ د اکا زوی مي و هغه ته د اوبو ورکولو اشاره وکړه زه و هغه ته ورغلم پوښتنه مي ځني وکړه معلومه سوه چي هغه هم تږی دئ اوبه غواړي په دغه وخت کي د ده يوه بل ملګري د اوبو غوښتنه وکړه دغه زخمي ما ته اشاره وکړه چي هغه ته يې وروړه زه چي هغه ته ورسېدم د هغه مبارک روح وتلی و، زه چي بيرته دوهم ملګري ته راغلم دی هم په حق رسېدلی و، بيا د اکا زوی ته راغلم د اکا زوی مي هم په حق رسېدلی و. دا زموږ د مشرانو قرباني وه چي خپله تږي مړه سوه خو د خپل مسلمان ورور مخکي يې اوبه څښل خوښ نه کړل. رَضِيَ اللهُ

عَنْهُمْ وَرَضُوْاعَنْه آمين

روح البيان د سيوطي رحمه الله د جامع صغير او د سخاوي د مقاصد څخه د ابن عمر رضي الله عنه په روايت د رسول اللهﷺ څخه ارشاد رانقل کړی دئ چي نبيﷺ فرمايي: زما په امت کي به هر وخت پنځه سوه خاص بندګان وي او څلوېښت ابداله به وي کله چي د دوی څخه يو مړ سي نو دستي به يې پر ځای بل يو راځي. اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چي د دغه خاصو بندګانو خصوصي عمل څه شي دئ؟ رسول اللهﷺ وفرمايل : دوی به ظالمانو ته بخښنه کوي او د بد عملو سره به احسان کوي د الله جل جلاله په ورکړل سوي رزق کي به د خلګو سره مرسته کوي. په يو بل حديث کي راغلي دي چي رسول اللهﷺ فرمايي : څوک چي وږي ته ډوډۍ ورکړي، يا لوڅ سړي ته جامې ورکړي او يا مسافر ته د شپې تېرولو ځای ورکړي الله جل جلاله به يې د قيامت د سختيو څخه وژغوري. يحيی برمکي رحمه الله هره مېاشت و سفيان الثوري رحمه الله ته زر درهمه په خيرات کي ورکول. سفيان الثوري رحمه الله به پر سجده پرېوتی او دعا به يې وکړه چي اې الله جل جلاله يحيی برمکي زما ضرورتونه پوره کړل د ده د آخرت ضرورتونه پخپله مهربانۍ سره پوره کړې، کله چي يحيی برمکي رحمه الله وفات سو يو چا په خوب وليدی چي الله جل جلاله څه معامله درسره وکړه ؟ ده ورته وويل چي الله جل جلاله د سفيان الثوري رحمه الله د دعا په برکت بخښنه را ته وکړه. رسول اللهﷺ د حديث په اوږدو کي و بل روژاتي ته د روژه مات ورکولو فضيلت بيان کړی. په حديث کي راغلي دي چي څوک د حلالي ګټې څخه و روژاتي ته د روژه مات لپاره يو شی ورکړي نو د روژې په مياشت کي ملائکي ده ته رحمت لېږي او قدر په شپه به جبرائيل عليه السلام ورمصافحه (لاس په لاس) سي. د کوم چا سره چي جبرائيل عليه السلام مصافحه وکړي د هغه په زړه کي نرمي پيداسي او تر سترګو يې اوښکي بهېږي حماد بن سلمة رحمه الله به د ورځي و پنځوسو روژاتيانو ته روژه مات ورکاوه[1] .

بيا رسول اللهﷺ وفرمايل چي د روژې اوله برخه رحمت دئ، يعني دغه برخه د عامو مسلمانانو لپاره عمومي رحمت دئ بيا نو کوم چا چي د دې شکريه ادا کړه نو رحمت باندي زياتېږي ځکه الله جل جلاله فرمايي: لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيْدَنكُمْ. د دغه روژې د منځنۍ برخي څخه مغفرت شروع کېږي ځکه د دې مياشتي يوه برخه تېره سوېده نو د دې بدله او اکرام په مغفرت سره شروع کېږي او آخري حصه خو بيخي د اور څخه خلاصون دئ. په نورو ډېرو روايتونو کي هم د اور څخه د خلاصون زېری د روژې په مياشت کي راغلی دئ. د پورتني مضمون څخه

(۱)روح البيان

معلومه سوه چې د روژې میاشت درې برخې سوې ده: رحمت، مغفرت او د اور څخه خلاصون د عاجز بنده (مولانا زکریا صاحب) په آند د دغه درو برخو تر منځ توپیر دا دئ چې خلک پر درو برخو وېشل سوي دي یو هغه خلک دي چه هیڅ گناه نه لري د دوی لپاره د روژې د اول څخه رحمت شروع سي دوهم هغه خلک دي چې لږ گناه لري د دوی لپاره د لږ روژو نیولو څخه وروسته مغفرت شروع سي دریم هغه خلک دي چې ډېرې گناوې پر اوږو لري د دوی لپاره تر یو څه ډېرو روژو وروسته د اور څخه خلاصون راځي. کوم کسان چې د پیل څخه رحمت پرې شروع سوی دئ د هغه به نو څه پوښتنه کوي چې څومره لوړې مرتبې به یې وي چې د ډېرو گناهو والا د اور څخه خلاصېږي. والله اعلم وعلمه اتم.

د دې څخه وروسته نبيﷺ یوه بله خبره کړېده، هغه دا چې تاسو په دې میاشت کې پر خپلو نوکرانو باندې د کار کموالی او اساني کوئ ځکه هغه خو هم روژاتیان دي د کار په زیاتوالي کې پر هغوی هم تکلیف راځي په دې کې هیڅ تکلیف نسته، چې د روژې د میاشتې لپاره سړی عارضي نوکر ونیسي خو دا هغه وخت چې نوکر روژاتي وي او که روژاتي نه وي نو بیا پر ده باندې د روژې میاشت او بله میاشت هیڅ فرق نه لري او د هغه ظلم او بې غیرتۍ به نو څه بیان کوي چې دومره ظلم کوي چې خپله روژه نه نیسي او پر روژه داره نوکرانو باندې ظلم کوي هغه خوا ران که د لمانځه یا روژې په وجه سستي وکړي نو دی غصه پرې کوي الله ﷻ فرمايي : وسیعلم الذین ظلموا اي منقلب ینقلبون.

ژباړه: ژر دئ چې ظالمانو خلکو ته به معلومه سي چې څنګه د (غم ځای) ته لېږدول کېږي (چې مراد ځني دوزخ دئ). بیا نبيﷺ د څلورو شیانو د ډېروالي امر وکړي چې یو ځني کلمه طیبه ده. په حدیثونو کې دې ته غوره د ذکرونو ویل سوېده. مشکوة شریف د ابو سعید خدريؓ په روایت نقل کوي چې یو ځل حضرت موسیٰؑ الله ﷻ ته خواست وکړ، چې اې الله ﷻ ! ما ته یوه داسې دعا او ذکر وښیه چې زه په هغه سره تا ته دعا کوم او تا په یادوم الله ﷻ ورته وفرمایل : چې لا اله الا الله وایه. ده مبارک ورته وویل چې دا خو ستا ټوله بندګان وايي ما ته یوه خاصه دعا وښیه چې زه تا خاص په یادوم د الله ﷻ له خوا ورته وفرمایل سوه چې که چیرې زما پرته اووه اسمانونه او اباد وونکي یې (ملائکې) او اووه سره مځکې د ترازو په یوه پله کې کښېښودل سي او کلمة طیبة په بله پله کې کښېښودل سي نو بیا به هم د کلمې طیبې پله درنه سي. په یو حدیث کې راغلي دي چې که څوک په اخلاص سره کلمه طیبة ووايي نو دستي د اسمان اووه دروازې ورته خلاصې سي د ده و عرش ته د رسېدو لاره هیڅ بنده نه وي خو په دې شرط چې ویونکی د کبیره گناهو څخه پاک وي. د الله ﷻ عادت داسې

دئ چي په دنيا کي يې ډېر شيان پيدا کړي دي هر شی چي څومره اړتيا ورته ډېره وي په هغه پيمانه هغه شی هم ډېر وي لکه اوبه چي څومره ضرور شی دي په دغه اندازه ډېري او عامي هم دي او کيميا چي فضول او بېکاره شی ده نايابه هم ده.

هم دا ډول کلمه طيبه چي په زياتو حديثونو سره ثابته ده چي غوره د ذکرونو ده په دغه اندازه ډېره او عامه ده چي هيڅوک څني محرومه نه سي. بيا هم که څوک محرومه څني پاته سي نو دا د هغه بدبختي ده. لنډه دا چي د دې فضيلت په ډېرو حديثونو کي راغلی دئ چي د مختصر والي په وجه پاته سوی دئ. دوهم شی چي په پورته حديث کي يې د ډير والي امر سوی دئ استغفار دئ د استغفار هم ډېر فضيلتونه په حديثونو کي راغلي دي. په يو حديث کي راغلي دي چي څوک ډېر استغفار وايي الله ﷻ د تنګسيا په وخت کي لاره ورته پيدا کوي او د غم څخه يې خلاصوي او د داسي لاري څخه رزق کوي چي د ده به هيڅ فکر نه وي.

په يوه حديث کي راغلي دي چي بنده خو ګنهګار وي خو بهترين ګنهګار هغه څوک دئ چي پر ګناه باندي توبه وباسي په يوه حديث کي راغلي دي چي نژدې به دغه حديث راسي چي کوم څوک چي ګناه وکړي نو پر زړه يې تور ټکی پيدا سي کله چي توبه وباسي نو هغه ټکی ليري سي که نه نو پاته وي.

په آخر کي رسول الله ﷺ د دوو شيانو امر وکړ، چي د هغو شيانو پرته خلاصون نسته يو دا چي د دوزخ څخه به پنا غواړئ، دوهم دا چي د جنت غوښتنه به کوئ الله ﷻ دي زما او ستاسو نصيب وکړي.

## محمدي امت ته روژه کي پنځه شيان ورکړل سوي دي چي بل چاته نه وه ورکړل سوي

۲ : عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اعطيت امتي خمس خصال في رمضان لم تعطهن امة قبلهم خلوف فم الصائم اطيب عندالله من ريح المسک وتستغفرلهم الحيتان حتى يفطروا ويزين الله عز وجل كل يوم جنته ثم يقول يوشک عبادي الصالحون ان يلقوا عنهم

ژباړه: د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ چي نبي عليه السلام فرمايي: زما امت ته پنځه شيان په خصوصي ډول ورکړل سوي دي، چي پخوانيو امتونو ته نه دي ورکړل سوي لومړي دا چي د روژاتي د خولې بد بوی و الله ﷻ ته د مشکو تر خوشبويي بهتر دئ دوهم دا چي د درياب ماهيان و روژاتي ته د مغفرت دعا کوي دريم دا چي هره ورځ جنت ښايسته کړل کېږي او بيا الله ﷻ و جنت ته وفرمايي: نژدې دئ چي زما نيک بندګان به د دنيا تکليفونه وغورځوي او

المؤنه ويصبروا اليک وتصفد فيه مردة الشياطين فلا يخلصوا فيه الی ما کانوا يخلصون اليه في غيره ويغفرلهم في آخر ليله قيل يا رسول اللهﷺ! اهي ليلة القدر قال لا ولکن العامل انما يوفي اجره اذاقضي عمله(۱).

ستا لوري ته به راسي ځلورم دا چي د روژې په میاشت کي به سرکښه شیطانان وتړل سي هغه ناروا کارونو ته به رسیدګي نه سي کولای کوم چي د روژې پرته به یې کول. پنځم دا چي د روژې په آخره شپه به روژاتیانو ته مغفرت کېږي. اصحابو کرامو وپوښتل چي یا رسول اللهﷺ! دغه د مغفرت شپه د قدر شپه ده؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: چي یا بلکي قانون داسي دئ چي مزدور ته د مزدورۍ په آخره شپه مزدوري ورکول کېږي.

**فایده:** رسول اللهﷺ په پورتني حدیث کي پنځه داسي خاص انعامات ښودلي دي، چي نورو امتو ته نه دي ورکړل سوي یوازي دې امت ته ورکړل سوي دي. ارمان! چي زموږ سره د دې نعمت قدر او ارزښت وای. لومړی دا چي د روژاتي د خولې بد بوی چي د لوږي له امله پیدا کېږي د اللهﷻ په نزد د مشکو تر خوشبویۍ خوښ دئ. د حدیثو شرحه کوونکو په دې لفظ کي اته قوله رانقل کړي دي، چي ما د مؤطا په شرحه کي رانقل کړي دي خو زما په آند په دغه اتو قولو کي درې قوله قوي دي:

لومړی دا چي اللهﷻ به د دې بدبویۍ په ثواب او بدله کي د آخرت په ورځ داسي خوشبویي ورکړي چي د مشکو تر بوی به خوشبویه او دماغ تازه کوونکې وي. دا مطلب خو ښکاره دئ په دې کي خو ځه لیري والی هم نسته. د دې سره په درمنثور کي هم د دې وضاحت سته چي هم دا مطلب ترې مراد دئ. دوهم دا چي د قیامت په ورځ چي خلګ د قبرو ځخه راوزي د روژاتي تر خولې به داسي ښه بوی راوزي چي د مشکو تر بوی به ښه وي.

دریم دا چي زما په آند تر دواړو قولو ښه دئ هغه دا چي په دنیا کي د روژې د خولې بوی و اللهﷻ ته د مشکو تر بوی ښه دئ او دغه کار د زړه د میني پوري اړه لري یو ځوک چي پر چا عاشق وي نو د هغه بد بوی ده ته تر زرګونو خوشبوییو بهتر دئ.

*ای حافظ مسکین چه کنی مشک ختن را*

*از گیسوئ احمد بستان عطر عدن را*

اې حافظ مسکینه! د ختن مشک ځه کوې د احمد د زلفو عطر د عدن واخله.

---

(۱) رواه احمد والبزار والبيهقي ورواه ابوالشيخ بن حيان في کتاب الثواب الا ان عنده تستغفرلهم الملائکه بدل الحيتان کذا في الترغيب.

د کامل روژاتي مقصود و بادار ته نژدیکت دئ. روژه و الله ﷻ ته ډېر خوښ عبادت دئ ځکه الله ﷻ فرمايي د ټولو عبادتونو مزدوري ملائکي ورکوي خو د روژې مزدوري زه خپله ورکوم ځکه روژه خالص زما لپاره ده. ځینو عالمانو لیکلي دي چي د الله ﷻ د دې لفظ څخه مطلب چي (اجزئ به) دا دئ چي زه خپل ځان په مزدوري کي ورکوم د محبوب تر لاسته راوړلو ښه مزدوري نسته.

په یو حدیث کي راغلي دي چي د ټولو عبادتونو دروازه روژه ده. یعني په روژه سره زړه روښانه کېږي نو له امله یې و هر عبادت ته شوق پیدا کېږي. خو دا هغه وخت چي روژه روژه وي یعني یوازي وږی او سېدل روژه نه ده بلکي د روژې د ټولو ادابو رعایت به یې کړی وي چي د نهمي شمېرې حدیث په تفصیل کي به راسي. په دې ځاي کي یوه اړینه مسئله د یادوني وړ ده هغه دا چي د روژه لپاره ځینو امامانو د ماښام په وخت کي مسواک منعه کړی دئ د دې لپاره چي هغه بوی له منځه ولاړ نه سي خو د حنفیانو پر مذهب باندي مسواک هر وخت مستحب دئ، ځکه په مسواک سره د غاښو بد بویي له منځه ځي او کومه بد بویي چي د ماښام په وخت کي د روژاتي د خولې څخه پورته کېږي هغه د معدې د خالي والي په وجه دئ د غاښونو نه دئ. د حنفیانو دلیلونه پر خپل ځای باندي د فقهي او حدیثو په کتابونو کي موجود دي.

دوهم خصوصیت نبي ﷺ دا بیان کړی دئ چه ماهیان به ده ته د مغفرت دعا کوي یعني ډېري دعاوي به ورته کوي نوموړي مضمون په ډېرو روایتونو کي راغلی دئ په ځینو روایتونو کي راغلي دي چي ملائکي به د بخښني دعاوي ورته کوي. زما اکا یعني مولانا الیاس رحمه الله علیه وایي چي د ماهیانو خصوصیت په دې وجه ښکاره دئ ځکه چي الله ﷻ فرمايي: ان الذین آمنوا وعملوا الصلحت سیجعل لهم الرحمان ودا ط

ژباړه : بېشکه کوم کسان چي ایمان یې راوړی دئ او نېک عملونه کوي دوی ته الله ﷻ په (دنیا کي) محبوبیت ورکوي. په حدیث کي راغلي دي چي کله یو بنده د الله ﷻ خوښ وي نو جبرائیل علیه السلام ته وفرمايي چي زما فلانکی بنده خوښ دئ ته هم مینه ورسره کوه نو جبرائیل علیه السلام د هغه بنده سره محبت کوي او په اسمان کي اواز وکړي چي فلانکی بنده د الله ﷻ خوښ دئ تاسو هم محبت ورسره کوی نو ټول اسمان والا محبت ورسره کوي بیا د هغه کس لپاره په مځکه کي محبوبیت کښېښودل سي. دا یوه عامه قاعده ده چي د یو چا سره چي محبت کېږي نو د هغه سره شا وخوا اوسېدونکي خلګ هم محبت ورسره کوي خو د ده سره محبت دومره عام سي چي د دریاب حیوانان هم محبت ورسره کوي یعني په وچه او لنده کي د

ده محبوبیت وي او کله چي د دریاب ماهیان ده ته د مغفرت دعا کوي نو د ځنګله حیوانان خو بیخي دعا ورته کوي.

دریم خصوصیت چي نبيﷺ ښودلی دئ د جنت ښایسته کېدل دي دغه خبره هم په ډېرو روایتو کي راغلې ده په یوه روایت کي راغلي دي چي د کال د سر څخه د روژې د میاشتي لپاره د جنت ښایسته کېدل شروع سي. دا عمومي خبره ده څومره چي د یو چا لپاره د انتظام اهتمام کېږي نو په هغه اندازه د مخکي څخه انتظام نیول شروع کېږي د واده لپاره خو په میاشتو میاشتو انتظام کېدل شروع سي.

څلورم خصوصیت چي نبيﷺ ښودلي دئ د سرکښو شیطانانو بندېدل دي، د دې لپاره چي د ګناه زور کم سي. د روژې په میاشت کي د زیات رحمت او د عبادت د ډېروالي تقاضا دا وه چي شیطانانو د خلګو د غولولو لپاره زیات کوښښ کولای او خپل پوره زور یې وهلای د دې لپاره چي په خلګو ګناهونه وکړي خو د دې لیدلي سوي او ثابتي سوي خبري سره سره په عمومي ډول په دې میاشت کي ګناهونه کم کېږي ډېر شرابیان او کبابیان په دغه میاشت کي په خصوصیت سره شراب نه څښي دا ډول نور ګناهونه هم کم کېږي خو بیا هم څه نا څه ګناهونه خو کېږي مګر د دغه ګناهو په وجه په حدیث کي شک نه پیدا کېږي ځکه چي حدیث کي د سرکښه شیطانانو تړل راغلي دي که دغه ګناهونه د کوچنیو شیطانانو اثر وي نو بیا خبره ښکاره ده، البته په ځینو روایتو کي د عامو شیطانانو بندېدل هم راغلي دي خو په هغه ځای کي سرکښه شیطانان مراد دي ځکه ډېر وخت یو لفظ عام ذکر سي خو بل ځای بیا د هغه څرنګوالی په خاص لفظ سره وسي او که سرکښه شیطانان ځني مراد نه سي بلکي ټول شیطان ځني مراد سي بیا هم لیري خبره نه ده، ځکه یو خو دا چي شیطانان د ده سره ډېري میاشتي ملګری دئ هغه اثرات د ده سره ملګري وي زهر یې پکښې ایله کړي وي د ده نفس دومره ورسره بلد سوی وي او په ګناهونو عادت سوی وي چي د شیطان غیرحاضري بیخي نه محسوسوي خو دغه کار د هغه چا لپاره چي د روژې د میاشتي پرته نور هم ډېر ګناهونه کوي نو په روژه کي چي کوم ګناهونه کېږي هغه هم د دغي وجي څخه کېږي. دوهمه خبره دا ده چي نبيﷺ فرمایي: کوم څوک چي ګناه وکړي نو د ده پر زړه باندي تور ټکی پیدا سي که په ریښتیا توبه وباسي هغه ټکی ورک سي او که یې ونه باسي هغه ټکی پاته وي بیا چي دوهم واري ګناه وکړي بل ټکی یې پر زړه پیدا سي آن تر دې چي آخر یې د ډېرو ګناهو څخه زړه تک تور سي و همدې خبري ته اللهﷻ اشاره کړې ده او فرمایي : کلا بل ران علی قلوبهم. یعني د دوی زړونه زنګ وهلي سوه. په دغه وخت کي چي زړونه زنګ وهلي یا تک تور وي نو خپله د

ګناه و لورې ته متوجه کېږي. همدا وجه ده چې يو سړی په بېباکۍ سره يوه ګناه کوي کله چې بله ګناه مخ ته ورته راسي نو زړه يې نه غواړي د مثال په ډول يو سړی شراب څښي کله چې د خنزير غوښې د خوړلو لپاره ورته وړاندې سي نو د ده طبيعت نفرت ځني کوي حال دا چې د دواړو ګناه سره برابره ده او د شرابو سره چې عادت دئ نو په دلاورۍ يې خوري کوم څوک چې د ګناه سره عادت وي نو که شيطان هم ورسره نه وي بيا يې هم کوي.

خلاصه دا چې که په روژه کې د ټولو شيطانانو بنديدل مراد وي بيا هم په دې کې شک نسته چې ګناهونه به کېږي او که د سرکښو شيطانانو بنديدل مراد وي نو بيا خو بېخي په دې کې شک نسته چې څه نا څه ګناهونه به کېږي. زما په آند دغه وجه بهتره ده. هر څوک تجربه کولای سي چې د روژې په مياشت کې نېکۍ کول او د ګناهونو څخه ځان خلاصول دومره زور نه غواړي لکه په نورو مياشتو کې چې يې غواړي بلکې لږ همت کول هم بس دي حضرت مولانا شاه محمد اسحاق رحمه الله فرمايي چې دغه دواړه حديثونه د خلګو په اعتبار سره دي يعني دا چې د فاسقانو څخه لوی او سرکښه شيطانان تړل کېږي او د نيکانو څخه ټوله شيطانان تړل کېږي.

پنځم خصوصيت چې نبي عليه السلام فرمايلی دئ هغه دا دئ چې د روژې په آخره شپه به ټولو روژتيانو ته بخښنه کېږي. دغه مضمون په تېر حديث کې هم راغلی و. څرنګه چې د روژې په مياشت کې د قدر شپه سته اصحابو فکر وکړ، چې کېدلای سي چې دا به د قدر شپه وي خو رسول الله ﷺ وښودل چې د قدر شپه ځانته جلا شی ده دا يوازې د روژې د خلاصېدو انعام دئ.

## درې کسان به د الله جل جلاله د رحمت څخه ليرې وي

٣ : عن كعب بن عجرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ احضروا المنبر فحضرنا فلما ارتقى درجة قال آمين فلما ارتقي الدرجه الثانية قال آمين فلما ارتقى الدرجة الثالثه قال آمين فلما نزل قلنا يا رسول الله ﷺ! لقد

ژباړه: حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه وايي چې نبي ﷺ موږ ته وفرمايل چې منبر ته رانژدې سئ. نو موږ منبر ته رانژدې سوو. نبي ﷺ منبر ته وختی پر اوله ځينه چې يې پښه کښېښودل آمين يې وو وايه بيا چې يې پر دوهمه ځينه پښه کښېښودل آمين يې وو وايه بيا چې يې پر دريمه ځينه پښه کښېښوده آمين يې وو وايه کله. چې نبي ﷺ د منبر څخه راکښته موږ پوښتنه ځني وکړه چې يا رسول الله ﷺ ! نن موږ ستا څخه (د منبر ختلو په وخت کې) داسې څه واورېدل چې نور وخت مو نه وه

سمعنا منک اليوم شيئا ماكنانسمعه قال ان جبرائيل عرض لي بعد من ادرک رمضان فلم يغفرله قلت آمين فلمارقيت الثانية قال بعد من ذكرت عنده فلم يصل عليک قلت آمين فلما رقيت الثالثة قال بعد من ادرک ابويه الكبر عنده او احدهما فلم يدخلاه الجنة قلت آمين(۱).

اوريدلي؟ رسول اللهﷺ راته وويل چي جبرائيل علیه السلام زما مخته راغلی (ما چي د منبر پر اوله ځينه پښه کښېښوده) ده راته وويل چي هغه څوک دي هلاک وي چي د روژې مياشت راسي او ده ته مغفرت نه وسي ما ورته وويل آمين. کله چي ما پر دوهمه ځينه پښه کښېښوده جبرائيل علیه السلام راته وويل چي هغه سړی دي هلاک وي چي ستا نوم د ده په وړاندي ذکر سي او دی پر تا باندي درود ونه وايي ما ورته وويل آمين، کله چي ما پر دريمه ځينه باندي پښه کښېښوده جبرائيل علیه السلام را ته وويل چي هغه څوک دي هلاک وي چي مور او پلار دواړه او يا يو د دوی څخه د سپين ږيروالي په وخت کي ولري او دی په دوی باندي جنت ته داخل نه سي ما ورته وويل آمين.

**فايده** : په دې حديث کي جبرائيل علیه السلام درې ښراوي کړي دي او نبيﷺ آمين پر ويلی دئ. لومړی خو د جبرائيل علیه السلام ښراوي څه اسانه خبره نه ده بيا چي نبي علیه السلام آمين پر ويلی دئ نو څه حال به يې وي نو سختې يې ښکاره دي. الله جل جلاله دي پخپل فضل سره موږ ته د دې درو ښراوو څخه د ساتني توفيق راکړي او د دې بدو کارو څخه دي مو الله جل جلاله وساتي که نه نو بيا زموږ په هلاکېدو کي هيڅ شک نسته.

د درالمنثور په ځينو روايتو کي راغلي دي چي خپله جبرائيل علیه السلام و نبيﷺ ته وويل چي آمين ووايه د دې څخه نور زيات ټينګار معلومېږي.

لومړی: هغه څوک چي د روژې مياشت پرې تېره سي او د ده بخښنه ونه سي يعني د روژې د مياشتي په څير د خير او برکت وختونه په غفلت او ګناهونو سره تېر کړي حال دا چي د روژې په مياشت کي د مغفرت او د الله جل جلاله د رحمت باران اورېږي نو چي د دومره پراخ خير او برکت په وخت کي دئ د ګناهونو او غفلت په وجه د مغفرت څخه بې برخي سي نو بيا دی څه وخت مغفرت لاسته راوړي او د ده په هلاکېدو کي نو بيا څه شک دئ. که څوک د روژې په مياشت کي مغفرت غواړي نو ډول يې داسي دئ چي روژه او تراويح په پابندۍ سره کوي او د الله جل جلاله څخه ډېر – ډېر د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي او توبه وباسي.

---

(۱) رواه الحاكم و قال صحيح الاسناد كذا في الترغيب وقال السخاوي رواه ابن حبان في ثقاته وصححه والطبراني في الكبير والبخاري في برالوالدين له والبيهقي في شعب وغير هم ورجاله ثقاة وبسط طرقه وروي الترمذي عن ابي هريرة وقال ابن حجر طرقه كثير كما في المرقاة

دوهم : د هغه چا لپاره ښرا سوې ده چي په وړاندي يې د نبيﷺ مبارک نوم ذکر سي او دی درود شريف نه ووايي دغه مضمون په نورو روايتو کي هم راغلی دئ. په همدې وجه ځينو علماوو ويلي دي چه کله د نبيﷺ نوم مبارک ذکر سي نو درود ويل واجب دي.

د پورتني حديث پرته په نورو روايتو کي هم د هغه چا لپاره ډېري سزاګاني راغلي دي چي په وړاندي يې د نبيﷺ نوم ذکر سي او دی درود ونه وايي. په ځينو حديثو کي دغه کس د بخيلانو په ډله کي داخل بلل سوی دئ. همدا ډول بې وفا، د جنت د لاري هېرېدونکي آن تر دې چي په دوزخ کي داخل او بي دينه ورته ويل سوي دي او دا هم راغلي دي چي دغه کس به د نبيﷺ مخ ونه ويني. تحقيق کوونکو عالمانو که څه هم د دې حديثونو تأويل کړی دئ خو پر نبيﷺ باندي د درود پرېښودونکي چا لپاره نبيﷺ کوم ښکاره سختي بيان کړېده د دې زغمل ګران کار دئ ولي به نه وي ځکه چي د نبيﷺ احسانات د خپل امت لپاره تر دې هم زيات دي چي په ليکلو او ويلو کي نه راځي د دې څخه علاوه رسول اللهﷺ پر امت باندي دومره حقونه لري چي و درود نه ويونکي ته هر څومره سزاوي وويل سي ورسره مناسبي دي.

او درود شريف دومره فضائل لري چي د هغو څخه بې برخي کيدل ځانته بدبختي ده تر دې به نو لوی فضيلت چيري وي چي څوک پر نبيﷺ باندي يو وار درود شريف ووايي اللهﷻ پر هغه باندي لس واره رحمت نازلوي. د دې سره سره د ملائکو دعا، د ګناهونو بخښنه، د درجو لوړېدل، د احد د غره په څېر ثواب پيدا کول، شفاعت ورته واجبېدل او داسي نور هم د درود ويلو پايله ده هم دا ډول د اللهﷻ رحمت تر لاسه کول، د اللهﷻ د غصې څخه خلاصون، د قيامت د سختيو څخه خلاصون، د مرګ په وخت کي په جنت کي خپل ځان ليدل او داسي نور د درود شريف ويلو ځانګړي خصوصيتونه دي.

هم دا ډول په درود شريف ويلو سره مسکنت ليري کېږي د اللهﷻ او د رسولﷺ په دربار کي نژدېکت پيدا کېږي، پر دښمنانو باندي برلاسي پيدا کېږي، د زړه څخه نفاق او زنګ ليري کېږي د خلګو محبت ورسره پيدا کېږي. همدا ډول په ډېرو حديثونو کي د درود شريف نور فضائل هم راغلي دي. د فقهي شريفي عالمان په دې خبره په اتفاق دي چي په ټول عمر کي يو ځل عملاً درود شريف ويل واجب دئ او ځينو علماوو اختلاف کړی دئ، وايي چي د نبيﷺ د هر ځلي نامه ذکر کېدو سره درود شريف ويل واجب دي او ځينو بيا ويلي دي چي مستحب دي.

دريم : مور او پلار چي سړی لري او سپين ږيري وي دی يې دومره خدمت ونه کړي چي د جنت حقدار سي دغه کس ته هم جبرائيلعليه السلام ښرا کړې ده. په ډېرو حديثونو کي د مور او

پلار د حقوقو په اړه ټينګار سوی دئ. عالمانو ليکلي دي چي د مور او پلار اطاعت کول په روا کارو کي ضروري دئ او دا يې هم ويلي دي چي بې ادبي به نه ورسره کوي د کبر سلوک به نه ورسره کوي که څه هم مشرکان وي، خپل ږغ به تر هغو نه لوړوي، په نامه به يې نه بولي، په کار کي به تر دوی نه مخکي کېږي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به په نرمۍ سره ورته کوي که يې ونه مني د هدايت دعا به ورته کوي او ښه سلوک به ورسره کوي. لنډه دا چي بهترين عزت به د مور او پلار کوې په يو حديث کي راغلي دي چي بهترينه دروازه د جنت پلار دئ نو که دي زړه غواړي وې ساته او که دي زړه غواړي ضائع يې کړه. يو صحابي د نبيﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د مور او پلار حق څه شي دئ؟ رسول اللهﷺ ورته وويل : چي مور او پلار ستا جنت او دوزخ دئ يعني که دي راضي ساتلي وه جنت دئ او که دي ناراضه کړي وه دوزخ به ستا وي. په يو حديث کي راغلي دي چي د فرمانبردار زوی يو نظر و پلار ته د حج ثواب لري. په يو حديث کي راغلي دي چي الله ﷻ د شرک پرته نور ټول ګناهونه که يې خوښه سوه معافوي يې خو د مور او پلار نافرمانه زوی ته تر مرګ مخکي تاوان رسوي.

يوه صحابي نبيﷺ ته وويل: چي زه و جهاد ته د تلو اراده لرم. رسول اللهﷺ ورته وويل چي مور لرې؟ صحابي ورته وويل: هو رسول ﷺ ورته وويل چي ورسه د هغې خدمت وکړه جنت د مور تر پښو لاندي دئ. په يو حديث کي راغلي دي چي د الله ﷻ رضا د پلار په رضا کي ده او د الله ﷻ ناراضي د پلار په ناراضي کي ده. هم دا ډول نور هم ډېر روايتونه د مور او پلار د حقوقو په اړه راغلي دي.

کوم خلګ چي د مور او پلار نافرمانه پاته سوي دي او اوس يې مور او پلار مړه سوي دي د دوی لپاره اوس هم لاره سته ځکه په يوه حديث کي راغلي دي، چي نبيﷺ فرمايي: که د چا پلار په داسي حالت کي مړ وي چي د ده څخه ناراضه و نو د پلار لپاره دي ډېره دعا او استغفار وايي په فرمانبرداره زامنو کي به حساب سي. په يو حديث کي راغلي دي چي بهترينه نېکي د پلار تر وفات وروسته د هغه د دوستانو سره ښه سلوک دئ.

## د مسلمانانو په روژه نیولو سره الله ﷻ پر ملائکو باندي فخر کوي

٤ : عن عبادة بن صامت ﷺ ان رسول الله قال يوما وحضرنا رمضان اتاكم رمضان شهربركة يغشكم الله فيه فينزل الرحمة ويحط الخطايا ويستجيب فيه الدعا ينظر الله تعالى الي تنافسكم فيه ويباهي بكم ملئكته فاروا الله من انفسكم خيرا فان الشقي من حرم فيه رحمة الله عزوجل(۱).

ژباړه: عبادة بن صامت ﷺ فرمايي : يوه ورځ نبي ﷺ د روژې مياشتي ته نژدې وفرمايل: تاسو ته د روژې مياشت راغله ډېره د برکت مياشت ده، په دې مياشت کي الله ﷻ ستاسو و لوري ته متوجه کېږي، رحمت نازلوي، ستاسو دعاوي قبلوي، ستاسو ګناهونه بخښي، ستاسو تنافس سيالۍ ته ګوري او پر ملائکو باندي فخر کوي. نو تاسو خپله ښکي د الله ﷻ په وړاندي وښاياست. بدبخته هغه څوک دئ چي په دې مياشت کي هم د الله ﷻ د رحمت څخه محروم سي.

**فايده** : تنافس و دې ته ويل کېږي چي په ښکو کارو کي يو د بل سره سيالي وکړي او هر يو د دې کوښښ کوي چي تر هغه بل زيات د خير کار وکړي او خپل فخر وښيي، د فخر دعوه کوونکي دي راسي خپل جوهر دي وښيي د فخر خبره نه ده بلکي د نعمت د شکريې خبره ده زه که څه هم د خپل نااهليت په وجه څه نه سم کولای خو د کور يوه ښځه ووينم چي د دې کار ډېر اهتمام کوي زه ډېر خوشحاله سم د کور د کارونو سره بيا هم د ورځي پنځلس شل سپاري د ورځي تلاوت کوي الله ﷻ دي يې پخپل فضل سره قبول کړي او د زيات عبادت توفيق دي ورکړي.

## د هر روژاتي يوه دعا په شپه اوورځ کي قبلېږي

٥ : عن ابي سعيدخدري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان لله تبارک تعالى عتقاء في كل يوم وليلة يعني في رمضان وان لكل مسلم في كل يوم

ژباړه : حضرت ابي سعيد خدري ﷺ فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د روژې په مياشت کي هره ورځ او شپه کي د الله ﷻ د لوري څخه د دوزخ څخه بنديان پرېښودل کېږي او هر مسلمان ته په دې مياشت کي په هره ورځ او

(۱) رواه الطبراني ورواته ثقاة الا ان محمد بن قيس لا يحضرني فيه جرح ولا تعديل كذافي الترغيب.

وليلة دعوة مستجابة(۱). شپه کې يوه دعا قبلېږي.

**فايده** : په ډېرو روايتو کې د روژاتي دعا قبلېدل راغلي دي په ځينو روايتو کې راغلي دي چې د روژه مات په وخت کې دعا قبلېږي خو زموږ خلګ د روژه مات په وخت کې پر خوراک داسي پرېوزي چې دعا څه کوي بلکې د روژه مات دعا لا هم راڅخه هېره سي. د روژه مات مشهوره دعا دا ده:

اللهم لک صمت وبک آمنت وعليک توکلت وعلى رزقک افطرت.

ژباړه: اې خدايه! زه ستا لپاره روژه نيسم پر تا ايمان لرم او پر تا باندي توکل لرم. د حديثو په کتابو کې دا دعا لنډه راغلي ده. حضرت عبدالله بن عمروبن العاص‌ﷺ به د روژه مات په وخت کې دا دعا ويل : اللهم اني اسئلک برحمتک التي وسعت کل شيئ ان تغفرلي.

ژباړه : اې الله ! ستا د رحمت په صدقه کې هر شی شامل دئ زه ستا څخه بخښنه غواړم په ځينو کتابو کې د نبي ﷺ څخه دا دعا رانقل سوېده: يا واسع الفضل اغفرلي. ترجمه : اې د لوی فضل خاونده ! ما ته مغفرت وکړې. په ځينو روايتو کې نوري دعاوي رانقل سوي دي خو د يوې دعا خاصوالی نسته دا دعا د قبلېدو وخت دئ هره دعا چه دي زړه وي کوه يې خو کله چې دعا کوي ما ګنهګار بنده مه هېروه ځکه چې سوال ګر يم سوال ګر حق لري.

چشمہ فیض سی اگر ایک اشارہ ہوجائی

لطف ہو آپ کا اور کام ہمارا ہوجائی

ژباړه : د فيض د چيني څخه که يوه اشاره وسي مهرباني به ستا وي او کار به زموږ وسي.

## د درو کسانو دعا الله ﷻ نه ردوي بلکې قبلوي يې

۶ :عن ابي هريرة‌ﷺ قال قال رسول الله‌ﷺ ثلثة لا ترد دعو تهم الصائم حتى يفطر والامام العادل و دعوة المظلوم يرفعها الله فوق الغمام ويفتح لها ابواب السمآء ويقول الرب

ژباړه: ابو هريرة‌ﷺ فرمايي چې نبي‌ﷺ فرمايلي دي : درې کسان دي چې الله‌ﷻ يې دعا نه ردوي روژاتي چې د روژه مات په وخت کې دعا وکړي، دوهم عادل پاچا دئ دريم مظلوم دئ چې الله‌ﷻ يې دعا تر وريځو پورته کړي د اسمان دروازې ورته خلاصي سي او الله‌ﷻ ورته ووايي

(۱) رواه البزار كذا في الترغيب

وعزتي لا نصرنک ولو بعد حين[١] . چې زما دې پخپل عزت سره قسم وي چې زه به ستا مرسته کوم که څه هم تر يو وخت وروسته وي.

**فايده:** درمنثور د عائشې ﷺ په روايت نقل کړی دئ چې کله به روژه راغله د نبي ﷺ رنګ به بدل سو په لمانځه کې به يې ډېروالی کاوه، دعا به يې په عاجزۍ سره کول وېره به پرې غالبه سوه. په دوهم روايت کې راغلي دي چې د روژې د مياشتې تر پايه پوري به بسترې ته نه راتلی. په يوه حديث کې راغلي دي چې د روژې په مياشت کې الله ﷻ و عرش پورته کوونکو ملائکو ته وايي چې خپل عبادتونه پرېږدئ د روژاتيانو پر دعاوو باندې آمين واياست. په ډېرو روايتو کې په روژه کې د دعا قبلېدلو خاص اهميت بيان سوی دئ. کله چې الله ﷻ وعده وکړې او د هغه د رښتيني رسول ﷺ څخه رانقل سې نو په پوره کېدو کې يې هيڅ شک نسته. ځيني خلګ د يوه خاص غرض لپاره دعا کوي او د ده غرض پوره نه سي نو د دې دا معنی نه ده چې دعا يې نه سوه قبوله بلکې د دعا په معنی ځان پوه کول په کار دي.

رسول الله ﷺ فرمايي: کله چې مسلمان دعا وکړي په دې شرط چې د خپلوی پرېښودو يا د ګناه کولو دعا نه وي نو الله ﷻ يو د درو شيانو څخه ورکوي يا پخپله هغه شی ورته رسېږي، يا يې په بدل کې د يوه شره څخه خلاص سي او يا يې په بدله کې د ده لپاره په آخرت کې ثواب وليکل سي. په يو حديث کې راغلي دي چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ يو بنده راوغواړي او ورته و به وايي چې ما تا ته د دعا کولو امر کړی و او قبلولو وعده مې درکړې وه ايا تا ما ته دعا وکړه ؟ بنده به ورته ووايي چې هو ماکړې وه الله ﷻ به ورته ووايي چه تا هيڅ دعا نه ده کړې چه ما نه وي قبوله کړې، تا فلانۍ دعا غوښتې وه ما فلانی تکليف درڅخه ليري کړ، ستا هغه دعا مې قبوله کړه او د فلاني تکليف دعا دې غوښتې وه د هغې دعا اثر دې په دنيا کې نه وليدی په بدله کې مې دغه ثواب په آخرت کې درکړ. نبي ﷺ وفرمايل چې بنده ته به ټولې دعاوې وریاد کړي او بدله به يې په دنيا او يا په آخرت کې وروښودل سي. بنده چې په آخرت کې د دعا د بدلې ثوابونه ويني نو ووايي چې کاشکې په دنيا کې زما يوه دعا هم نه وای قبوله سوې د ټولو دعاوو بدلې دلته په آخرت کې راکړل سوي وای. لنډه دا چې دعا ډېر مهم شی دئ د دعا څخه غافله کېدل د لوی تاوان خبره ده. که په ښکاره د دعا قبلېدو نښې ونه ويني نو فکر دې نه خرابوي. د دې رسالې په پای کې يو اوږد حديث راروان دئ د هغه حديث څخه معلومېږي چې الله ﷻ د بنده مصلحتونو ته نظر کوي کوم

(١) رواه احمد في حديث والترمذي وحسنه وابن خزيمه وابن حبان في صحيحهما كذا في الترغيب.

شی چې د بنده لپاره خیر وي هغه ورکوي او کوم شی چه ورته خیر نه وي هغه نه ورکوي دا هم د اللهﷻ لوی احسان دئ چې موږ یو شی غواړو او موږ نه پوهېږو چې هغه شی زموږ لپاره تاوان دئ نو اللهﷻ هغه شی موږ ته نه راکوي او کوم شی چې زموږ لپاره خیر وي هغه شی راکوي. یوه اړینه خبره د یادوني وړ ده چې ډېر نارینه یا ښځې د درد په حالت کې اولادو ته ښراوې کوي او حال دا چې د اللهﷻ په دربار کې ځینې داسې وختونه سته چې په هغه کې هره غوښتنه قبلېږي نو کله چې یې اولادو ته غم، مرګ او یا بل تکلیف ورسېږي بیا نو ژاړي او دا یې په فکر کې نه راځي چې دا د خپل لاس څخه ورته پېښ دئ، رسول اللهﷺ فرمايي: تاسو خپلو اولادو او خادمانو ته ښراوې مه کوئ داسې نه چې ستاسو ښراوې په داسې وخت کې وسي چې د قبلېدو وخت وي په ځانګړې توګه د روژې میاشت چې ډېره مهمه ده د دعا په قبلېدو کې په داسې وختو کې بیخې د ښراوو څخه ځانونه وژغورئ. حضرت عمرؓ د رسول اللهﷺ څخه نقل کوي چې د روژې په میاشت کې د اللهﷻ یادوونکي خلګ بخښل کېږي او نه یادوونکي نامراده پاته کېږي. ترغیب نومي کتاب د ابن مسعودؓ په روایت یو حدیث رانقل کړی دئ چې د روژې په میاشت کې هره ورځ یو اواز کوونکی ږغ کوي : اې د خیر لټوونکې ! متوجه سه او رامخکې سه اې د بدی غوښتونکې! بس کړه سترګې وغوړوه. بیا دغه ملائکه وايي : څوک د بخښې غوښتونکی سته چه بخښه یې وسي؟ څوک توبه ایستونکی سته چې توبه یې قبوله سي؟ څوک دعا کوونکی سته چې دعا یې قبوله سي؟ څوک غوښتونکی سته چې سوال یې قبول سي.

د یادوني وړ ده چې د دعا د قبلېدو لپاره ځینې شرطونه سته چې د نه موجودیت په صورت کې یې ډېر وخت دعا نه قبلېږي یو له دغو څخه حرام خوراک نه کول دي په دغه وخت کې هم دعا نه قبلېږي چې خوراک یې حرام وي ځکه رسول اللهﷺ فرمايي: ډېر وخت یو بدحاله د اللهﷻ و لوري ته لاسونه پورته کړي او وايي: اې ربه ! اې ربه ! خو د ده خوراک حرام وي چیښاک یې حرام وي او جامه یې حرامه وي په داسې وخت کې نو د ده دعا چیرې قبلېږي.

د تاریخ کتابونو لیکلي دي چې په کوفه کې یوه ډله وه چې دعا یې قبلېدل هر ظالم چې به پر دوی باندې مقرر سو دوی به ښراوې ورته کولې هغه به هلاک سو کله چې حجاج پر دوی باندې مقرر سو نو یوه مېلمستیا یې جوړه کړه دوی ته یې خاصه بلنه ورکړه دوی هم پکښې شریک سوه کله چې دوی ډوډۍ وخوړه حجاج وویل چې زه اوس د دوی د ښراوو څخه وساتل سوم. اوس نو زموږ د زمانې په روزیو باندې نظر اچول په کار دي چې د سود کولو د لارې پیدا کولو لپاره څومره هڅې رواني دي رسمي دندې لرونکي رشوت اخلي او تجاران

دوکې کوي.

## پر پېشلمي کوونکو باندي د الله ﷻ رحم وي

۷ : عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ان الله وملائكته يصلون على المتسحرين(۱).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: الله ﷻ او ملائکي يې پر پېشلمي کوونکو باندي درود وايي.

**فايده:** د الله ﷻ څومره لوی احسان دئ چي د روژې د نيولو مخکي خوراک چي پېشلمي ورته وايي الله ﷻ ثواب باندي ورکوي په ډېرو حديثونو کي د پېشلمي فضيلت راغلی دئ. علامه عيني رحمه الله د اوولس اصحابو څخه د پېشلمي پر فضيلت باندي حديثونه رانقل کړي دي او د پېشلمي پر مستحب بللو باندي يې د عالمانو اتفاق رانقل کړی دئ. ډېر خلک د سستيا له وجي د دې ثواب څخه بې برخي سي او ډېر خلک د تراويح وروسته خوراک کوي بيا بيده سي د دې ثواب څخه بې برخي سي.

په عربي ژبه کي پېشلمي ته سحر وايي سحر په لغت کي هغه خوراک ته ويل کېږي چي سهار ته نژدې وي ځينو ويلي دي چي د پېشلمي وخت د نيمي شپې څخه شروع کېږي(۱).

صاحب کشاف بيا د شپې ورستۍ شپږمه برخه ښودلې ده يعني شپه چي پر شپږو برخو ووېشې وروستۍ شپږمه برخه د پېشلمي وخت دئ د مثال په ډول که د لمر لوېدو څخه تر سپېدو پوري دوولس ساعته وخت وي نو آخري دوه ساعته د پېشلمي وخت دئ خو په دغه کي هم آخري وخت بهتر دئ داسي آخري وخت نه چي په روژه کي شک پيدا سي (نو د پورتنۍ خبري په نظر کي نيولو سره هغه سړی د پېشلمي ثواب لاسته نه سي راوړلای چي د تراويح وروسته دستي خوراک وکړي بيا بيده سي) د پېشلمي ډېر فضايل په حديثو کي راغلي دي.

رسول الله ﷺ فرمايي: زموږ او د يهوديانو او د نصاراوو تر منځ فرق په روژه کي په پېشلمي سره دئ. يعني موږ پېشلمی کوو دوی يې نه کوي. په يو حديث کي راغلي دي چي تاسو پېشلمی کوئ په پېشلمي کي برکت دی.

په بل حديث کي راغلي دي چي په درو شيانو کي برکت دئ:

۱. جماعت ، ۲. ښوروا او ۳. پېشلمي کي. په دې ځای کي د جماعت څخه عامه معنی

---

(۱) رواه الطبراني في الاوسط وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب.

(۱)مرقاة

مراد ده په لمانځه کي وي او که داغسي د مسلمان سره يو ځای سي د اللهﷻ مرسته د دوی سره وي.

ښوروا دې ته وايي چي غوښي په اوبو کي پخې کړي او په هغه اوبو کي بيا ډوډۍ وره کړي. دريم پېشلمي دئ. نبيﷺ چي به کله يو صحابي ته د پېشلمي لپاره بلنه ورکول نو ورته ويل به يې چي راسه د برکت خوراک وکړه.

په يو حديث کي راغلي دي چي د پېشلمي په خوراک سره پر روژه باندي قوت حاصل کړئ او د غرمې په خوب سره په آخره شپه کي د پورته کېدو لپاره قوت لاسته راوړئ. حضرت عبدالله بن حارث ﷺ د يو صحابي څخه نقل کړي دئ چي زه د رسول اللهﷺ حضور ته په داسي وخت کي ورغلم چي ده پېشلمی کاوه نبيﷺ وفرمايل پېشلمی کوئ دا د برکت شی دئ چي اللهﷻ تاسو ته درکړی دئ. په ډېرو حديثونو کي د رسول اللهﷺ څخه د پېشلمي په اړه ترغيب (هڅونه) راغلی دئ آن تر دې چي په يو حديث کي راغلي دي چي تاسو پېشلمی کوئ که څه هم يوه خرما وي او يا يو ګيلاس اوبه چيښل وي له همدې وجي څخه د روژاتي لپاره د چا پر چم هم خدای او هم خرما ده يعني هم د بدن راحت دئ او هم ثواب دئ خو په دې کي يوه خبره ضروري ده هغه دا چي په پېشلمي کولو کي منځنی حالت په کار دئ يعني نه به دومره لږ خوراک کوي چي د عبادت کولو توانايي نه سي ورته پاته او نه به دومره ډېر خوراک کوي چي ټوله ورځ کهاله او دروند وي. ځکه دا خبره و دې ته اشاره ده چي که څه هم يوه خرما او يا يو ګيلاس اوبه وي همدا ډول بيا په ډېرو حديثو کي د ډېر خوراک څخه منعه هم راغلې ده. حافظ ابن حجر د بخاري په شرحه کي ليکلي دي چي د پېشلمي ډېر برکتونه دي لکه د سنتو تابعداري او د اهل کتابو څخه مخالفت چي موږ ته په کار دئ ځکه موږ ته د دوی څخه د مخالفت کولو امر سوی دئ.

همدا ډول پر عبادتونو باندي برلاسي د عبادتونو سره د ميني زياتوالی. د دې تر څنګ د زياتي لوږي څخه زيات وخت بد اخلاقي پيدا کېږي د دې څخه د ساتلو لاره دا ده که يو اړ سوال ګر درته راسي مرسته يې کوه او د مسکين همسايه مرسته کوه. همدا ډول په دغه وخت کي په خصوصي ډول سره دعا قبلېږي د پېشلمي په برکت دعا کول نصيب کېږي، د ذکر کولو توفيق هم پيدا کېږي او داسي نوري ګټې هم پکښې سته.

ابن دقيق العيد رحمه الله فرمايي چي صوفيانو په پېشلمي کولو کي بحث کړی دئ دوی وايي چي پېشلمی د روژې د مقصد څخه مخالفت دئ ځکه د روژې څخه مقصد د نفس او شهوت ماتوالی دئ د پېشلمي په کولو سره دغه مقصد لاسته نه راځي نو صحيح خبره داده

چې دومره خوراک کول نه دئ پکار چې دغه مقصد بيخي فوت سي. خو زما په ناقص فکر په دې کي د پرېکړي خبره داده چې په پيشلمي او روژه مات کي اصولي شی د خوراک کموالی دی خو د ضرورتونو په وخت کي په دې کي بدلېدل راتلای سي مثلاً که طالب العلمان (زده کونکي ) خوراک کم کړي نو د روژې مقصد به يې لاسته راوړی وي خو ددين زده کړه چې زيات اهميت لري هغه به ځني پاته وي نو ددوی لپاره لږ خوراک نه دی پکار بلکي مناسب خوراک په کار دئ همدا ډول ذکر کونکي خلگ که خوراک کم کړي نو ذکر ځني پاتيږي او ځوک چې هيڅ ډول بوختيا نه لري نو دده لپاره لږ خوراک په کار دئ.

رسول اللهﷺ يو وار جهاد ته تشريف وړی نو اعلان يې وکړ، چې په سفر کي روژه نيول نيکي نه ده حال دا چې د روژې د مياشتي روژې وي خو دلته د روژې د جهاد سره مقابله راغلې وه. که چيري يو ديني کار تر روژې مهم وي او په دغه کار کي سستي نه راځي نو په دغه وخت کي د خوراک کموالي مناسب دئ.

په شرح اقناع کي علامه شعرانيرحمة الله عليه ليکلي دي چې موږ پر دې وعده وکړه چې په ماړه نس به ډوډی نه خورو دروژې په مياشت کي به يې بيخي نه خورو ښه خبره داده چې دروژې په مياشت کي د نورو مياشتو په پرتله خوراک کم کړئ ځکه چې ځوک د روژې په مياشت کي په پيشلمي او روژمات ډيره ډوډی وخوري دده به څه روژه وي . عالمانو ويلي دي چې ځوک د روژې په مياشت کي د لوږي عادت پيدا کړي نو د راتلونکي کال تر روژې پوري به د شيطانانو د حملو څخه ساتلي وي. د نورو علماو څخه هم په دې اړه سختي نقل سوې ده په شرح احيآء کي د عوارف نومي کتاب څخه نقل سوی دئ چې سهل بن عبدالله تستريرحمة الله عليه به د روژې په مياشت کي په پنځلسو ورځو کي يو وار خوراک کاوه د روژې په مياشت کي به يې يوه ګوله خوراک کاوه ،دسنتو د تابعداری په موخه به يې په ساده اوبو روژه ماتول .

حضرت جنيد بغداديرحمة الله عليه به تل روژې نيولې که به ځيني نيکان خلگ ورته راغلل نو د هغوئ په وجه به يې روژه ماته کړه او ويل به يې دداسي نيکانو سره خوراک کول تر روژې نيولو کم نه دئ. نور هم د بزرګانو ډيري قصې ددې شاهدي ورکوي چې دوئ به په لږ خوراک کولو سره د خپل نفس تربيه کول خو شرط دادئ چې په دغه کم خوراک سره به ددين نورو مهمو کارو ته تاوان نه رسيږي .

## ډېر وخت دروژاتي روژه هيڅ فايده نه لري

۸ : عن ابي هريرةﷺ قال قال رسول اللهﷺ رب الصائم ليس له من صيامه الا الجوع ورب قائم ليس له من قيامه الا السهر.(۱)

ژباړه : رسول اللهﷺ فرمايي : ډېر وخت يو روژه نيونکی وي خو د لوږي پرته نور څه په لاس نه ورځي او ډېر وخت د شپې عبادت کونکی وي خو د شپې روڼولو پرته نور څه په لاس نه ورځي .

**فايده :** عالمانو د پورتني حديث په شرحه کي څو ويناوي کړي دي .

لومړي : دا چي څوک ټوله ورځ روژه ونيسي ماښام يې په حرام مال ماته کړي نو د روژې تر ثواب يې د حرام خوړلو گناه ډيره سي نو د لوږي پرته ده ته هيڅ ثواب نه پاتيږي .

دوهم: دا چي د دغه سړي څخه هغه څوک مراد دئ چي روژه نيسي بيا په غيبت اخته وي.

دريم : قول دا دئ چي دغه کس هغه څوک دئ چي په روژه کي ځان د گناه څخه نه ساتي . د نبيﷺ جامع قول دئ چي ټولي ويناوي پکښي داخلي دي او داسي نوري ويناوي هم پکښي داخلي دي . همدا ډول هغه څوک چي ټوله شپه په عبادت روڼه کړي مگر لږ غيبت وکړي يا بله بي عقلي وکړي لکه د سهار لمونځ چي قضا کړي او داسي نور دده شپه روڼول هيڅ گټه نه لري.

## روژه دمسلمان لپاره ډال دی ترڅو چي څيري يې نه کړي

۹ : عن عبيدة قال سمعت رسول اللهﷺ يقول الصيام جنة مالم يخرقها. (۲)

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمايي : روژه د روژاتي لپاره سپر (ډال) دئ تر څو چي څيري نسي.

**فايده** :ـ د سپر ( ډال ) څخه مطلب دا دئ چي لکه څرنگه چي انسان په ډال سره د ځان حفاظت کوي په دغه ډول روژاتي هم په روژه سره د خپل ځان حفاظت د دښمن څخه يعني د شيطان څخه کوي په يوه حديث کي راغلي دي چي روژه د اللهﷻ د عذاب څخه حفاظت دئ. په

---

(۱) رواه ابن ماجة واللفظ له والنسائي وابن خزيمة في صحيحه والحاكم وقال صحيح على شرط البخاري ذكر لفظهما المنذري في الترغيب بمعناه

(۲) رواه النسائي باسنادحسن وابن ماجة وابن خزيمة والحاكم وصححه على شرط البخاري والفاظهم مختلفة حكاها المنذري في الترغيب

بل روایت کې راغلي دي چې روژه د دوزخ څخه حفاظت دئ.

په یو حدیث کې راغلي دي چې د رسول اللهﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې روژه په څشي شکېږي ؟ رسول اللهﷺ وفرمایل : په دروغو او په غیبت شکیږي. ددې دوو روایتو تر څنګ په نورو زیاتو روایتو کې هم راغلي دي چې د دغسي کارو څخه ځان ساتل ضروري دئ .

ګویا د روژې ضائع کېدل ورته ویل سوي دي . زموږ په زمانه کې د روژې لنډول دیوه او بل خبري شروع کول مشغله ګرځول سوې ده. د ځینو علماو په آند په دروغو او غیبت سره روژه ماتیږي یعنې لکه څرنګه چې په خوړلو او چیښلو سره روژه ماتیږي په دغه ډول په دروغو او غیبت سره هم روژه ماتیږي.

ځینو علماوو بیا ویلي دي چې روژه نه په ماتیږي خو د روژې برکتونه د ټولو په اتفاق سره له منځه په ځي .عالمانو د روژاتي لپاره شپږ ادبونه لیکلي دي چې د روژاتي لپاره یې اهتمام ضروري دئ.

لومړي: دا چې د نظر حفاظت به کوي چې بې ځایه یې نظر ونه لګیږي آن تر دې چې خپلي بي بي ته به هم د شهوت په سترګه نه ګوري پردۍ ښځه خو لا څه کوي . همدا ډول د بې ګټو شیانو وکولو او ناجائزه لوبو ته به نه ګوري. رسول اللهﷺ فرمایي چې نظر د شیطان د غشو څخه یو غشی دئ څوک د اللهﷻ د ویري له وجهي ځان ځني وساتي اللهﷻ به داسي ایمان ورنصیب کړي چې خوند به یې په زړه کي محسوسوي صوفیانو بې ځایه کتل داسي تعریف کړي دي چې هر کار چې زړه د اللهﷻ د لوري څخه بل لوري ته مشغولوي .

دوهم : دژبې حفاظت دئ دروغ ویل ، چغلي کول، بې ځایه مناقشه کول ، غیبت ، بده وینا او داسي نور ټوله په دې کي داخل دي چې ژبه به سړي ځني ساتي.

د بخاري شریف په یو روایت کي دي چې روژه د روژاتي لپاره ډال دئ په همدې وجه روژاتي لره پکار ده چې ژبه د هر ډول غلطۍ څخه وساتي لکه په چا پوري ټوکي کول ، دروغ ویل ، مسخري کول او داسي نور که څوک جګړه ورسره کوي دئ به ورته وو ایي چې زما روژه ده که هغه د پوهي څښتن و او که نا پوه و نو په زړه کي دي وو ایي چې ته خو روژاتي یې دداسي بې عقل جواب ستا لپاره مناسب نه دئ. د ښکنځلو ، غیبت او دروغو څخه دي بیخي ځان وساتي ځکه د ځینو علماوو په آند بیخي روژه په ماتیږي لکه مخکي چې تیره سوه.

د رسول اللهﷺ په زمانه کي دوو ښځو روژه نیول داسي لوږ ورته پیښه سوه چې بیخي یې نه سوای زغملای آخر مرګ ته نژدې سوې اصحابو رضي الله عنهم د رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه

رسول اللهﷺ دوئ ته یوه پیاله ولیږدول او ورته وې ویل چې په دې کې دي قې ووهي . اصحابوﷺ چې پیاله راوړه دوی قی پکښې وواهه دوی په قی کې د غوښو کوچنۍ کوچنۍ ټوټې وې او تازه خوړل سوي وینې وې خلګ ورته حیران سوه رسول اللهﷺ ورته وفرمایل چې دوی په حلاله روزي روژه ونیول خو په حرام شي یې مات کړه یعنې غیبت یې وکړی . ددې حدیث څخه یوه بله خبره هم معلومیږي هغه دا چې د غیبت کولو سره روژه ډیره اوږده معلویږي ځکه پر هغه ښځو باندي دومره اوږده سوه چې د لوږي څخه مرګ ته نژدې سوې هم دا ډول د نورو ګناهونو حال هم داسي دئ . تجربه هم ددې خبرې تاکید کوي ځکه روژه پر نیکو خلګو باندي هیڅ اثر نه کوي او پر بدو خلګو باندي ډیره سخته وي له همدې وجهي که څوک غواړي چې روژه ځانته اسانه کړي نو د ګناهونو څخه دي ځان خلاص کړي په ځانګړي ډول دغیبت څخه ځکه اللهﷻ غیبت په خپل کلام د خپل مسلمان ورور د غوښو خوړلو سره برابر کړی دئ او حال دا چې خلګ اوس روژه پرې لنډوي په حدیثو کي هم داسي ډیري واقعاتي راغلي دي چې څوک د چا غیبت کوي په حقیقت کي د هغه غوښي خوري رسول اللهﷺ یو ورځ یو څو کسانو ته وویل چې په غاښونو کي غاښ ټومبي ووهئ هغو ورته وویل چې موږ خو نن بیخي د غوښو څکه هم نه ده کړې رسول اللهﷺ ورته وویل چې تاسو د فلاني سړي غوښي خوړلي دي . معلومه سوه چې دوئ د هغه سړي غیبت کړي و ، اللهﷻ دي زموږ ساتنه وکړي زموږ خلګ ددې څخه ډېر غافله دي. عام خلګ لا څه کوي خاص خلګ هم په اخته دي شتمن او دنیا خو ښه خلګ خو پرېږده ددینداره خلګو هم کم مجلسونه د غیبت څخه خالي وي . لویه خبره داده چې غیبت نه ورته وایي که په زړه کي څه وېره ورته پیدا سي نو د حقیقت څرګندتیا ورته وایي (او یا زموږ دافغانستان په جنوب لوېدیځه حوضه کي چې داشي دود دئ هغه دا چې کله غیبت کوي نو وایي چې غیبت یې نه کوم سر یې وایم او یا وایي دا زه داسي خبري کوم که مخامخ سم هم دا خبري ورته کوم . دشیخ صاحب مطلوب دادئ چې داهسي بهانې دي په دې خبرو څوک نه خلاصیږي ). د رسول اللهﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چې غیبت څشي دئ؟ رسول اللهﷺ ورته وویل په یو چا پسي د شا لخوا داسي خبره کول چې هغه یې بده ګڼي هغه سړی ورته وویل که په هغه سړي کي دا خبره موجوده وه ( هم غیبت دئ؟) رسول اللهﷺ ورته وویل : هو ، ځکه که پکښې موجوده نه وي نو بیا خو بهتان ورته ویل کیږي .

یو ځلي نبيﷺ پر دوو قبرونو تیریدی نو وې فرمایل چې دغه دوو کسانو ته عذاب ورکول کیږي یوه ته د غیبت له وجهي او بل ته د بولو څخه د ځان نه ساتلو له وجهي. رسول

الله ﷺ فرمايلي دي چي د سود تر اويا ډيري درجې دي تر ټولو کمه درجه يې د مور سره زنا کول دي او د سود يو درهم تر پنځه ديرشو زناوو بدتر دئ.او تر ټولو بد او سخت سود د مسلمان بې عزتي کول دي په حديثونو کي د غيبت او د مسلمان د بې عزتۍ لپاره ډيري سختي سزاوي راغلي دي زما زړه غوښتل چي ښه ډير حديثونه رانقل کړم ځکه زموږ ډير مجلسونه په دغه کار اخته دي خو څرنگه چي موضوع جلا ده نو ځکه په دغه اندازه بسنه کوم الله ﷻ دي موږ په خپل فضل سره ددې بلاوو څخه وساتي په ځانگړي ډول دي الله ﷻ پر ما گنهگار بنده باندي رحم وکړي چي په ډيرو باطني مرضو باندي اخته يم. شعر

*کبر و نخوت جہل و غفلت حقد وکینہ وبد ظنی* *کذب وبد عہدی ریاو بغض و غیبت دشمنی*

*کون بیماری ہی یارب جو نہیں مجہ مین ہوئی* عافنی من کل داء واقضی عنی حاجتی

ان لی قلبا سقیما انت شاف للعلیل

ژباړه : کبر ، لويي ، ناپوهي ، غفلت ، حسد ، کينه ، بدگماني ، درواغ ، وعده خلافي، ريا بغض ، غيبت ، دښمني کوم مرض دي چي په ما کي نسته د هر مرض څخه صحت راکړي او زما حاجت پوره کړي زما زړه ناروغه دئ ته د ناروغيو شفا ورکونکي يې.

دريم شی چي د روژاتي لپاره ضروري دئ د غوږونو حفاظت دئ د هر مکروه شي څخه او د هغه شي څخه چي ويل او د ژبي څخه يې ايستل نا جائز وي. رسول الله ﷺ فرمايي : غيبت کونکي او اوريدونکي په گناه کي سره شريکان دي.

څلورم : د پاته غړو حفاظت د ناروا شيانو څخه لکه لاس او پښه د ناروا شيانو څخه ساتل همدا ډول پاته نور غړي هم د ناروا شيانو څخه ساتل او خپل نس د شکمن شيانو څخه ساتل . څوک چي روژه نيسي بيا يې په حرامو شيانو ماتوي داسي مثال لري لکه ناروغ چي د ناروغۍ دوا وخوري خو په دوا باندي لږ زهر گډ کړي نو دوا که يې جوړ کړي خو زهر يې د هلاکېدو تر بريده رسوي

پنځم : روژاتي لره پکار ده چي د حلال شيانو څخه هم دومره ونه خوري چي نس يې په ډک سي ځکه چي د روژې مقصد لمنځه ځي . د روژې څخه مقصد د شهوت او حيوانيت د قوت کمول دي نوراني او د ملائکو د صفت زياتول دي . دا يوولس مياشتي چي مو پوره خوراک وکړی که دا يوه مياشت کم خوراک وکړو څه به وسي ولي زموږ د خلگو دا حالت دئ چي د روژې په مياشت کي د روژه مات په وخت کي زيات خوراک کوي چي د ورځي د لوږي کمي پوره کړي او په پيشلمي زيات خوراک کوي چي د راتلونکي لوږي مخه ونيسي داسي

خوراک کوي چې په نورو میاشتو کې یې نه کوي رمضان خو زموږ لپاره د ګیاه کار راکوي.علامه غزالي رحمة الله علیه فرمایي : کله به په داسې روژه باندې د روژې مقصد یعني د نفس ماتوالی او د شیطان خوابدتیا لاسته راسي چې په روژه مات دومره خوراک کوي چې د ورځې کسر پکښې وباسي . موږ نو په روژه کې نور هیڅ نه دي کړي یوازې داکوو چې د خوراک وختو نه مو وربدل کړه . او بل لا دا چې په نورو میاشتو کې داسې ډول ډول خوراکونه نه پیدا کېږي لکه په روژه کې چې پیدا کېږي یو ښه شی چې وي خلک یې د روژې میاشتې ته ساتي . د ورځې د لوږې څخه وروسته ماښام پر خوراکونو ورپریوزي ددې پر ځای چې شهوت یې کمزوري سي نور هم زورور سي یعني د مقصد خلاف کار وسي. د روژې ډول ، ډول ګټې دي او په فرض کېدو کې یې ډېر مطلبونه دي خو دا هغه وخت کېدای سي چې لږ تر لږه یو څه لوږه پر ځان تېره کړي . لویه ګټه یې داده چې د شهوتونو کمزوري راسي د شهوت کمزوري د خوراک په کموالي کې کېدای سي.

رسول الله ﷺ فرمایي : شیطان د انسان په رګو کې د وینې په څېر ګرځي تاسو دده ګرځېدل په لوږه سره بند کړی . ټول اندامونه هغه وخت مړېږي چې نفس وږی سي ( نه بیا شهوت غواړي نه لویي غواړي او نه بل شی غواړي ) کله چې نفس موړ سي ټول اندامونه وږي سي یعني دا چې دټولو غړو موړوالی اولوږه په نفس کې حصر ده . د روژې دوهم مقصد د مسکینانو سره مشابهت دئ او ددوی په حال باندې ځان خبرول دي داهم هغه وخت کېدای سي چې سړی په پیشلمي دومره خوراک ونه کړي چې تر ماښامه وږي نه سي د مسکینانو په حال هغه وخت خبرېدای سي چې یو څه لوږه پر ځان تېره کړي .

بشرحافي رحمة الله علیه یو سړي ته ورغلی هغه سړي د یخ څخه رپېدی ، او جامې هم ورته پرتې وې ده پوښتنه ځنې وکړه چې ولې جامې نه اغوندې هغه سړی ورته وویل چې مسکینان ډېر دي د هغوی سره مرسته کول زما په توان کې نسته دومره مرسته کولای سم چې زه هم ددوی په څېر ځان کړم ، مشائخو ، صوفیانو او د فقهي علماوو په ښکاره ویلي دي چې په روژه کې به خوراک کمویٔ . د مراقي الفلاح مؤلف لیکي: په پیشلمي کې باید کم خوراک وسي ډېر خوراک به نه کوي لکه چې د شتمنو خلکو داسې عادت دئ ځکه د روژې مقصد لمنځه ځي. طحاوي رحمة الله علیه د پورتني خبري په شرحه کې لیکي چې د روژې مقصد دادئ چې لوږه پر ځان تېره کړي لوږه به محسوس کړي او د مسکینانو پر حال باندې یې رحم راسي نبي ﷺ فرمایي: الله جل جلاله ته د هیڅ داسې لوښي ډکېدل ناخوښه نه دي لکه د نس مړېدل . رسول الله ﷺ فرمایي: د انسان لپاره یو څو ګولې خوراک بسنه کوي چې محض ملا یې په سیده سي او که د خوراک

څخه لاس نه اړوي نو د نس يوه دريمه دې په خوراک ډکه کړي ، يوه دريمه دې د چيښلو لپاره کړي او يوه دريمه دې خالي پريږدي په هر صورت يو څه خو خامخا سته چې نبيﷺ به ځو ورځې پر لپسې روژې نيولې په منځ کې به يې هيڅ خوراک نه کاوه ما خپل شيخ استاد حضرت مولانا خليل احمد ( نورالله مرقده ) د روژې په مياشت کې ليدلی دئ چې په روژه مات او پيشلمي دواړو به يې يوه نيمه کوچنۍ او نازکه ډوډۍ خوړله نور شی به يې نه خوړی خادمانو چې به چا عرض ورته وکړی ده به ورته وويل چې وږي نه يم خو د ملګرو په وجه کښېنم.

د مولانا شاه عبدالرحيم رائپوريرحمة الله عليه په اړه مي ډير اورېدلي دي چې څو ورځې به داسي و چې په روژه کې به يې د پيشلمي او روژمات دواړو خوراک يو څو پيالې د شيدو چای وې. يو ځلي دده مبارک خاص خادم مولانا شاه عبدالقادررحمة الله عليه په ډيره عاجزي سره ورته وويل چې يو څه خوراک خو کوه بيخي به کمزوری سې ده مبارک ورته وويل : الحمد لله د جنت خوند راته حاصليږي . که اللهﷻ دداسي مبارکو هستو تابعداري را نصيب کړي دا به زموږ لويه نيکبختي وي مولانا سعديرحمة الله عليه وايي:

*نه دارد تن پروران آگهی        که پرمعده باشد زحکمت تهی*

يعني نس ور کسان په دې ناخبره دي چې ډکه معده د حکمت څخه خالي وي .

شپږم شی چې د روژاتي لپاره ضروري دئ هغه دا دئ چې روژاتي به د روژې وروسته په دې فکر کې وي چې دا روژه به د قبليدو وي که يا . هم دا ډول د هر عبادت وروسته فکر پکار دئ چې داسي نه چې په دې عبادت کې په بې فکرۍ سره يو داسي کار راڅخه سوی وي چې له امله يې په دې عبادت سره پر مخ وويشتل سم . رسول اللهﷺ فرمايي : ډير ځلي به يو څوک قرآن وايي قرآن کريم به پرده باندي لعنت وايي رسولﷺ فرمايي: اول سړی چې د قيامت په ورځ به حساب ورسره کېږي شهيد دئ دی به راوبلل سي لومړی به د اللهﷻ نعمتونه چې په دنيا کې ده ته ورکړل سوي دي ورپه ياد سي بيا به ورته وويل سي چې تا ددې نعمتو د شکريې لپاره څه کړي دي؟ دی به ورته ووايي چې د اللهﷻ په لاره کې وجنګېدم تر داسي اندازې چې شهيد سوم . دِغ به وسي چې درواغ وايي تا ددې لپاره جهاد کاوه چې تاته بهادر وويل سي بيا به امر وسي چې پړي مخ يې په دوزخ کې ورغوځوی .

ملائکې به يې په دوزخ کې وغورځوي . په دغه ډول به بيا يو عالم راوبلل سي لومړی به نعمتونه وریاد کړل سي بيا به پوښتنه ځني وسي چې تا ددې نعمتو په بدله کې څه کړي دي ؟

دی به ورته ووايي چي علم مي زده کړی و نورو ته مي ښودلی و او د الله ﷻ د رضا لپاره مي تلاوت کړی و. دروغ به وسي چي درواغ وايي دا خو يې ددې لپاره کړی و چي تاته ښه عالم وويل سي دده په اړه به هم امر وسي چي پړي مخ يې په دوزخ کي وغورځوئ بيا به يو شتمن سړی راوستل سي لومړی به د الله ﷻ ورکړل سوي نعمتونه وریاد کړل سي بيا به پوښتنه ځني وسي چي تا دالله ﷻ ددغه درکړل سوو نعمتو په بدله کي څه کړي دي دی به ورته ووايي چي هيڅ د خير لاره مي نه ده پرې ايښې چي په هغه کي مي پيسي نه وي خرڅي کړي ده ته به هم وويل سي چي درواغ دي وويل تا خو ددې لپاره پيسې مصرفولې چي تاته سخي وويل سي نو دده په اړه به هم امر وسي په دوزخ کي يې پړي مخ وغورځوئ. الله ﷻ دي موږ ځني وساتي دا ټوله د بدو نيتونو نتيجې دي ددې ډول څخه ډيري واقعاتي راغلي دي له همدې وجهي څخه روژاتي لره وېره پکار ده او دعا په کار ده چي الله ﷻ دي يې د خپلي رضا سبب وګرځوي. خو يوه خبره د يادوني وړ ده هغه دا چي خپل عمل د قبلېدو وړ نه بلل جلا خبره ده او د الله ﷻ د مهرباني نظر جلا شی دی. د الله ﷻ د مهربانۍ طريقه خو بيخي عجيبه ده کله داسي وي چي پر ګناه هم ثواب ورکوي نو په نيک عمل کي کوتاهي لا څه کوي.

*خوبی ہمین کرشمہ وناز وخرام نیست بسیار شیوہ ہااست بتان راکہ نام نیست*

ژباړه: د محبوب ښيګڼه يوازي کرشمه، ناز او غوره اندامونه نه دي بلکي ډير داسي صفتونه پکښي سته چي په ويلو کي هغو ته نومونه نسته.

دا شيږ شيان د عامو خلګو لپاره ضروري ښودل سوي دي خو د خاصو خلګو (يعني و الله ﷻ ته د نژدې) خلګو لپاره اوم شی هم ښودل سوی دی هغه دا چي د الله ﷻ پرته به زړه بل هيڅ لوري ته نه متوجه کوي آن تر دې چي داسي فکر ته هم خطا ويل کيږي چي دا فکر وکړي چي د روژمات لپاره يو شی سته که يا. ځينو علماوو ليکلي دي چي دا فکر کول چي د روژمات لپاره به يو شی وي که يا دا غلطيا ده ځکه دا د الله ﷻ د رزق په وعدې باندي د يقين کموالی دئ.

په شرح احيا کي د ځينو بزرګانو قصه ليکل سوي ده چي هغوئ ته چي به د روژمات مخکي يو شی راغلی بل چا ته به يې ورکاوه هسي نه چي زړه مو بل لوري ته متوجه سي او په توکل کي مو کمی راسي خو دا کار د لويو خلګو دئ زموږ د خلګو ددې کار لپاره حرص کول بې ځايه دي او ددوئ و حالت ته د رسيدو وړاندي داسي کار کول په هلاکت کي ځان اچول دي. مفسرين ليکي چي په: کتب عليکم الصيام کي دانسان پر هر غړي باندي روژه فرض

سوې ده . د ژبې روژه داده چې د ناروا ويلو څخه ژبه بنده کړي ، د غوږو روژه داده چې ناروا شيان نه په اوري او د سترګو روژه داده چې بې ګټې او ناروا شيان په ونه ويني . د پاته غړو روژه هم په ورته ډول ده چې په پايله کې به يې نفس د شهوتونو څخه وساتل سي. د زړه روژه داده چې زړه د دنيا د محبت څخه وساتي او د روح روژه داده چې د آخرت د خوندونو څخه ځان وساتي او د خاصو خلګو روژه داده چې د اللهﷻ پرته د نورو خلګو څخه ځان وساتي .

## ټول عمر روژه نيول هم دقضا سوي روژې ځای نه سي نيولای

۱۰ : عن ابي هريرةﷺ ان رسول اللهﷺ قال من افطر يوما من رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقضه صوم الدهر كله وان صامه (۳)

ژباړه : رسول اللهﷺ فرمايي : که چا د عذر او ناروغۍ پرته روژه وخوړل که ټول عمر روژه ونيسي د هغې روژې ( ثواب ) ته نه سي رسېدلای .

**فايده** : د پورتني حديث پر بنسټ د ځينو علماوو مذهب دادی چې په دوئ کي حضرت عليؓ هم دی : چې څوک د عذر پرته روژه وخوري قضايي بيخي نه لري که څه هم ټول عمر روژه ونيسي خو عام علماء په دې آند دي چې که څوک بيخي روژه ونه نيسي نو قضايي پر يوه روژه باندي يوه روژه ده او که يې نيت کړي روژه ماته کړه نو يوه روژه قضاده او دوې مياشتي پر لپسې روژه نيول يې کفاره ده . په دغه کفاره سره يې غاړې خلاصيږي خو د روژې چې کوم فضيلت او برکت دئ هغه لمنځه ځي او د پورتني حديث څخه هم معلوميږي چې د روژې چې کوم برکت دئ هغه يې دلاسه وزي خو دا ټوله هغه وخت دي چې قضا يې بيرته راوړي او که بيخي روژه ونه نيسي لکه په اوس وخت کي چې ځيني فاسقان داسي کوي ددې خو بيخي پوښتنه مه کوه ځکه روژه د اسلام يو رکن دی . رسول اللهﷺ د اسلام بنسټ پنځه شيان ښودلي دي تر ټولو لومړی د توحيد او رسالت اقرار دی وروسته څلور بناوي دي چې د لمانځه ، روژې ، حج او زکوه څخه عبارت دي . څومره انسانان دي چې په شمېرنه کي مسلمان شمېرل کېږي خو پدې پنځو بناوو کي يوه هم نه ادا کوي په دولتي کاغذانو کي مسلمان ليکل کېږي خو د اللهﷻ په فهرست کي مسلمان نسي ورته ويل کېدای آن تر دې چې ابن عباسؓ فرمايي:

(۳) رواه احمد والترمذي وابوداود وابن ماجة والدرامي والبخاري في ترجمة باب كذا في المشكوة قلت وبسط الكلام على طرقه العيني في شرح البخاري

اسلام پر درو شيانو باندي ولاړ دی چي د شهادت د کلمې ، لمانځه او روژې څخه عبارت دي که چا يو ددې څخه يو پرېښودی کافر دی مرګ يې روا دی که څه هم عالمانو داسي روايتونه په انکار سره مقيد کړی دي او يا يې په بل ډول سره تاويل کړي دي خو په هر صورت د رسول اللهﷺ ارشاد دداسي کسانو په اړه ډېر سخت دی . په فرض کي د کوتاهي کونکو په اړه چي د اللهﷻ قهر او غضب دی ويره ځني کول ضروري ده . ددنيا ژوند ډير ژر پاتيږي او د مرګ څخه د هيچا خلاصون نسته . يوازي د سړی په ګټه د اللهﷻ اطاعت دی . ډير نا پوهه کسان روژه نه نيسي . ځيني بې دينه خلګ خو داسي بې کاره الفاظ تر خولې راباسي چي کفر ته په رسيږي د مثال په ډول وايي چي روژه به هغه څوک نيسي چي په کور کي د خوراک شی نه لري . يا وايي چي د لوږي له امله زموږ په وژنه د اللهﷻ څه کيږي او داسي نور خو دداسي الفاظو څخه ځان ساتل ييخي ضروري دی . يوه مسئله د يادوني وړ ده هغه دا چي په يوه کوچني خبره باندي پسخند وهل کفر دی که څوک ټول عمر لمونځ ونه کړي روژه ونه نيسي او هيڅ يو نيک کار ونه کړي مګر ځيني منکر نه وي او کلمه وايي کافر نه دی او که ددين په يوه کوچني خبره يې پسخند ووهه کافر دی ټول نيک عملونه يې ضائع کيږي ددې خبري زيات فکر ساتل په کار دی چي د روژې په اړه داسي خبري هيڅکله تر خولې ونه باسي . او که څوک په روژه پوري ټوکي نه کوي مګر د عذر پرته يې نه نيسي فاسق دی. د فقهي علماوو په ښکاره ويلي دي چي څوک بېله عذره روژه خوري فاسق دی بايد قتل سي . او که د قتل توان نه وي يعني دا چي اسلامي حکومت نسته امير المؤمنين نسته نو بايد لږ تر لږ دداسي کس ددې نا پاکه حرکت څخه په زړه کي بد يوسي چي د ايمان هغه کمزوري درجه مو ساتلي وي . اللهﷻ دي موږ او تاسو ته د نيکو عملونو توفيق راکړي چي زه خپله ډير کوتاهي کونکی يم . د لومړي فصل لپاره په لس حديثو نو سره بسنه کوم ځکه د منونکي لپاره يو حديث هم کفايت کوي او که (تلک عشرة کاملة - يعني پوره لس حديثونه) وي خو ييخي بس دي او څوک چي يې نه مني هغه ته نو که هر څومره حديثونه بيان کړي اثر نه پرې کوي اللهﷻ دي ټولو مسلمانانو ته د عمل توفيق ورنصيب کړي.

# دوهم فصل

## دقدر د شپې بيان

د روژې په مياشت كي يوې شپې ته د قدر شپه ويل كېږي چي ډېره د خير او بركت شپه ده په قرآن كريم كي دا شپه تر زرو مياشتو غوره بلل سوې ده د زرو مياشتو څخه درواتيا كاله څلورمياشتي جوړېږي هغه سړى ډېر نيكمرغه دى چي ددغه شپې عبادت ورنصيب سي. څوک چي په دغه شپه كي عبادت وكړي داسي ثواب لري ګويا تر درواتيا كلو او څلورو مياشتو زيات عبادت يې وكړى .زيات نو هم نه دى معلوم چي څومره به زيات وي دا په حقيقت كي د اللهﷻ لوى انعام دى چي د قدر شپې عبادت كونكو ته يې وركړى دى په درمنثور كي يو حديث راغلى دى چي انس رضي الله عنه د رسول اللهﷺ څخه رانقل كړى دى هغه دا چي رسول اللهﷺ فرمايي : اللهﷻ زما امت ته شب قدر وركړى دى نورو امتو ته يې نه دى وركړى . دا چي دې امت ته دغه شپه وركړل سوې ده سبب به يې څشي وي؟ په دې اړه مختلف روايتونه راغلي دي يو دادى چي د نورو امتونو عمرونه ډېر وه او د نبيﷺ د امت عمر لږ وو او ددې امت د نيكو عملونو اندازه د هغو سره برابرول ممكن نه وه نو د نبيﷺ سره غم پيدا سو اللهﷻ و خپل نازولي پيغمبر ته دغه شپه وركړه چي د امت د نيكو عملونو اندازه يې د نورو امتونو سره برابره سي. هغه سړى به ډېر نيكمرغه وي چي په دغه شپه عبادت وكړي كه څوک لس شپې د قدر عبادت وكړي نو عبادت يې تر اتو سوو درو ديرشو او څلورو مياشتو زياتيږي . په يوه روايت كي راغلي دي چي نبيﷺ د بني اسرائيلو ديوه سړى بيان وكړى چي زر مياشتي پرلپسي يې د اللهﷻ په لاره كي جهاد كړى و اصحاب كرام رضي الله عنهم ډېر غمجن سوه چي داسي كارونه خو موږ بيخي نسو كولاى نو اللهﷻ دغه شپه نازله كړه . په بل روايت كي راغلي دي چي رسول اللهﷺ د بني اسرائيلو د څلورو مباركو انسانانو يعني زكريا عليه السلام ، ايوب عليه السلام ، حزقيل عليه السلام ، او يوشع عليه السلام بيان وكړى چي تر اتياوو كالو پوري مسلسل يې د اللهﷻ عبادت كاوه او د سترګو يو رپ نافرماني يې د اللهﷻ څخه نه كول اصحاب كرام رضي الله عنهم په دې سره حيران سوه دستي جبرآئيل عليه السلام د رسول اللهﷺ په خدمت كي حاضر سو او سورة قدر يې نازل كړى . ددغه روايتونو د اختلاف وجه ده چي كله يو شى دډېرو واقعاتو وروسته پېښ

سي نو هري واقعې ته يې نسبت کېږي خو په هر صورت دغه شپه د اللهﷻ د لوري څخه و محمدي امت ته يو لوی انعام دی. او دا د اللهﷻ ورکړه ده او په دغه شپه کي عبادت هم د اللهﷻ په توفيق سره کېدای سي که نه نو .....

تهیدستان قسمت را چه سود از رهبر کامل    که خضر از آب حیوان تشنه می آرد سکندر را

ژباړه: د کم نصيبو لپاره د کامل رهبر څه ګټه ده چي خضر ؑ سکندر تر آب حيات تږي تېر کړی

څومره د غبطې خبره ده چي بزرګان فرمايي چي زموږ څخه تر بلوغ وروسته شب قدر نه دی تېر سوی . البته ددغه شپې په تعين کي د علماو تر منځ اختلاف دی نژدې پنځه سوه ويناوي ليکلي سوي دي د ټولو يو ځای کول خو ګران کار دی مګر هغه مشهوري ويناوي يې رانقلوم :

دحديثو په کتابو کي ددغه شپې فضيلتونه په ډول ، ډول او په زياتو حديثونو کي راغلي دي خو لکه څرنګه چي ددغې شپې فضيلت په قرآن کي راغلی دی يو مستقل سورة ددغه شپې په اړه نازل سوی دی نو مناسبه ده چي اول ددغه څخه پيل وکړو او تفسير به يې وليکو چي د حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د تفسير بيان القرآن څخه رااخيستل سوی دی :

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١

ژباړه : شروع کوم په نامه د اللهﷻ چي ډير مهربانه او پوره بخښونکی دی بېشکه موږ قرآن د قدر په شپه کي نازل کړی دئ .

**فايده** : يعني قران کريم د لوح محفوظ څخه ددنيا و اسمان ته د قدر په شپه کي نازل سوی دی ددغه شپې لپاره دومره فضيلت بس و چي دومره لوی د عظمت شی په دغه شپه کي نازل سوی دی او لا دا چي په دې شپه کي نور فضيلتونه هم شامل دي ورپسې د تشويق په موخه اللهﷻ فرمايي :وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢

ژباړه : تاته څه معلومه ده چي دقدر شپه څومره لوی شی ده او څومره فضيلتونه پکښې سته ددې وروسته اللهﷻ ددغه شپې څو فضيلتونه بيانوي : لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣

ژباړه : د قدر شپه تر زرو مياشتو بهتره ده يعني ددې شپې عبادت تر زرو مياشتو تر عبادت زيات دی دا هم نه ده معلومه چي زياتوالی به څومره وي. تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ په دغه شپه

کي ملائکي راکښته کېږي . علامه رازي رحمه الله ليکي : ته چي ملائکو اول ځل وليدي ستا ځخه يې کرکه کول او ستا ځخه يې الله ﷻ ته شکايت کاوه چي دا به داسي مخلوق وي چي په مځکه کي به فساد کوي ويني به تويوي . همدا ډول ستا مور او پلار چي اول ځل ته دمنيو څاڅکي وي ستا ځخه يې کرکه کول آن تر دې چي د کالو سره به وموښتي کالې به يې پرېولل کله چي په تا باندي الله ﷻ ښايسته شکل واغوستی نو مور او پلار ستا سره محبت شروع کړی او ملائکي د عذر غوښتلو په موخه راکښته کېږي .وَٱلرُّوحُ فِيهَا ژباړه : او روح القدوس يعني جبرائيل عليه السلام هم په دې شپه راکښته کېږي د روح په معنی کي د مفسرينو څو قوله دي لومړی قول د جمهورو علماوو دی چي پو رتنۍ وينا کوي يعني دا چي د روح ځخه جبرائيل عليه السلام مراد دئ. علامه رازي رحمه الله فرمايي : چي هم دغه قول زيات غوره دئ. جبرائيل عليه السلام يې د فضيلت له وجهي په خصوصي ډول تر ملائکو وروسته ذکر کړی.

دوهم قول دادی چي د روح ځخه يو لويه ملائکه مراد ده چي ټول اسمانونه او مځکي د دې په پرتله لکه يوه ګوله داسي دي . دريم قول دادی چي د روح ځخه مراد يوه خاصه ډله ملائکي دي چي نوري ملائکي هم يوازي د قدر په شپه ويني . څلورم قول دادی چي د روح ځخه يو خاص مخلوق مراد دی چي نه خوراک کوي او نه چيښاک کوي او نه انسانان دي او نه ملائکي دي . پنځم قول دادی چي ددې ځخه عيسی عليه السلام مراد دی چي د محمد ﷺ د امت د کار نامو د ليدلو لپاره د ملائکو سره راکښته کېږي. شپږم قول دادی چي ددې مراد د الله ﷻ يو خاص رحمت دی چي د ملائکو سره نازلېږي . ددې ځخه علاوه نور قولونه هم سته خو مشهور قول يې اول قول دی . سنن بيهقي د انس رضي الله عنه په روايت د رسول الله ﷺ ځخه ارشاد رانقلوي چي فرمايي : د قدر په شپه جبرائيل عليه السلام د يوې ډلي ملائکو سره يو ځاي و مځکي ته راکښته کېږي او څوک چي په ذکر اخته وي د هغه لپاره د رحمت دعا کوي.

بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٍ ﴿٤﴾ . ژباړه : د خپل خدای ﷻ په اجازه هر د خير امر رااخلي او د مځکي و لوري ته راکښته کېږي . مظاهرالحق ليکي : په دغه شپه ملائکي پيدا سوي دي ، په دغه شپه د بني آدم ماده جمعه کېدل شروع سوې ده او په دغه شپه د جنت درختي اېښودل سوي دي او ددعا قبليدل خو په دغه شپه په ډېرو روايتو کي راغلي دي.ددرمنثور په يو روايت کي راغلي دي چي په دغه شپه عيسی عليه السلام و اسمان ته پورته سو او په دغه شپه د بني اسرائيلو توبه قبوله سوه.

سَلَٰمٌ . ژباړه : دغه شپه سراسر سلام دئ يعني ټوله شپه د ملائکو دلوري پر مؤمنانو باندي سلام ويل کېږي يوه ډله ځي بله ډله راځي لکه د ډيرو روايتو څخه چي څرګنديږي يا مراد دا چي دا شپه سراسر سلامتيا ده د هر شر او فساد څخه امن دی .هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ۝ ژباړه: دغه شپه به (دبرکتونو سره وي) د سهار تر ختو پوري . داسي نه ده چي ددې شپې يوه برخه د برکت ده او نوره نونه ده بلکي دا ټوله شپه د برکتونو څخه ډکه ده د سهار تر ختو پوري .

په پورتني سورة کي الله ﷻ ددې شپې ډير فضائل بيان کړي دي د حديثو د بيان اړتيا نسته خو بيا هم ددې شپې په فضائلو کي ډير حديثونه راغلي دي نو ځکه يو څو حديثونه رانقلوم.

## که چا دقدر په شپه کي عبادت وکړی ټول ګناهونه به يې وبخښل سي

۱ : عن ابي هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ من قام ليلة القدر ايمانا واحتسابا غفر له ماتقدم من ذنبه (٤)

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمايي څوک چي د قدر په شپه د ايمان سره د ثواب په نيت عبادت وکړي الله ﷻ به مخکني ټول ګناهونه ورو بخښي.

**فايده** : په دغه شپه کي د دريدو څخه مطلب دادی چي پر لمانځه باندي ودريږي او دا هم پکښي داخل دی چي په يو بل عبادت لکه ذکر ، تلاوت او داسي نورو سره مشغول سي. د ثواب لاسته راوړلو څخه مطلب دادی چي ريا او يا بله بدنيتي نه وي پکښي بلکي يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره وي . خطابي رحمه الله فرمايي : چي ددې څخه مطلب دادی چي پر ثواب يې يقين وي او زړه يې خوشاله وي . تکليف يې ځانته نه بولي او نا خوالي نه وي پکښي دا ښکاره خبره چي د سړی پر ثواب باندي څومره يقين ټينګ وي په دغه اندازه په عبادت کي تکليف پورته کول اسانه وي .

همدا وجه ده چي څومره سړی و الله ﷻ ته نژدې کېږي په هغه اندازه په عبادت کي شوق ډيريږي . بله ضروري خبره داده چي په پورتني حديث او نورو حديثو کي چي د ګناه د بخښلو بيان سوی دی مراد ځني صغيره ګنا وي دي ځکه د کبيره ګناوو په اړه الله ﷻ په ( الا من

---

(۴) کذا في الترغيب عن البخاري ومسلم

تاب)سره تعبیر کړی دی یعني هغه وخت بخښل کېږي چې توبه وباسي بېله توبې کبیره ګناهونه نه بخښل کېږي علماو هم پر دې خبره اتفاق کړی دی چې کوم ګناهونه چې په دغه شپه کي بخښل کېږي صغیره ګناهونه دي . زما پلار رحمه‌الله په حدیثو کي پر ګناهو باندي د صغائرو قید لګولی دی او ددې وجهي یې بیان کړي دي لومړی دا چې د مسلمان شان دادی چې کبیره ګناه به نه کوي او که څني وسي نو تر هغه وخته پوري دی نه په ارامېږي تر څو توبه ونه باسي دوهمه خبره داده چې که انسان ته داسي زمینه مسعیده سي چې د قدر په شپه کي عبادت کوي نو ګویا دده لپاره توبه ضروري ده چې پر خپلو عملو نو باندي پښېمانتیا وکړي او هم داسي کېږي له همدې وجي توبه په خپله پکښي راځي ځکه د توبې څخه مقصد دادی چې پر تیرو ګناهونو پښیمانتیا وکړي او د راتلونکي لپاره د نه کولو پخه اراده وکړي . له همدې وجهي څخه که د چا څخه کبیره ګناهونه سوي وي نو چې کله د قدر شپه ورته ورسیږي او یا د دعا د قبلېدو موقع په لاس ورسي نو د زړه د اخلاصه دي توبه په خوله وباسي او دراتلونکي لپاره دي د نه کولو ټینګه اراده وکړي چې د الله ﷻ کامل رحمت ورته متوجه سي . صغیره او کبیره ټول ګناهونه به وبخښل سي . که درپه یاد سوه نو ما ګنهګار هم د اخلاص څخه په ډکو دعاوو کي یاد کړی.(که فقیر ژباړونکي هم یاد کړئ ډیره لویه مهرباني به مو وي)

## په رمضان کي یوه شپه ده چې عبادت یې تر زرو میاشتو بهتر دی

۲ : عن انس رضي الله عنه قال دخل رمضان فقال رسول الله ﷺ ان هذا الشهر قد حضركم وفيه ليلة خير من الف شهر من حرمها فقد حرم الخير كله ولا يحرم خيرها الا محروم. (۵)

ژباړه: انس رضي الله عنه فرمايي چې یو ځلي د روژې میاشت راغله رسول الله ﷺ و فرمایل : پر تاسو باندي یوه داسي میاشت راغله چې یوه شپه پکښي ده چې تر زرو میاشتو بهتره ده څوک چې ددغه شپې څخه محروم سي ګویا د ټوله خیره څخه محروم سو . ددغه شپې څخه څوک نه محرومه کېږي مګر هغه څوک چې په حقیقت کي محروم وي .

**فایده** : ولي به داسي چاته محرومه نه ویل کېږي چې د اتیا کالو او څلورو میاشتو عبادت د لاسه ورکړي په یوه شپه باندي . دریل ګاډی د لین نوکریوالان د څو پیسو په وجه ټوله شپه ویښ وي نو ددومره ستر عبادت لپاره چې سړی یوه شپه ویښ سي دا نو څه ګرانه

(۵) رواه ابن ماجة و اسناده حسن انشاءالله تعالی کذا في الترغیب وفي المشکوة عنه الا کل محروم

خبره ده . اصلي خبره داده چې په زړه کي عشق او درد نسته که يې څوک لږ خوند ووينې نو بيا يوه شپه څه کوي په سلګونو شپې به ويښ وي.

*الفت میں برابر ہی وفا ہو کہ جفا ہو ہر چیز میں لذت ہی اگر دل میں مزا ہو*

محبت کي وفا او جفا برابره ده هر شي خوندور دی چې په زړه کي خوندور وي

په هر صورت يو څه خو وه چې نبي ﷺ ددې دومره وعدو او زيرو سره سره بيا هم دومره اوږده اوږده لمونځونه کول چې آخر پښې به يې وپړسېدلې سره ددې چې پر وعدو پوره کېدو باندي يې پوره يقين و . کومو خلګو چې ددې شپې قدر وکړی و امت ته يې نمونه پرېښودل و هغه چا ته د خبرو موقع او دليل نسو پاته چې وايي د نبيﷺ په څير نو طاقت څوک لري چې دومره عبادت وکړي په زړه کي د ځای ورکولو خبره ده د محبت کونکو لپاره په غره کي د شيدو وياله کښل هم ګران کار نه دئ خو دا خبره د عاجزي پر ته لاسته نه سي راتلای . شعر

*تمنا درد دل کی ہی تو کر خدمت فقیروں کی نہی ملتا یہ گوہر بادشاہوں کی خزینہ میں*

ژباړه : که د زړه درد د فقيرانو د خدمت ارزو وکړه دا ګوهر په خزانه د پاچهانو کي نه سي پيدا کېدلای

آخر يو څه خو وه چې حضرت عمرؓ به ماخوستن کورته ولاړی تر سهاره پوري به يې شپه په لمانځه تيره کړه . حضرت عثمانؓ به ټوله ورځ روژه نيول او ټوله شپه به يې په لمانځه تيرول . يوازي د شپې په لومړۍ برخه کي به لږ وخت بيديدی د لمانځه په يوه رکعت کي به يې ټوله قرآن کريم خلاصوی . په شرح احيا کي د ابو طالب مکيؒ په روايت نقل سوي دئ چي د څلويښتو تابعينو څخه په تواتر ثابته ده چه دوئ به د ماخوستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه. حضرت شدادؒ به ټوله شپه ستوني ستخ پروت و پر يوه او بل اړخ به اوښتی او دا به يې ويل چې اې الله ﷻ ! ستا ددوزخ د ويري زما خوب وتښتيدئ . اسود بن يزيدؒ به د ماښام او ماخوستن د لمانځه تر منځ لږ بيديدی بس نورنه بيديدی . دسعيد بن المسيبؒ په اړه راغلي دي چې تر پنځوسو کالو پوري يې د ماخوستن په اوداسه دسهار لمونځ کړی دئ . صله بن اشيمؒ به ټوله شپه لمونځ کاوه سهار به يې دادعا کول چې اې اللهﷻ ! زه خو ددې وړ نه يم چې جنت وغواړم يوازي دومره خواست درته کوم چې د اور څخه مي وساتي . حضرت قتادةؒ به دروژې په مياشت کي په درو ورځو کي يو قرآنکريم ختموی او چې د روژې آخري لس ورځي به سوې نو هره شپه به يې يو قرآن کريم ختموی . د امام ابو حنيفةؒ په اړه دا خبره دومره مشهوره ده چې څلويښت کاله يې د ماخوستن په

اوداسه د سهار لمونځ دئ چي انکار ځني کول د تاریخ څخه بیخي باور پورته کوي . یو چا پوښتنه ځني وکړه چي دغه طاقت تاته څنګه حاصل سو ؟ ده په جواب کي ورته وویل چي ما د اللهﷻ د نومونو په وسیله یوه خاصه دعا کړې ده. دی مبارک به غرمه لږ وخت بیدېدی او دا به یې ویل چي د غرمې خوب په حدیث سره ثابت دی نو ګویا دده دغه خوب هم د سنتو تابعداري کول وه. د قرآنکریم دلوستلو په وخت کي به یې دومره ژړل چي د همسایګانو به زړه باندي وسوځی یوه شپه یې ټوله شپه ددې آیات په ویلو سره په ژړا تېره کړه :

بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوۡعِدُهُمۡ وَٱلسَّاعَةُ أَدۡهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ (٦)

ابراهیم بن ادهمؒ به د روژې په میاشت کي نه د شپې بیدیدی او نه د ورځې . امام شافعيؒ به د روژې په میاشت کي په لمونځو کي شپېته ځله قرآن کریم ختموی . ددې څخه علاوه نوري په زرګونو داسي قصې راغلي دي . دوئ په لاندئ آیات کریمه عمل وکړئ چي فرمايي :

وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ (٧)

دوئ وخلکو ته وښودل چي د کونکو لپاره هیڅ ګرانه نه ده. داهم د مشرانو بزرګانو قصې وي اوس هم داسي خلک موجود دي که څه هم د هغو انداز عمل یې نوي کړی خو د اوسنی زمانې موافق د تیر بزرګانو نموني سته . د رسول اللهﷺ ریښتیني اقتدا کونکي اوس هم سته چي نه یې ددنیا راحت منعه کولای سي او نه یې ددنیا کارونه منعه کولای سي . رسول اللهﷺ فرمايي چي اللهﷻ وخپل بنده ته داسي فرمايي : اې د آدم زویه ! ته زما د عبادت لپاره ځان خلاص کړه زه به ستا زړه د غنا څخه ډک کړم که نه نو ستا لاسونه به په کارو بار ډک کړم او مسکنت به دي په زړه کي وي یعني مسکنت به ورڅخه بند نه وي . په اوسنی وخت کي هره ورځ د پورتني ریشتیني ارشاد د شاهدی واقعاتي پېښیږي .

(٦) سورة قمر الاية (۴٦)
(۷) سورة الذاريات الاية (۵٦)

## دروژو نیونکو بدۍ به په نیکیو بدلي سي

۳ عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا كان ليلة القدر نزل جبرائيل عليه السلام في كبكبة من الملائكة يصلون على كل عبد قائم او قاعد يذكر الله عز وجل فاذا كان يوم عيدهم يعني يوم فطرهم باهي بهم ملائكته فقال يا ملائكتي ما جزاء اجير وفي عمله قالو ربنا جزاءه ان يوفى اجره قال ملائكتي عبيدي واماءي قضوا فريضتي عليهم ثم خرجوا يعجون الى الدعاء وعزتي وجلالي وكرمي وعلوي وارتفاع مكاني لا جينهم فيقول ارجعوا قد غفرت لكم وبدلت سيئاتكم حسنات قال فيرجعون مغفورا لهم (۸)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : کله چي د قدر شپه سي نو جبرائيل عليه السلام د ملائکو د یوې ډلي سره راکښته سي وهر ناست او ولاړ سړي ته چي د الله جل جلاله په ذکر اخته وي د رحمت دعا کوي . کله چي د کوچني اختر ورځ سي نو الله جل جلاله پر ملائکو باندي فخر کوي او ورته وايي چي د هغه چا مزدوري څشي ده چي خپل خدمت پوره وکړي؟ ملائکي ورته ووايي چي داسي چاته دي بدله پوره ورکړل سي. الله جل جلاله وفرمايي : زما بندګانو او مينځيانو فرض پوره ادا کړل بيا عيدګا ته ولاړه په چيغو يې دعا کول زما دي په خپل عزت ، لويی ، کرم او لوړوالي قسم وي چي زه به ددوئ دعا قبلوم بيا به ورته وويل سي چي ستاسو ګناوي مي وبخښلي په نيکۍ مي در بدلي کړي دوئ به په داسي حالت کي د عيدګاه څخه راووزي چي بخښل سوي به وي .

**فايده : د** حضرت جبرائيل عليه السلام مځکي ته راتلل په قرآن کريم کي هم ذکر سوی دی لکه مخکي چي تير سو او په ډېرو حديثو کي هم دغه بيان په ښکاره ډول راغلی دی خو ددغه رسالې په آخر کي به په يو اوږده حديث کي تفصيلي بيان راسي چي جبرائيل عليه السلام وملائکو ته فرمايي چي تاسو د هر ذکر کونکي سره لاس په لاس سئ.

غالية المواعظ د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه د کتاب غنية په حواله ليکي چي ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: ملائکي به د جبرائيل عليه السلام په وينا په مځکه کي خوري سي او هيڅ کور ، کښتۍ ، لوي او کوچنی ځنګل به نه پريږدي چي مؤمن پکښي وي مګر هغه ته دلاس په لاس کېدو لپاره ورځي. مګر هغه کور ته نه ورځي چي سپی ، يا خنزير ، يا د ناروا کار په وجه جنبي يا تصوير پکښي وي خو بد بختانه په اوس وخت کي په څومره کورو کي يوازي د ښکلا لپاره

---

(۸) رواه البيهقي في شعب الايمان كذا في المشكوة

څومره تصويرونه ځېږي ددې لوی نعمت څخه يې په خپل لاس ځان بې برخي کړی دئ . تصوير ځړونکي يو سړی وی خو دده په وجه ټول کور ددې رحمت څخه بې برخي سي .

## دقدر شپه پر طاق نېټه باندي وي

٤ : عن عائشةرضي الله عنها قالت قال رسول اللهﷺ تحروا ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من رمضان (٩)

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمايي : تاسو دروژې د مياشتي په آخرو لسو ورځو کي پر تاک (طاق) باندي د قدر د شپي لټه کوئ

**فايده** : د جمهورو علماوو په آند د روژې په آخرو لسو ورځو کي د يوويشتم څخه شروع کېږي که مياشت ديرش ورځي وي او که نه ويشت ورځي وي پر دغه دواړو حسابو باندي د پورتني حديث د ښووني پر بنسټ پر ٢١- ٢٣ – ٢٥- ٢٧- ٢٩ باندي د قدر د شپې لټه کول په کار ده . که مياشت نهه ويشت وي نو بيا هم عشرة په پورته ډول ده. ابن حزم رحمة الله عليه فرمايي: که مياشت ديرش ورځي وه نو پورتني خبره صحيح ده او که نه ويشت ورځي وه نو بيا حساب د شلمي ورځي څخه شروع کېږي .

په داسي ډول نو د قدر د شپي تلاش په ٢٠ – ٢۴ – ٢٦ – ٢٨ کېږي . مګر نبيﷺ چي به په آخرو ورځو کي اعتکاف کاوه نو په اتفاق سره دا خبره ده چي د يويشتم تاريخ څخه به يې شروع کاوه نو ددغه خبري په نظر کي نيولو سره قوي خبره دا کېږي چي لومړی وينا غوره ده او غالبا يې په لومړنۍ حساب سره اميد کېدای سي او په دا نورو شپو کي يې هم اميد سته که څوک په دواړو حسابو کي لټه کوي نو آخري لس شپې دي د قدر د شپې په هيله ويښ پاته سي ځکه ددومري لوی ګټې د لاسته راوړلو په موخه لس يوولس شپي روڼول هيڅ ګران کار نه دئ .

*عرفی اگر بہ گریہ میسر شدی وصال صد سال میتوان بہ تمنا گریستن*

ژباړه: که په ژړا باندي وصال حاصلېدلای نو عرفي به سل کاله ژړلي وای .

(٩) مشکوة عن البخاري

۵). عن عبادة بن صامت رضي الله عنه قال خرج النبي ﷺ ليخبرنا بليلة القدر فتلاحي رجلان من المسلمين فقال خرجت لاخبركم بليلة القدر فتلاحي فلان وفلان فرفعت وعسى ان يكون خيرا لكم فالتمسوها في التاسعة والسابعة والخامسة (۱۰)

ژباړه : عباده بن صامت رضي الله عنه فرمايي : رسول الله ﷺ راووتی چي موږ ته د قدر د شپې په اړه خبر راکړي خو فلانی او فلانی په جنګ اخته وه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه راووتم چي تاسو ته د قدر په شپه خبر درکړم خو فلانی او فلانی په جنګ اخته وه الله جل جلاله لوړه کړه کېدای سي چي دغه لوړوالی ستاسو لپاره غوره وي نو تاسو ددغه شپې لټه په نوويشتم اوويشتم او پنځويشتم کوئ.

**فایده** : په پورتني حديث کي درې خبري د غور وړ دي : لومړي دا چي جنګ کول څومره بد شی دئ چي په وجه يې د تل لپاره د قدر د شپې مقررتيا پورته سوه نه يوازي دا بلکي ټول عمر جنګ برکتونه لمنځه وړي رسول الله ﷺ اصحابو رضي الله عنهم ته وفرمايل : زه تاسو ته يو داسي شی وښيم چي تر لمانځه ، روژې او صدقې غوره وي ؟ اصحابو رضي الله عنهم وويل : بيخي يې راوښيه . رسول الله ﷺ وفرمايل : په خپل منځ کي ښه سلوک تر ټولو شيانو غوره دئ ، جنګ او جګړه کول ددين خريونکي دی يعني لکه څرنګه چي چاړه د سر وېښتيان خريي او صفاکوي يې جنګ هم داسي دين لمنځه بيايي . دهغه دنيا دارو به څه حال وي چي ددين دعوی کوي غټې تسبيح اړوي خو ټول عمر په جنګو اخته وي . لومړي خو د نبي ﷺ په لارښوونه کي ښه فکر وکړی بيا د خپل دين فکر وکړي ايا په دين کي د صلحي لاره نسته ؟ د روژې په ادبونو کي تېره سوه چي د مسلمان بي عزتي ته رسول الله ﷺ بدترين سود ويلی دئ بد بختانه چي موږ نه د مسلمان د بي عزتي پروا کوو او نه د الله جل جلاله او د هغه د ريشتيني پيغمبر د لارښوونو پروا کوو . الله جل جلاله فرمايي:

ولا تنازعوا فتفشلوا . الاية .ژباړه : جګړې مه کوئ که نه نو کم همته به سئ او زور به ولاړ سي(۱۱)

نن خلک د نورو د بي عزته کولو په فکر کي دي يوازي دي کښيني فکر دي وکړي چي دی خپله د ځان و عزت ته څومره تاوان رسوي او د الله جل جلاله په وړاندي دا ناپاکه کار څومره ذليله دئ . رسول الله ﷺ فرمايي چي څوک د مسلمان ورور سره تر درو ورځو زيات خبري پرېږدي يعني خوابدی سي او مړ سي سيده به دوزخ ته ځي . په يو حديث کي راغلي دي چي هره سې شنبه او پنجشنبه د بندګانو ټوله عملونه و الله جل جلاله ته وړاندي کېږي ( د نيکو عملو نو

(۱۰) مشکوه عن البخاري
(۱۱) بيان القران

په برکت ) ټولو ته د مشرکانو پرته بخښنه کېږي خو د کومو دوو کسانو په منځ کي چي خوابدتیاوي ددوئ په اړه به وویل سي چي دوئ پرېږدئ (یعني بخښنه نه ورته کېږي) تر هغه وخته چي په خپل منځ کي روغه جوړه کوي . په بل حدیث کي راغلي دي چي هره سې شنبه او پنجشنبه د بندګانو عملونه و الله ﷻ ته وړاندي کېږي د توبه کونکي توبه قبلیږي د استغفار ویونکي استغفار قبلیږي خو هغه کسان چي په خپلو منځو کي خوابدي وي پر خپل حال باندي پاتیږي . په یو حدیث کي راغلي دي چي دپنځلسی په شپه ( د برات پنځلسمه ) د الله ﷻ عمومي رحمت و مځکي ته راخوریږي ( او په لږ لږ بهانه ) مخلوق ته بخښنه کېږي یوازي دوو کسانو ته بخښنه نه کېږي یو کافر دئ دوهم هغه څوک دی چي د مسلمان ورور سره په زړه کي کینه لري . په یو حدیث کي راغلي دي چي ددرو کسانو لمونځ د قبولیت لپاره تر سر یوه لویشت هم نه پورته کېږي په دغه درو کسانو کي یو د مسلمان ورور سره جګړه کوونکی دئ . داسي نور حدیثونه هم په دې اړه راغلي دي خو دغه حدیثونه مي ددې لپاره ذکر کړه چي زموږ عوام خلګ خو څه کوې بلکي خاص خلګ چي ځانته شریف او ديندار خلګ وايي د هغوئ مجلسونه هم ددغه ناوړه عمل څخه ډک دي .

فالي الله المشتكى والله المستعان

یوه خبره د یادوني وړ ده هغه دا چي دغه خوابدتیا په هغه صورت کي مراد ده چي ددنیا په وجه وي او که د چا سره د فسق او یا دبل کار په وجه وي نو بیا جائزه ده ابن عمر ﷺ یو ځل د نبي ﷺ څخه یو روایت رانقل کړی نو ځوی یې یو لفظ ووایه چي ظاهراً د اعتراض په ډول معلومېده نو ابن عمر ﷺ د خپل زوي سره تر مرګه پوري خبري نه وکړي . داسي ډیري واقعاتي داصحابو ﷺ څخه رانقل سوي دي خو د زړه په حال الله ﷻ ښه عالم دی چي څوک ددې په وجه د چا سره خوابدي کوي او څوک پر شخصي شیانو سره د الله ﷻ سره خوابدي کوي په ښکاره خو هر سړی د خپلي خوابدۍ نسبت و دین ته کوي .

دوهمه خبره داده چي د الله ﷻ په حکمت باندي راضي کېدل یعني دا چي د شب قدر د مقررتیا پورته کېدل که څه هم په ښکاره لوی تاوان دئ خو دا چي د الله ﷻ دلوري څخه دئ نو ځکه نبي ﷺ وفرمایل چي دا به زموږ لپاره خیر وي . دا ډیره د عبرت او غور خبره ده الله ﷻ ډیر کریم او رحیم ذات دئ یو بنده ته چي غم او مصیبت پیښ سي نو دی د خپلي عاجزۍ اقرار وکړي او الله ﷻ ته رجوع وکړي په دغه حالت کي هم د الله ﷻ کرم او احسان سته کېدلای سي چي هغه مصیبت دده لپاره د لوی خیر سبب وګرځي او د الله ﷻ لپاره هیڅ شی ګران نه دئ.

علماوو د قدر د شپې د پټوالي څو مصلحتونه بیان کړي دي : لومړی دا چي که دغه

شپه معلومه وای نو ډېرو خلکو به یوازې په دغه شپه عبادت کولای په نورو شپو کې به غافله وای نو کله چې دا شپه پټه سوه نو کوم کسان چې ددغه شپې لټه کوي هغوئ ته به د ډېرو شپو توفیق ور نصیب سي. دوهم دا چې که دغه شپه معلومه وای نو ډېرو خلکو به پر ګناه باندي زړورتیا کولای چې ډېره بده خبره ده ځکه ددوئ به یقین وای چې په دغه شپه ټول ګناهونه بخښل کېږي نو ځکه الله ﷻ دغه شپه پټه کړه نو څوک پر دنیا باندي دلاوري نسي کولای ځکه دی په دې آند وي چې ګوره چې زه دغه شپه پیدا کړم که یا . رسول الله ﷺ یوه ورځ مسجد ته راغلی په مسجد کې یو صحابي بیده و رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته امر وکړی چې ویښ یې کړه علي رضي الله عنه هم دغه سړی ویښ کړی بیا یې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ته خو د خیر په کارو کې زیات کوشش کوې نو تاسو دغه سړی خپله ولې نه ویښوئ چې ماته مو وویل؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په دې وجه ما نه کړی ویښ چې داسي نه چې انکار وکړي نو زما د خبرې په انکار سره کافر کېدی او ستا د خبرې په انکار سره نه کافر کېدی نو ځکه مې ویښ نه کړئ چې داسي نه چې کافر سي. د همدې وجهې څخه الله ﷻ نه وغوښتل چې د بزرګې شپې د معلومېدو وروسته یو څوک پر ګناه باندي زړورتیا پیدا کړي .

دریم دا چې که دغه شپه معلومه وای او د یو چا څخه اتفاقا دغه شپه پاته سوې وای نو د فکر خرابۍ او نورو په وجه به بیا هیڅ شپه نه ویښېدلای اوس خو لږه تر لږه دوې درې شپې ددغه شپې په امید روڼوي .

څلورم دا چې څومره شپې ددغه شپې په لټه څوک ویښ پاتېږي د هغو ټولو جلا جلا ثواب دئ.

پنځم دا چې د روژې په میاشت کې الله ﷻ پر ملائکو باندي د خپلو بندګانو په عبادت سره فخر کوي نو څومره چې بندګان د شک په وجه ډېرې شپې روڼوي په هغه اندازه فخر زیاتېږي او که معلومه سي نو بیا دوئ ته د کوششونو څه ضرورت دئ . ددې څخه علاوه نور مصلحتونه ددغه شپې په پټوالي کې سته . په دې کې هم د الله ﷻ لوی حکمت دئ چې مهم شی یې پټ کړی دئ لکه په قرآن کریم کې چې یې اسم اعظم پټ کړی دئ د جمعې په ورځ یو وخت سته چې په هغه کې دعا قبلیږي هغه هم الله ﷻ پټ کړی دئ . دا هم کېدلای سي چې د روژې په هغه میاشت کې یې د جګړې په وجه د قدر شپه پټه کړې وي او په نورو میاشتو کې یې د نورو مصلحتونو پر بنسټ د تل لپاره د قدر شپه پټه کړې وي.

دریمه خبره چې په حدیث کې راغلې ده هغه داده چې ددغه شپې لپاره درې شپې یعني پنځویشتم ، اوه ویشتم ، او نویشتم شپې ښودل سوي دي د نور حدیثونو په نظر کې نیولو

سره دا خبره ثابته ده چي دغه درې شپې د آخري عشري (لسيزي) څخه دي په دې کي نو بيا څو ډوله اميد کېږي که چيري د يويشتم څخه حساب شروع سي نو دغه شپې ۲۹ – ۲۷ – ۲۵ – کېږي او که د پاى د خوا څخه را شروع سي نو ۲۱– ۲۳– ۲۵ کېږي او که مياشت نويشت ورځي سي نو بيا ۲۲– ۲۴– ۲۶– کېږي ددې څخه علاوه ډير روايتونه يې پر ټاکل والي باندي مختلف سته . په همدې وجه د علماوو په منځ ددغه شپې په اړه ډير اختلافات دئ لکه مخکي چي مو وويل آن تر دې چي ددغه شپې په اړه د علماوو ويناوي پنځوسوو ته رسيږي ځينو ددې اختلاف وجه دا ښودلې ده چي دغه شپه تو پير کوي په مختلفو کلو کي په مختلفو شپو کي راځي همدا وجه ده چي د نبيﷺ څخه ددغه شپې په اړه بيل روايتونه راغلي چي په بيلو شپو کي يې ددغه شپې دلټون لارښوونه کړې ده آن تر دې چي ټاکلې شپه يې هم ښودلې ده لکه چي د ابو هريرةؓ څخه چي روايت دی چي رسول اللهﷺ د اصحابو ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي نن د روژې څويمه ده ؟اصحابو ﷺ ورته وويل چي نن دوويشتمه شپه ده رسول اللهﷺ ورته وفرمايل تاسو په دغه شپه کي د قدر د شپې لټه وکړئ. ابو ذرؓ فرمايي چي ما د نبيﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دغه شپه به د نبيﷺ تر زماني پوري خاصه وي او که دده وروسته به هم وي؟ رسول اللهﷺ وفرمايل چي تر قيامته پوري به وي ما بيا پوښتنه وکړه چي د روژې د مياشتي په کومه برخه کي ده؟ رسول اللهﷺ راته وفرمايل :په اولو لسو شپو او يا په آخرو لسو شپو کي يې لټه کوئ بيا رسول اللهﷺ په نورو خبرو اخته سو ما بيا موقع پيدا کړه پوښتنه مي څني وکړه چي يا رسول اللهﷺ ! ددغه لسو شپو په کومه برخه کي به وي؟ رسول اللهﷺ دومره ناراضه سو چي نه ما مخکي ليدلی و او نه وروسته خو بيا يې وفرمايل چي د الله ﷻ که ددې شپې ښودل مقصود وای نو ښودلي به يې وای تاسو يې په وروسته اوو شپو کي لټه کوئ نوري پوښتني مه کوئ . يو صحابيؓ ته رسول اللهﷺ په ټاکلي ډول وښودل چي درويشتمه شپه ده .

ابن عباسؓ فرمايي چي زه بيده وم يو چا په خوب کي راته وويل چي کښينه د قدر شپه ده زه ژر ژر راکښېنستم د رسول اللهﷺ حضور ته راغلم رسولﷺ د لمانځه نيت تړلی و دغه شپه درويشتم وه. په ځينو روايتو کي په ټاکلي ډول څلرويشتم شپه په ټاکلي ډول معلوميږي. حضرت ابن مسعودؓ فرمايي چي څوک ټوله کال ويښ وي هغه د قدر شپه پيدا کولای سي يعني د قدر شپه د ټول کال په شپو کي ګرځي يو چا ابي بن کعبؓ ته دغه خبره وکړه ده مبارک ورته وويل چي د ابن مسعودؓ مقصد دادئ چي په ټوله کال کي پر يوه شپه باندي هم صبر مه کوئ بيا يې قسم ياد کړی چي دغه شپه د اوويشتم ده . همدا ډول د ډېرو

اصحابو رضي الله عنهم او تابعينو نظر دادی چې د قدر شپه په اوويشتم ده. د ابي بن کعب رضي الله عنه تحقيق هم دادی چې دغه شپه په اوويشتم ده که نه نو د ابن مسعود رضي الله عنه وينا ښيي چې په ټوله کال کې ګرځي. د درمنثور د يوه روايت څخه داسي معلوميږي چې د رسول الله ﷺ څخه ارشاد هم دی. په امامانو کې د امام ابو حنيفة رحمه الله نظر هم دادی چې دغه شپه په ټوله کال کې ګرځي. دده مبارک دوهم قول دادی چې د روژې په ټوله مياشت کې ګرځي. د يارانو نظر دادی چې د روژې په مياشت کې يوه ټاکلي شپه ده خو معلومه نه ده. د امام شافعي رحمه الله راجح قول دادی چې د يويشتم په شپه کې غالبا ده. د امام مالک او امام احمد حنبل (رحمة الله عليهما) نظر دادی چې دغه شپه د روژې د مياشتې په اخرو لسو شپو کې پر تاک (طاق) تاريخ باندې پيدا کېږي يو کال يوه شپه وي بل کال بله شپه وي د جمهورو علماوو نظر دادی چې د اوويشتم شپه ده. شيخ العارفين محي الدين ابن عربي رحمه الله فرمايي: زما په آند دهغه خلګو خبره ډيره صحيح ده چې وايي د قدر شپه په ټوله کال کې ګرځي ځکه ما دوه واره د برات په مياشت کې پر پنځلسم او نولسم تاريخ باندې ليدلي ده او دوه واره مې د روژې د مياشتې په منځني لسو شپو کې ليدلي ده يعني پر ديارلسم او اتلسم تاريخ باندې او د روژې په آخرو لسو شپو کې مې پر تاک تاريخ هم ليدلي ده نو ځکه زما يقين دی چې د قدر شپه د ټول کال په ورځو کې ګرځي خو زياته د روژې په مياشت کې راځي زموږ شاه ولي الله صاحب فرمايي: د قدر شپه په کال کې دوه واره ده يوه شپه هغه ده چې الهي احکام پکښې نازليږي او قرانکريم په دغه شپه د لوح محفوظ څخه د دنيا و اسمان ته نازل سوي دي دغه شپه د روژې په مياشت پوري خاصه نه ده په کوم کال چې قرآن کريم نازل سوي دی په هغه کال د قدر شپه په روژه کې وه او زيات وخت په روژه کې وي او دوهمه د قدر شپه د روژې په مياشت پوري خاصه ده په دغه شپه روحانيت خوريږي ملائکې راکښته کېږي، دعاوي قبليږي دغه شپه د روژې د مياشتې په آخرو لسو ورځو کې په تاک، تاک شپه کې پيدا کېږي زما پلار رحمه الله هم دغه وينا غوره کړې ده. په هر صورت د قدر شپه يوه وي او که دوې وي هر څوک يې بايد د خپل توان سره سم په کال کې لټه وکړي. که يې په ټوله کال کې لټه نسي کولای نو د روژې په مياشت کې دي هڅې پسې وکړي او که دا هم نسي کولای نو په اخرو لسو ورځو کې دي لټه پسې وکړي او که دا هم نسي کولای نو په آخرو لسو ورځو کې دي په تاک (طاق) شپو کې لټه وکړي او که خدای مه کړه دا هم ورته ګرانه وي نو د اوويشتم شپه خو دي بيخي نه پريږدي. که يو څوک دغه شپه پيدا کړي نو د دنيا ټوله نعمتونه او راحتونه د دغه شپې په مقابل کې پر هيڅ دي او که يې پيدا نه کړي نو بيا هم د ثواب څخه نه خالي کېږي يعني د دغه شپې عبادت

يې بې ځايه نه ځي. په هر صورت د ماښام او ماخوستن لمونځ بايد هر څوک په پابندۍ سره په جماعت وکړي ځکه په ټوله کال کي خو د قدر شپه سته نو ته چي دغه دوه لمونځونه په دغه شپه کي په جماعت وکړي هم لوی ثواب دئ او د زياتو جماعتونو ثواب به لاسته راوړي. داد اللهﷻ څومره لوی انعام دی چي يو څوک ديوه ديني کار د لټون په صورت کي نا کامه هم سي بيا هم اللهﷻ ثواب ورکوي. داسي نو ډير د همت څښتنان سته چي ددين لپاره کوششونه کوي او ددې په مقابل کي که څوک ددنيايي موخو لپاره هڅي وکړي نو که کاميابه نسي هغه کوششونه يې بې ځايه ځي. تاسو وګورئ چي ددنيا د بې ګټو کارو لپاره څومره خلګ اخته دي ځان او مال دواړه بربادوي.

ببین تفاوت ره از کجا است تا به کجا

وګوره توپير د لاري دکوم ځای څخه تر کومه ځايه پوري دی

٦ : عن عبادة بن صامتؓ ان سئل رسول اللهﷺ عن ليلة القدر فقال في رمضان في العشر الاواخر فانها في ليلة وترفي احدى وعشرين اوثلث وعشرين او خمس وعشرين اوسبع وعشرين او تسع وعشرين او آخر ليلة من رمضان من قامها ايمانا واحتسابا غفرله ماتقدم من ذنبه ومن اماراتها انها ليلة بلجة صافية ساكنة ساجية لا حارة ولا باردة كان فيها قمرا ساطعا ولا يحل لنجم ان يرمي به تلک اليلة حتى الصباح ومن اماراتها ان الشمس تطلع صبيحتها لاشعاع لها مستوية كانها القمر ليلة البدر وحرم الله على الشيطان ان يخرج معها يومئذ.(١٢)

ژباړه : عباده بن صامتؓ د رسول اللهﷺ څخه د قدر د شپې پوښتنه وکړه رسول اللهﷺ ورته وويل : دغه شپه د روژې د مياشتي په آخرو لسو شپو کي پر طاق تاريخ باندي ده څوک چي په دغه شپه د ايمان او ثواب په نيت عبادت وکړي نو تېر ګناهونه به يې ټوله وبخښل سي. نښاني يې دادي چي دغه شپه روښانه، پراخه او پاکه شپه ده ارامه شپه ده ميانه ده نه ډيره يخه ده او نه ډيره ګرمه ده ګويا (د انوارو د اوربدو) په وجه سپوږمۍ صفا ده په دغه شپه کي به په شيطانانو پسې ستوري نه ويشتل کيږي او ددغه شپې نښاني دادي چي لمر ددغه شپې په سهار د پلوشو پرته راخيږي برابر لکه د څوارلسم سپوږمۍ او په دغه سهار د لمر ختو په وخت کي اللهﷻ شيطانان د راختو څخه منعه کړي. (په خلاف د نورو ورځو چي شيطانان د لمر ختو سره را پورته کيږي)

(۱۲) درمنشور عن احمد و بيهقي ومحمدبن نصر وغيرهم

**فایده** :ـ د پورتني حدیث مضمون په لومړنیو حدیثو کي تیر سوی دی یوازي ددې حدیث په آخر کي د قدر د شپې نښاني بیان سوي دي چي ښه روښانه دي نور تفصیل ته اړتیا نه لري .

ددې څخه علاوه په نورو روایتو او د هغه خلګو په ویناوو کي نوري نښې هم بیان سوي دي . په ځانګړې ډول د قدر د شپې په سهار چي لمر پلوشي نه لري دغه نښانه په ډیرو روایتو کي راغلي ده او خامخا به وي نوري علامي ضرور نه دي چي خامخا به وي.عبدة بن ابي لبابةﷺ فرمايي : چي ما دروژې دمیاشتي داوویشتم په شپه ددریاب اوبه وچیښي بالکل خوږې وي .

ایوب بن خالد رحمة الله علیه لیکي : زما و غسل ته اړتیا پیښه سوه دغه شپه د روژې درویشتم وو نو ما په دریابي اوبو غسل وکړی ددریاب اوبه بالکل خوږي وي . عالمانو لیکلي دي: چي د قدر په شپه ټول شیان پر سجده کېږي آن تر دې چي درختي هم پر سجده سي بیا بیرته پورته سي خو ددغه حالت کشف و هر چاته نسي کېدلای .

۷ :عن عائشةرضي الله عنها قالت قلت یا رسول الله! ارایت ان عملت اي لیلة لیلة القدر ما اقول فیها قال قولي اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عني (۱۳)

ژباړه عائشةرضي الله عنها فرمايي : چي ما د نبيﷺ څخه پوښتنه وکړه چي که ما ته د قدر شپه معلومه سي نو کومه دعا ووایم رسول اللهﷺ راته وویل : دا دعا ووایه:اللهم انک تحب العفو فاعف عني.

ژباړه : اې خدایه ! ته عفوه خوښوي نو ما ته عفوه وکړي.

**فایده** :ـ دا ډیره ښه جامع دعا ده ځکه چي الله جل جلاله د آخرت ټولي غوښتني راپوره کړي تر دې نو ښه کار چیري دی.

من نه گویم که طاعت بپذیر     قلم عفو برگناهم کش

ژباړه : داسي نه وایم چي عبادت مي قبول کړه بلکي د عفوي قلم مي پر ګناه راکش کړه یعني بخښنه راته وکړه .

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمايي: په دغه شپه کي د نورو عبادتونو په پرتله په دعا مشغولېدل زیات غوره دي. ابن رجب رحمة الله علیه فرمايي : یوازي په دعا دي نه مشغوله کېږي بلکي په مختلفو عبادتونو مشغولېدل غوره دي. لکه لمونځ ، تلاوت ،دعا ، مراقبة او داسي

(۱۳) رواه احمد و ابن ماجة والترمذي وصححه کذافي المشکوة

نور ځکه د نبيﷺ څخه دغه ټوله ثابت دي. همدغه قول ښه دی ځکه په تيرو حديثونو کې د لمانځه او نور عبادتونو فضيلتونه په دغه شپه راغلي وه.

# دريم فصل

## د اعتکاف بيان

په مسجد کي ټاکلي وخت د اعتکاف په نيت اوسېدل د اعتکاف څخه عبارت دئ د حنفي مذهب د علماوو په آند اعتکاف پر درې ډوله دی يو اعتکاف واجب دی دغه اعتکاف د نذر کولو څخه عبارت دئ د مثال په ډول چي څوک ووايي که زما دغه کار وسو زه به دومره ورځي اعتکاف کوم نو پرده باندي د کار د اجرا وروسته په هغه اندازه اعتکاف کول واجب دي او يا د کار شرط ونه لګوي بلکي داغسي ووايي چي پر ما باندي دومره ورځي اعتکاف نذر دئ په دغه صورت کي هم د اعتکاف اجرا کول واجب دي.

دوهم ډول اعتکاف سنت دئ دا هغه اعتکاف دی چي د روژې د مياشتي په آخرو لسو ورځو کي کېږي چي د رسول اللهﷺ مبارک عادت هم داسي و. دريم ډول اعتکاف نفل دی دغه اعتکاف نه دورځو تعين لري او نه د وخت هر وخت چي يې زړه وغواړي کولای يې سي که څه هم د ټول عمر نيت وکړي البته په کښته اندازه کي يې اختلاف سته د امام ابو حنيفةرحمة الله عليه په آند تر يوې ورځي کم اعتکاف نسي کېدلای خو د امام محمد (رح) په آند د لږ ساعت لپاره هم اعتکاف کېدای سي او هم پر دغه قول باندي فتوی د علماوو ده . په همدې وجه هر چا ته پکار ده چي کله مسجد ته ننوزي د اعتکاف نيت دي وکړي نو تر څو چي په لمانځه مشغول وي د اعتکاف ثواب به هم ورته رسيږي . ما خپل پلار صاحب ډير وخت ليدلي و چي مسجد ته به ننوتي درستي پښې ددننه کولو سره به يې د اعتکاف نيت کاوه کله کله به يې د خادمانو د تعليم په مقصد نيت په زوره وکړی . د اعتکاف زيات فضيلتونه دي تر دې به نو لوي فضيلت چيري وي چي رسول اللهﷺ به تل د اعتکاف اهتمام کاوه . د اعتکاف کونکي مثال داسي دی لکه چي څوک د يو چا په دروازه کي پرېوزي او وايي چي تر څو چي مي خواست قبول نه کړي د ښورېدو نه يم .

*نکل جاتی دم تيري قدموں کی نيچی      يہی دل کی حسرت يہی آرزو ہی*

ژباړه: ستا تر قدمو لاندې ساه وزي دا زما د زړه ارمان دی او دامې آرزو ده . که په حقیقت کې څوک داسې وکړي نو هر څومره سخت زړه چې يې وي نرم به سي الله ﷻ ډیر کریم ذات دی د بخښني لپاره بهانې لټوي بلکې بې بهانو هم بخښنه کوي

*تو وه داتا ہی کہ دینے کی لیے در تری رحمت کی ہیں ہر دم کھلی*

ژباړه: ته د ورکړې هغه ذات يې چې ستا دورکړې لپاره په هر آن دروازې درحمت خلاصې دي.

*خدائی کی دین کا موسیٰ سی پوچھی احوال کہ آگ لینی کو جائیں پیمبری مل جائی*

ژباړه: د الله ﷻ د ورکړې په اړه د موسی ﷺ احوال و پوښتی چې په اورپسې تللې و الله ﷻ پیغمبري ورکړه.

په همدې وجه څوک چې دنیا پریږدي د الله ﷻ په دربار کې پریوزي نو بیا دده غوښتنې په پوره کیدو کې څه وخت لګیږي او الله ﷻ چې پر چا باندې انعام وکړي نو د ډکو خزانو بیان یې څوک کولای سي . ددې څخه وروسته زه د بیان څخه عاجزه یم . ځکه تل نامرد د بلوغ کیفیت چیرې بیانولای سي خو هغه وخت چې کلکه اراده وکړي

*جس گل کو دل دیا ہی جس پھول پر فدا ہون یا وہ بغل میں آئی یا جان قفس سی چھوٹی*

ژباړه: کوم ګل ته مې زړه ورکړې او پر کوم ګل باندې قربان یم یا به مې هغه ولورې ته راسي او یا به مې روح د بدن څخه جلا سي.

ابن قیم رحمة الله علیه فرمايي: چې د اعتکاف مقصد دادی چې د معتکف (اعتکاف کونکي) زړه او روح د الله ﷻ سره وتړل سي ، د ټولو خواوو څخه فکر رابند کړي یوازې د الله ﷻ سره پیوست سي، د ټولو بوختیاوو په بدله کې د الله ﷻ سره مشغول سي، د الله ﷻ پرته د ټولو څخه اړیکې وشکوي او داسې بوخت واوسيږي چې په زړه کې يې د ټولو فکرونو پر ځای د الله ﷻ مینه کښیني او دغه مینه د قبر د وحشت په وخت کې په کار راځي په دغه ورځ به د الله ﷻ پرته نه بل ملګری وي او نه به زړه خوشاله کونکی وي که زړه ورسره بلد سوی وي نو څومره به په خوند وخت پرې تیریږي .

*جی ڈھونڈتا ہی پھر وہی فرصت کہ رات دن بیٹھا رہوں تصور جانان کئی ہوئی*

ژباړه: زړه د هغه شپې او ورځې فرصت لټوي ، ناست یم د خپل جانان فکر پکښې کوم.

د مراقي الفلاح مؤلف لیکي : اعتکاف چې په اخلاص وي د بهترینو عملونو څخه دی

ځانګړتیاوې یې دومره ډیرې دي چې تر اندازې وتلي دي ځکه چې داعتکاف په کولو کې زړه ددنیا او د هغه شیانو څخه چې په دنیا کې دي پرېکېږي او دالله ﷻ سره مشغوله کېږي او خپل نفس و الله ﷻ ته سپارل کېږي

*پهرجي مي هى كه در پر كسى كي پړا رهون سرزير بار منت دربان كئى هى*

ژباړه: زړه مي غواړي چې د یو چا په در کې وای او سر مي د درباري تر منت لاندې وای.
همدا ډول د اعتکاف په وخت کې ټول وخت په عبادت کې مشغولتیا وي یعنې خوب ، ویښوالي ، خوراک او څیښاک او داسي نور یې ټوله په عبادت کې شمېرل کېږي . او الله ﷻ ته نژدېوالی دی. په یو حدیث کې راغلي دي چې الله ﷻ فرمایي څوک چې زما لوري ته یوه لویشت رانژدې سي زه به یو ګز ورنژدې سم او څوک چې زما لوري ته یو ګز رانژدې سي زه به دوه ګزه ورنژدې سم څوک چې زما لوري ته کرار کرار راځي زه په منډه ورځم یعنې زما رحمت ورځي . اعتکاف کول د الله ﷻ په کور کې اوسېدل دي څوک چې د سخي چا په کور کې ډیره کېږي سخي یې خامخا ډیر قدر او عزت کوي . همدا ډول معتکف د الله ﷻ په کلا کې محفوظ دی چې هیڅ دښمن رسیدګي نسي ورته کولای . او داسي نور فضیلتونه هم سته چې په دغه مهم عبادت کې نغښتي دي.

مسئله : د اعتکاف لپاره تر ټولو غوره ځای مکه مکرمة ده بیا مدینة منوره ده بیا بیت المقدس دی ، بیا جامع مسجد دی او بیا د خپل محل مسجد دی. د امام ابو حنیفة رحمة الله علیه په آند د اعتکاف د مسجد لپاره دا شرط دی چې پنځه وخته جماعت به پکښي کیږي خو د یارانو په آند شرعي مسجد کفایت کوي.که څه هم یو وخت لا جماعت نه پکښي کېږي . د ښځو لپاره اعتکاف په هغه ځای کې کېږي چې دوئ دلمانځه لپاره خاص کړی وي که ښځه د لمانځه لپاره ټاکلی ځای نه لري نو په کور کې دي یو ځای ویو کونج ته د لمانځه لپاره خاص کړي په هغه ځای کې دي اعتکاف هم کوي . د ښځو لپاره د نارینو په پرتله اعتکاف ډیر اسانه دی ځکه په کور کې اعتکاف کوي د کور کارونه د نجنو یا نورو په واسطه هم تر سره کوي او ثواب هم تر لاسه کوي خو ددې اسانتیا سره سره هم ښځي ګویا ددې سنت څخه بې برخي دي .

۱ : عن ابي سعيد الخدري ﷺ ان رسول الله ﷺ اعتكف العشر الاول من رمضان ثم اعتكف العشر الاوسط في قبة تركيه

ژباړه : ابې سعید خدري ﷺ فرمایي چې رسول الله ﷺ د روژې د میاشتي په اولو لسو ورځو کې اعتکاف وکړی بیا یې په منځنۍ لسو ورځو کې په یوه ترکۍ

ثم اطلع رَأسه فقال اني اعتكفت العشر الاول التمس هذه الليلة ثم اعتكفت العشر الاوسط ثم اتيت فقيل لي انها في العشر الاواخر فمن كان اعتكف معي فليعتكف في العشر الاواخر فقد أُرِيت هذه الليلة ثم انسيتها وقد رايتني اسجد من ماء وطين من صبيحتها فالتسموها في العشر الاواخر والتسموها في كل وتر قال فمطرت السماء تلک الليلة وكان المسجد على عريش فوكف المسجد فبصرت عيناي رسول اللهﷺ وعلى جبهته اثرالماء والطين من صبيحة احدى وعشرين (١٤)

خيمه كې اعتكاف وكړئ ( په دغه بهير كې يې ) سر راوايستي او وې فرمايل چې ما په اولو لسو ورځو كې اعتكاف د قدر د شپې په اميد وكړى بيا مې په منځني ورځو كې ددغه شپې په اميد اعتكاف وكړى بيا ماته يو چا ( ملائكي ) وويل چې دغه شپه په اخرو لسو شپو كې ده نو څوک كه زما سره اعتكاف كوي ودې يې كړي ماته دغه شپه وښودل سوه بيا را څخه هېره سوه (نښانه يې داده ) چې ما ددغه شپې په سهار په خټو كې خپل ځان سجده كونكي وليدى نو تاسو ددغه شپې لټه په طاق ،طاق شپه كې كوئ . روايت كونكى وايي په دغه شپه باران وسو د مسجد بام په خاشو او لرګو پټ و ما د يويشتمې شپې په سهار رسول اللهﷺ په خپلو سترګو وليدى چې تندى يې په خټو لړلى و

**فايده:** د رسول اللهﷺ مبارک عادت زيات وخت اعتكاف كول و خو په دغه مياشت كې يې ټوله مياشت اعتكاف وكړى .په كوم كال چې يې ددنيا څخه تشريف وړى په هغه كال شل ورځې په اعتكاف كې پاته سو او اكثره وخت به يې د روژې آخري لس ورځې اعتكاف كاوه په همدې وجه علماء وايي چې دغه اعتكاف كول سنت موكد دئ . د پورتني حديث څخه معلومېږي چې د اعتكاف مقصد د قدر شپې لټون دئ او ددغه كار لپاره اعتكاف كول مناسب هم دئ ځكه كه معتكف بيده هم وي بيا هم پر عبادت شمېرل كېږي . بله خبره داده چې په اعتكاف كې يوې او بلې خواته تلل او نور كارونه كول نسته نو ځكه دده بوختيا يوازې د عبادت كول دي . په همدې وجه څوک چې د قدر شپه غواړي نو بهترينه لاره يې اعتكاف كول دي. رسول اللهﷺ به لومړى په ټوله روژه كې زيات عبادت كاوه بيا په آخرو لسو شپو كې خوبه يې هيڅ اندازه نه وه خپله به ويښ و او د كورنۍ د ويښولو به يې هم زيات اهتمام كاوه لكه د صحيحينو د زياتو روايتونو څخه چې معلومېږي. د بخاري او مسلم په يو روايت كې حضرت عائشةرضي الله عنها فرمايي: چې رسول اللهﷺ به دروژې په آخرو لسو شپو كې لنګ ټينګ وتړى شپې به يې روڼولې او د خپل كور خلک به يې هم ويښول . د لنګ ټينګ تړلو څخه

---

(۱۴) مشكوة عن المتفق عليه باختلاف اللفظ

مقصد داو چي په عبادت کي به يې زيات کوشش کاوه او هم کېداى سي چي مطلب يې دا و چي د خپلو بيبيانو څخه به يې بېلخي ځان ساتى.

٢ : عن ابن عباسؓ ان رسول اللهﷺ قال في المعتكف هو يعتكف الذنوب ويجري له من الحسنات كعامل الحسنات كلها (١٥)

ژباړه : ابن عباسؓ د رسول اللهﷺ څخه روايت کوي چي رسول اللهﷺ د معتکف په اړه وفرمايل : معتکف د ګناهونو څخه محفوظ دئ او دومره نيکي ورته ليکل کېږي لکه دټولونيکيو دکونکي لپاره.

**فايده** : په پورتني مبارک حديث کي د اعتکاف دوې خاصي فائدې بيان سوي دي لومړۍ دا چي معتکف به د ګناه څخه محفوظ وي که نه نو انسان ډېر واري د ځينو کمزوريانو له وجهي خامخا په ځينو ګناهونو اخته کېږي او په داسي مبارک وخت کي ګناه کول څومره لوى ظلم دى خو ددغه اعتکاف په وجه به په امن وي . دوهمه خبره داده چي معتکف چي ځيني نيک کارونه د اعتکاف په وجه نسي کولاى لکه جنازه ، د مريض پوښتنه او داسي نور بېله کولو به يې اللهﷻ ثواب ورکړي. الله اکبر! څومره داللهﷻ لوى رحمت دى چي د يوه عبادت په بدله کي اللهﷻ د لسو عبادتو ثواب ورکوي دا په حقيقت کي بخښني ته بهانه لټول دي لړغوندي توجه غواړي د رحمت باران په شيبو وريږي .

*به بہانہ می دہد بہ بہانہ می دہد.*

ژباړه : په بهانه يې ورکوي په بې قيمته يې نه ورکوي .

خو زموږ د خلګو سره ددې قدر نسته اړتيا يې نه بولو توجه څوک کوي ؟ ولي يې وکړي چي زموږ په زړو کي ددين قدر نسته .

*اس کی الطاف توہی عام شہید سب پر تجھ سی کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوتا*

ژباړه: شهېد د هغه مهربانۍ پر ټولو عامي دي ستا سره يې څه ضد و خو که ته د يو شي وړ واى .

٣ : عن ابن عباس ؓ انه كان معتكفا في مسجد رسول اللهﷺ

ژباړه : ابن عباسؓ په مسجد نبوي کي په اعتکاف کي و چي يو سړى راغلى پټه خوله کښېناستى ابن عباسؓ

(١٥) مشکوة عن ابن ماجة

فاتاه رجل فسلم عليه ثم جلس فقال له ابن عباسﷺ يا فلان اراک مکتئبا حزينا قال نعم يا ابن عم رسول الله لفلان على حق ولا حرمة صاحب هذالقبر ما اقدر عليه قال ابن عباس ﷺ افلا اكلمه فيک قال ان احببت قال فانتعل ابن عباس ثم خرج من المسجد قال له الرجل انسيت ماكنت فيه قال لا ولكني سمعت صاحب هذالقبرﷺ والعهد به قريب فدمعت عيناه وهو يقول من مشى في حاجة اخيه وبلغ فيها كان خيرا له من اعتكاف عشر سنين ومن اعتكف يوما ابتغاء وجه الله جعل الله بينه وبين النار ثلث خنادق ابعد مما بين الخافقين. (١٦)

پوښتنه ځني وکړه چي اې فلانکيه ! غمجن او خفه دي وينم څه وجه ده ؟ هغه سړي ورته وويل چي اې د رسول اللهﷺ د اکا زويه ! پر ما باندي د يو سړی حق دی زما دي ددغه قبر دخاوند په عزت قسم وي چي د پوره کولو توان يې نه لرم درسول اللهﷺ و قبر ته يې اشاره وکړه . ابن عباسؓ ورته وويل : ايا زه ستا سپارښت وکړم ؟ هغه سړي ورته وويل : څنګه چي ته لازمه بولي هغسي وکړه ابن عباسؓ څپلی په پښو کړې د مسجد څخه دباندي راووتی هغه سړي ورته وويل چي تا خپل اعتکاف هېر کړی ابن عباسؓ ورته وويل چي هير کړی مي نه دی ما ددې قبر د خاوند څخه اوريدلي دي چي لږ وخت نه و تير سوی ( چي د دې الفاظو په ويلو سره ) د ابن عباسؓ د سترګو څخه اوښکي رواني سوې چي نبيﷺ و فرمايل : څوک چي د مسلمان ورور د حاجت پوره کولو لپاره ووزي کوشش وکړي تر لسو کالو اعتکاف ثواب زيات لري او څوک چي يوه ورځ د اللهﷻ د رضا لپاره اعتکاف ورکړي دده او ددوزخ تر منځ به درې خندقونه پيدا سي يو خندق د ځمکي او اسمان تر فاصلې زيات دئ . نو دلسو کالو به څومره فضيلت وي چي د يو ې ورځي دومره فضيلت دی .

**فايده** :ـ د پورتني حديث څخه دوه مضمونونه معلوم سول .لومړی دا چي ديوې ورځي اعتکاف دومره فضيلت دی چي دده او دوزخ تر منځ درې خندقونه جوړيږي د يوه خندق به دومره لوی والي وي لکه ټول جهان او تر يوې ورځي چي اعتکاف څومره زياتيږي ثواب يې هم په هغه اندازه زياتيږي علامة شعرانيؒ په کشف الغمة کي د رسولﷺ څخه نقل کوي چي رسول اللهﷺ فرمايي : د روژې د آخرو لسو ورځو اعتکاف ددوو حجو او دوو عمرو ثواب لري . او څوک چي د ماښام تر لمانځه وروسته تر ماخوستنه پوري په داسي مسجد کي اعتکاف وکړي چي جماعت پکښي کېږي او د تلاوت او لمانځه پرته د بل چا سره خبري نه

(١٦) رواه الطبراني في الاوسط والبيهقي واللفظ له والحاكم مختصرا وقال صحيح الاسناد كذا في الترغيب وقال السيوطى في الدر صححه الحاكم وضعفه البهيقي

وکړي الله ﷻ به په جنت کي یوه ماڼۍ ورکړي .

دوهمه خبره دا چي تر پورتنۍ خبري هم مهمه خبره ده هغه د مسلمان ورور حاجت پوره کول دي چي تر لسو کالو اعتکاف یې ثواب زیات ښودل سوی دئ همدا وجه وه چي ابن عباس رضی الله عنه د خپل اعتکاف پروا ونه کړه ځکه ددې اعتکاف پوره والی په قضا سره ممکن دی همدا وجه ده چي صوفیان وایي : د الله ﷻ په وړاندي چي د مات زړه څومره قدر دی د بل هیڅ شي نسته . همدا وجه ده چي په حدیثو کي د مظلوم د ښرا وو څخه ویره کول ښودل سوي ده . رسول الله ﷺ چي به څوک د یو ځای حاکم مقرر کړی نو دا به یې ورته فرمایل : واتق دعوة المظلوم . یعني د مظلوم د ښراوو څخه ځان وساته .

*بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن اجابت از در حق بهر استقبال می آید.*

ژباړه : د مظلوم د آه څخه وویرېږه چي ښراوي قبلیدل د الله ﷻ ددربار څخه د استقبال سره راځي په دې ځاي کي یوه مسئله د یادوني وړ ده هغه دا چي څوک د اعتکاف څخه د مسلمان د حاجت پوره کولو لپاره ووزي اعتکاف یې ماتیږي که اعتکاف واجب و نو قضا یې واجب ده. رسول الله ﷺ به د بشري اړتیا پرته د مسجد څخه نه واتی .

د ابن عباس رضی الله عنه قرباني یعني د بل لپاره د اعتکاف ماتوالی دداسي خلګو لپاره مناسب و چي خپله به مړه کېدل خو آخري څاڅکي او به یې خپل ملګري ته مخکي ورکولي خپله یې نه چیښلي آن تر دې چي ترې به شهید سو لکه مخکي چي یې قصه تیره سوه او ممکن چي د ابن عباس رضی الله عنه اعتکاف نفلي و په دغه صورت کي نو بیا هیڅ ډول اشکال نه پیدا کېږي په آخره کي یو اوږد حدیث بیانوم چي مختلف فضائل پکښي بیان سوي دي او دا رساله پای ته رسوم.

# خاتمه

٤ : عن ابن عباس رضی الله عنه انه سمع رسول الله ﷺ يقول ان الجنة لتبخر وتزين من الحول الى الحول لدخول شهر رمضان فاذا كانت اول ليلة من شهر رمضان هبت ريح من تحت العرش يقال لها المثيرة فتصفق

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ فرمایي : د روژې د میاشتي لپاره و جنت ته خوشبویی ورکړل سي او د کال د پیل څخه تر آخره پوري جنت د روژې په خاطر ښائسته کړل سي کله چي د روژي اوله شپه سي نو تر عرش لاندي یوه هوا وچلیږي چي نوم یې مثیره دی ( ددغه هوا د چلیدو په وجه ) د جنت

ورق اشجار الجنان وحلق المصاريع فيسمع لذالک طنين لم يسمع السامعون احسن منه فتبرز الحور العين حتى يقفن بين شرف الجنة فينادين هل من خاطب الى الله فيزوجه ثم يقلن الحور العين يارضوان الجنة ماهذه اليلة فيجيبهن باالتلبية ثم يقول هذه اول ليلة من شهر رمضان فتحت ابواب الجنة لصائمين من امة محمدﷺ قال ويقول الله عز وجل يا رضوان افتح ابواب الجنان و يا مالک اغلق ابواب الجحيم عن الصائمين من امة احمدﷺ ويا جبرائيل اهبط الي الارض فاصفد مردة الشيطين وغلهم باالاغلال ثم اقذفهم في البحار حتى لايفسدوا على امة محمد حبيبيﷺ صيامهم قال ويقول الله عزوجل في كل ليلة من شهر رمضان لمناد ينادي ثلث مرات هل من سائل فاعطيه سؤله هل من تائب فاتوب عليه هل من مستغفر فاغفرله من يقرض المليء غير العدوم والوفي غير الظلوم قال ولله عز وجل في كل يوم من شهر رمضان عند الافطار الف الف عتيق من النار كلهم قد استوجبوا

ددرختو پاڼي او ددروازو حلقې يو د بل سره وجنګيږي او يو داسي ښائسته اواز ځني راووزي چي اوريدونکي ددې پرته نه دی اوريدلي بيا د ښائسته سترګو ميرمني حوري د خپلو کورونو څخه راووزي د جنت دلوړو ودانيو په منځ کي ودريږي داسي اوازونه کوي چي څوک د اللهﷻ په دربار کي زموږ سره واده کوي چي اللهﷻ موږ ورسره جوړه کړي بيا حوري د جنت ددروازواني ملائکي (رضوان) څخه پوښتنه وکړي چي دا څنګه شپه ده ؟ رضوان په لبيک سره جواب ورکړي چي د روژې د مياشتي اوله شپه ده د جنت دروازې د محمدﷺ د امت لپاره خلاصي سوي دي . رسول اللهﷺ و فرمايل چي اللهﷻ د جنت دروازه واني ( رضوان ) ته ووايي چي د جنت دروازې خلاصي کړه او ددوزخ دروازه واني (مالک) ته ووايي چي د احمدﷺ د امت پر روژاتيانو باندي ددوزخ دروازې بندي کړه .جبرائيلؑ ته به امر وکړي چي مځکي ته کښته سه شيطانان بند کړه ځنځيرونه ورواچوه بيا يې په درياب کي و غورځوه چي زما د محبوب محمدﷺ د امت روژې خرابي نه کړي . رسول اللهﷺ دا هم وويل چي اللهﷻ د روژې په هره شپه کي يو اواز کونکي ته امر کوي چي درې ځله دا اواز وکړه : څوک غوښتونکي سته چي زه يې ورکړم څوک توبه ايستونکي سته چي زه يې توبه قبوله کړم څوک بخښنه غوښتونکي سته چي زه بخښنه ورته وکړم څوک داسي سته چي داسي غني ته قرض ورکړي چي ناداره نه دی او داسي پوره پوره اداکونکي دی چي يوه ذره هم کمی نه کوي . رسول اللهﷺ و فرمايل چي اللهﷻ د روژې په مياشت کي هر شپه د روژمات په وخت کي لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) داسي کسان د اور څخه ازادوي چي ددوزخ مستحق وي ، کله چي د

النار فاذا كان آخر يوم من شهر رمضان اعتق الله في ذالک اليوم بقدر مااعتق من اول الشهر الي آخره واذاكانت ليلة القدر يامرالله عز وجل جبرائيل فيهبط في كبكبة من الملائكة ومعهم لواء اخضر فيركز اللوآء على ظهر الكعبة وله مائة جناح منها جناحان لا ينشرهما الا في تلک الیلة فينشرهما في تلک الیلة فيجاوزان المشرق الى المغرب فيحث جبرائيل عليه السلام الملائكة في هذه اليلة فيسلمون على كل قائم وقاعد ومصل وذاكر ويصافحونهم ويؤمنون على دعائهم حتى يطلع الفجر فاذاطلع الفجر ينادي جبرائيل معشر الملائكة الرحيل الرحيل فيقولون ياجبرائيل عليه السلام فما صنع الله في حوائج المؤمنين من امة احمد ﷺ فيقول نظر الله اليهم في هذه اليلة فعفا عنهم وغفرلهم الا اربعة فقلنا يارسول الله! من هم قال رجل مدمن خمر وعاق لوالديه وقاطع رحم ومشاحن قلنا يارسول الله! ما المشاحن قال هوالمصارم فاذاكانت ليلة الفطر سميت تلک اليلة ليلة الجائزة فاذا كانت غداة الفطر بعث الله عز وجل الملائكة في كل بلاد فيهبطون الي الارض

روژې آخري شپه سي نو الله ﷻ دومره خلګ د اور څخه ازاد کړي لکه په ټوله روژه کي چي يې ازاد کړي وه . کله چي د قدر شپه سي الله ﷻ جبرائيل عليه السلام ته امر وکړي جبرائيل عليه السلام د ملائکو د يوه لښکر سره مځکي ته راکښته سي يو زرغون بيرغ ورسره وي د کعبې شريفي پر بام يې ښخ کړي . د جبرائيل عليه السلام سل وزره دي چي دوه وزره يې يوازي په دغه شپه غوړيږي چي د ختيځ څخه تر لويديځ پوري خواره سي بيا جبرائيل عليه السلام و ملائکو ته ترغيب ورکوي چي کوم مسلمان چي ولاړ وي ،يا ناست وي ، لمونځ کوي او يا ذکر کوي سلام ورته ووایاست او مصافحه ورسره وکړی او ددوئ پر دعاوو باندئ آمين ووایاست. تر سهاره پوري دغه حالت وي . کله چي سهار سي جبرائيل عليه السلام ږغ وکړي چي اې د ملائکو ټولګيه ! کوچ وکړی درځي . ملائکي پوښتنه وکړي چي اې جبرائيل عليه السلام ! الله ﷻ د احمد ﷺ د امت د غوښتونو ، اړتياو او ضرورتونو سره څه معامله وکړه ؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل چي الله ﷻ توجه ورته وکړه او د څلورو کسانو پرته يې ټول وبخښل. اصحابو کرامو وپوښتل چي يا رسول الله ﷺ ! دغه څلور کسان څوک دي؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل چي يو د شرابو عادتي دی دوهم د مور او پلار ازاري دی دريم د وصيله رحمي پرېکونکی دی او څلورم کينه ساتونکي دی او په کورنۍ کي اړيکي پرېکونکی دی کله چي د کوچني اختر شپه سي ددغه شپې نوم ( په اسمانو کي ) په ليلة الجايزة سره دی ( يعني د انعام ورکولو شپه ) کله چي د کوچني اختر سهار سي الله ﷻ و ټولو ښارونو ته ملائکي واستوي ملائکي مځکي ته راکښته سي د ټولو لارو او کوڅو پر سر باندي ودريږي داسي اوازونه کوي چي د انسانانو او پيريانو پرته يې

فيقومون علي افواه السكك فينادون بصوت يسمع من خلق الله عزوجل الا الجن والانس فيقولون ياامة محمدﷺ اخرجوا الي رب كريم يعطي الجزيل ويعفو عن العظيم فاذابرزوا الى مصلاهم فيقول الله عز وجل للملائكة ما جزاء الاجير اذا عمله قال فتقول الملائكة الهناوسيدناجزائه ان توفيه اجره قال فيقول فاني اشهدكم ياملائكتي اني قد جعلت ثوابهم من صيامهم شهر رمضان وقيامهم رضائي ومغفرتي ويقول ياعبادي سلوني فوعزتي وجلالي لاتسئلوني اليوم شيئا في جمعكم لا خرتكم الا اعطيتكم ولا لدنياكم الا نظرت لكم فوعزتي لا سترن عليكم عشراتكم ما راقبتموني وعزتي وجلالي لا اخزيكم ولا افضحكم بين اصحاب الحدود وانصرفوا مغفورا لكم قد ارضيتموني ورضيت عنكم فتفرح الملائكة وتسبشر بمايعطي الله عزوجل هذه الامة اذا افطروا من رمضان.(١٧)

ټوله مخلوق اوري . اوازكونكي وايي : اې د محمدﷺ امته ! د هغه كريم ذات ته روان سه چي ډير زيات وركونكي دى او لوي ګناه كونكي ته معافي كونكى دى. كله چي خلګ و عيدګاه ته ووزي اللهﷻ و ملائكو ته وو ايي چي د هغه مزدور مزدوري څه ده چي خپله مزدوري پوره وكړي ؟ ملائكي ورته وو ايي : اې زموږ معبوده ! اې زموږ مالكه ! دداسي چا مزدوري چي كار يې پوره كړى وي داده چي مزدوري يې پوره وركړل سي اللهﷻ وفرمايي : اې زما ملائكو ! زه تاسو شاهداني ګرځوم چي ما خپلو بندګانو ته د روژو او تراويح په بدله كي خپله رضا او مغفرت وركړى بيا اللهﷻ خپلو بندګانو ته وفرمايي : اې زما بندګانو زما څخه غوښتنه وكړى زما دي په خپل عزت قسم وي ، زما دي په خپله لويي قسم وي چي نن تاسو زما څخه په دې اجتماع كي د آخرت په باره كي كوم سوال كوى زه به يې دركوم او كه د دنيا په باره كي څه غواړئ ستاسو مصلحت ته به ګورم . زما دي په خپل عزت قسم وي چي تر څو چي تاسو زما خيال ساتي زه به ستاسو پر غلطيو باندي پرده اچوم ( يعني پټوم به يې ) زما دي په خپل عزت قسم وي زما دي په خپله لويي قسم وي چي زه تاسو د مجرمانو ( كافرانو ) په مخكي نه رسوا كوم . اوس تاسو په داسي حالت كي كورونو ته ستانه سئ چي بخښل سوي ياست تاسو زه راضي كړم زه ستاسو څخه راضي يم ملائكي چي دا ثوابونه ويني چي د اختر په ورځ يې ودې امت ته وركړي خوشالي كوي او يو و بل ته زيرى وركوي.

---

(١٧) كذا في الترغيب و قال رواه ابو الشيخ بن حيان في كتاب الثواب والبيهقي واللفظ له وليس في اسناده من اجمع على ضعفه قلت قال السيوطى في التدريب قد التزم البيهقي ان لا يخرج في تصانيفه حديثا يعلمه موضوعا الخ وذكر القاري في المرقاة بعض طرق الحديث ثم قال فاختلاف طرق الحديث يدل على ان له اصلا اه

اللهم اجعلنا منهم .

**فايده** : ددې حديث اکثره مضامين ددې رسالې په تيرو پاڼو کې بيان سوي دي البته د يو شي خبره د يادوني وړ ده چې تر تولو مهمه او لومړی خبره ده هغه دا چې د روژې د مياشتې د عمومي مغفرت څخه ډير بې برخې خلګ ايستل سوي لکه د مخکې روايتو څخه چې معلوم سوه چې د اختر ددې عام مغفرت څخه محروم سول . يو په خپل منځ کې جګړه کونکی دی ، دوهم د مور او پلار ازاري دی . ددوئ څخه تاسو پوښتنه وکړئ چې تاسو الله ﷻ ناراضه کړي نو تاسو د ځان لپاره کوم استوګنځای لټولی دی . پر تاسو هم افسوس دی او ستاسو پر هغه عزت هم افسوس چې په خاطر يې د رسول الله ﷺ ښراوي پر ځان قبلوی . د جبرائيل عليه السلام ښراوي قبلوی د الله ﷻ د عام مغفرت څخه ځان بې برخي کوئ . زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چې کوم چې تاسو نن دښمن ته ماته ورکړه خپل بريت مو پرې لوړ کړی دا به تر څو ورځو پورې ستاسو سره پاته وي . چې د الله ﷻ خوږ پيغمبر پر تاسو لعنت وايي الله ﷻ تاسو د خپل مغفرت څخه باسي او د الله ﷻ مقربه ملائکه تاسو ته ښراوي کوي . د الله ﷻ لپاره يو لږ فکر وکړی وبس . د سهار ورک سوی که ماښام کورته راسي ورک نه ورته ويل کېږي . نن وخت سته کمی مو پوره کړي . صبا چې دداسي حاکم په وړاندي ودريږي چې نه عزت کار کوي او نه رعب بيا ستاسو مال ، پيسې او سامان کار نه کوي يوائې ستاسو د عمل پوښتنه کېږي .

هره کړنه به مو په ليکلي ډول ستاسو مخته کښېږدي الله ﷻ خپل حقوق معافوي خپل منځني حقوق يعني د بندګانو حقوق بې له بدلي نه بخښل کېږي رسول الله ﷺ فرمايي زما په امت کې مفلس هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ راسي نيک عملونه ورسره وي يعني لمونځ ، روژې ، صدقې او هر څه راوړي خو په دنيا کې يې چا ته ښکنځل کړي وي ، پر چا يې تهمت ويلي وي ، څوک يې وهلي وي نو ټول دعوه کونکي پسي راسي دده ټول نيک عملونه دده ددغه حرکتو په بدله کې ځني يوسي . کله چې يې نيکۍ خلاصي سي نو بدۍ يې دده پر اوږو وروليږي بيا ددې امبار په وجه دوزخ ته واچول سوي . نو د ټولو نيکو عملونو د کولو سره چې کومه نااميدي او افسوس سته بيان يې د اړتيا وړ نه دی .

*وه مايوس تمناکيون نه سوئى اسمان ديکهى که جو منزل بمنزل اپنى رائگان ديکهى*

ژباړه: د آرزو څخه نا اميده به ولي و اسمان ته ګوري چې منزل پر منزل خپلي هڅي بې ګټې ويني .

دوهمه خبره د فکر کولو وړ داده چې په دې رساله کې څو ځایه د مغفرت بیان سوی دی پر دمخه خبره باندې یو سوال سته هغه دا چې یو چاته یو ځلې مغفرت وسي د هغه لپاره نو بیا مغفرت څه معنی لري ددغه سوال جواب دادی چې هره موقع د مغفرت راسي نو که د بنده پر ذمه باندې گناه وي بخښل کېږي او که نه وي نو په دغه اندازه یې مرتبې لوړېږي .

دریمه خبره داده : چې الله ﷻ په څو ځایو کې ملائکې شاهداني گرځولي دي لکه په پورتني حدیث کې چې هم تېر سوه ددې څخه مطلب دادی چې الله ﷻ د قیامت په ورځ د عدالت معامله د قانون د اصولو مطابق ایږدي ( چې هیچا ته سوال پکښې پیدا نسي ) په همدې وجه انبیآء هم د تبلیغ کولو په خاطر شاهدې ته طلبې لکه د حدیثو په کتابو کې چې په ډیرو ځایو کې نبي ﷺ فرمایلي دي: چې ستاسو څخه زما په اړه پوښتنه کېږي تاسو شاهدان اوسئ چې ما تاسو ته تبلیغ کړی دئ. په بخاري او نورو کې روایت سوی دی چې د قیامت په ورځ به د نوح ﷺ څخه پوښتنه وسي چې تا خپل امت ته تبلیغ کړی و؟ د نوح ﷺ قوم به وایي: ما جآء نا من نذیر ولابشیر. ژباړه : موږ ته نه وېرونکی او نه زیری راکونکي راغلی و . ونوح ﷺ ته به وایي چې شاهدان راوله نوح ﷺ به محمد ﷺ او دده امت په شاهدي وړاندې کړي . محمدي امت به راوبلل سي شاهدي به ادا کړي . په ځینو روایتو کې راغلي دي چې هغه به محمدي امت ته وایي چې تاسو څه خبر یاست چې پر موږ شاهدي ادا کوئ تاسو خو تر موږ وروسته یاست ؟ محمدي امت به ورته وایي چې موږ ته خپل ریشتني پیغمبر ﷺ معلومات راکړي دئ . زموږ پر پیغمبر باندې دالله ﷻ له خوا یو کتاب نازل سوی دئ په هغه کې معلومات ورکړل سوي وه. په دغه ډول به د نورو انبیآء د امتونو سره هم معامله وسي . الله ﷻ په دې اړه فرمایي : وکذالک جعلنکم امة وسطا لتکونوا شهدآء علی الناس

امام فخرالدین رحمة الله علیه لیکي : چې د قیامت په ورځ به څلوره ډوله شاهدي وي . یوه د ملائکو شاهدي ده چې په اړه یې الله ﷻ فرمایي : ما یلفظ من قول الا لدیه رقیب عنید وجآءت کل نفس معها سآئق وشهیدا وان علیکم لحافظین کراما کاتبین یعلمون ماتفعلون .

دوهمه شاهدي د انبیآؤ ده چې په اړه یې الله ﷻ فرمایي : وکنت علیهم شهیدا مادمت فیهم فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید وجئنا بک علی هؤلاء شهیدا .

دریمه شاهدي د محمدي امت ده چې په اړه یې الله ﷻ فرمایي : و جیئ بالنبیین والشهدآء .

څلورمه شاهدي د انسانانو د خپلو غړو ده چې پر دوی یې ادا کوي الله ﷻ یې په اړه فرمایي :

یوم تشهد علیهم السنتم وایدیهم وارجلهم .الایة ، والیوم نختم علی افواههم وتکلمنا ایدیهم .الایه

د لنډوالي په خاطر مي د آياتو ترجمه پرېښودل خو حاصل يې د هغه شاهدۍ بيان دی چي تر آيات مخکي ذکر سوي ده.

څلورمه خبره چي په حديث کي ذکر سوي ده هغه دا ده چي الله ﷻ فرمايي: زه به تاسو د کافرانو په مخ کي نه شرموم دا دالله ﷻ نهايي کرم او احسان دئ او دمسلمانانو لپاره د غيرت خبره ده چي دالله ﷻ د رضا لټونکو لپاره دا هم لطف دئ چي په غلطيو او ګناهو باندي يې په هغه ځای کي هم عفو او پرده اچول کېږي.

عبدالله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي په ورځ د قيامت به يو سړی الله ﷻ نژدې را وغواړي پرده به پرې واچوي او ګناهونه به يې يو په يو ور په ياد کړي دی به په خپلو ګناهونو باندي اقرار وکړي کله چي دغه سړی په خپلو ګناهونو باندي اقرار وکړي او دخپلو ګناهونو دډېروالي له وجهي به فکر وکړي چي اوس مي د هلاکت وخت رانژدې سو الله ﷻ به ورته وفرمايي چي ما پر تا باندي په دنيا کي پرده اچولې وه اوس هم پرده درباندي اچوم او معافوم دي. وروسته به د نيکو عملونو و دفتر ته حواله سي. نور هم په سوونو روايتونه سته چي پورته مضمون څني معلومېږي چي الله ﷻ دده رضا طلب کونکي ته د ګناه عفوه کوي او پرده پرې اچوي. په دغه خبره کي زيات فکر پکار دی چي يو څوک د نيکانو غلطياني د غيبت په ډول بيانوي دغه کس دي ددې فکر وکړي چي داسي نه چي د قيامت په ورځ د هغو پر غلطيانو باندي پرده واچول سي او وبخښل سي او ستاسو عملنامې د غيبته ډکي وي ستاسو د هلاکت سبب وګرځي الله ﷻ دي په خپل فضل سره موږ ټولو ته بخښنه وکړي.

پنځمه خبره داده چي په پورتني حديث کي د کوچني اختر شپه د انعام په شپه ياده سوې ده چي الله ﷻ خپلو ټولو بندګانو ته انعام ورکوي. په دغه وجه ددغه شپې زيات قدر کول پکار دي. عوام خلګ خو څه کوي بلکي خاص خلګ هم په دغه شپه ستړي ستومانه په خواږه خوب بيده سي او حال دا چي دا شپه په خصوصي ډول سره د عبادت د بوختيا شپه ده. رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي د اخترونو دواړي شپې په عبادت روښي کړي نو زړه به يې په هغه ورځ نه مري چي زړونه مري (يعني د فتنو او فسادو په وخت کي به د خلګو زړونه مړه غوندي وي مګر دده زړه به ژوندی وي او ممکن چي د شپيلۍ د پوکي په وخت کي دده روح بې هوښه نسي) په يو حديث کي راغلي دي چي څوک په پنځو شپو کي بيده نسي جنت ورته واجب دئ (هغه پنځه شپې د لاندنيو شپو څخه عبارت دي)

ليلة التروية (يعني د لوي اختر دمياشتي اتمه شپه) ليلة النحر (د لوی اختر شپه) ليلة العرفة (د نهم شپه) د کوچني اختر شپه او د برات د مياشتي پنځلسمه شپه فقهاو کرامو

دا اخترو شپې روښول مستحب بللی دي . په کتاب ما ثبت بالسنة کي د امام شافعي رحمة الله عليه څخه نقل سوی دی چي په پنځه شپو کي دعا قبلیږي : د جمعې شپه ، د دواړو اخترو شپې ، د خدای تعالی د میاشتي لومړی شپه او د پنځلسي شپه .

# خبر داری (تنبیه)

ځینو بزرګانو لیکلي دي چي د روژې په میاشت کي د جمعې په شپه زیات اهتمام کول پکار دی ځکه جمعه او ددې شپي وختونه زیات برکتمن دي. په ډیرو حدیثونو کي ددغه شپي فضیلتونه راغلي دي . خو لکه څرنګه چي په ځینو روایتو کي ددغه شپې د عبا دت لپاره پر خاصوالي باندي ممانعت راغلي دی نو ځکه یوه دوې شپي نوري هم ورسره ملګري کول پکار دي . ددې رسالي په آخره کي یو خواست درته کوم هغه دادی چي د روژې د میاشتي په خاصو وختو کي بنده (شیخ الحدیث۔او ما ژباړونکی) ددعا څخه مه هیروی . کیدلای سي چي ستاسو د مخلصانه دعا په برکت الله جل جلاله ما ته هم خپله رضا او محبت نصیب کړي.

## مناجات

گر چہ میں بدکار و نالائق ہوں ای شاہ جہاں ❁ پر تیری درکو بتا اب چھوڑ کر جاؤں کہاں

کون ہو تیری سوا مجھ بی نوا کی واسطی

ژباړه : اې خدایه ! که څۀ هم زه بد کاره او نا لائقه یم . زه چي ستا د ر پرېږدم نو ته ماته وښیه زه چیري ولاړ سم ستا پرته نو زه بل چیري اسره لرم.

کشمکش سی ناامیدی کی ہؤاں ہوں میں تباہ ❁ دیکھ مت میری عمل کر لطف پر اپنی نگاہ

یارب اپنی رحم و احسان و عطا کی واسطی

ژباړه : د نا امیدۍ په کشمکش کي تباه سوم ځما عملو نو ته مه ګوره په خپله مهربانۍ سره پر ما نظر وکړي اي ربه ! د خپل احسان ، اعطا او رحم په واسطه سره

چرخ عصیاں سر پہ ہی زیر قدم بحر الم ❁ چار سو ہی فوج غم کر جلد اب ہر کرم

کچه رہائی کا سب اس مبتلا کی واسطی

ژباړه: پر سر مي د گناه اسمان دی تر پښو لاندې مي د غمو دریاب دی پرڅلورو طرفونو مي د غم فوج دی ډیر ژر کرم را باندي وکړه چي د دې غم څخه خلاص سم د مبتلا په واسطه.

ہی عبادت کا سہارا عابدون کی واسطی ❁ اور تکیہ زہد کاہی زاہدون کی واسطی

ہی عصائی آہ مجہ بی دست وپاکی واسطی

ژباړه : دعا بدانو لپاره د عبادت تکیه ده ، د زاهدانو لپاره د زهد تکیه ده زما بې وسه لپاره لکړه ده د پاکۍ په واسطه.

نی فقیری چاہتاہون نی امیری کی طلب ❁ نی عبادت نی ورع نی خواہش علم وادب

دردل پرچاہی مجہ کو خدا کی واسطی

ژباړه : نه فقیري غواړم نه مي د امارت طلب سته ، نه د عبادت طلب ، نه د پرهیزګاري او نه مي د علم او ادب خواهش سته خو زړه مي د الله ﷻ سره مینه غواړي د الله ﷻ په واسطه

عقل وہوش وفکر اور نعمائی دنیا بی شمار ❁ کی عطا تونی مجہی پرآب تو اسی پروردگار

بخش وہ نعمت جو کام آئی سدا کی واسطی

ژباړه: عقل ، هوش ، فکر او د دنیا نعمتونه نه دي بې شمیره راکړي دي . اې خدایه اوس هغه نعمت راکړي چي ټول عمر مي په کار دی .

حد سی ابتر ہوگیا ہی حال مجہ ناشاد کا ❁ کر مری امداد اللہ وقت ہی امداد کا

اپنی لطف ورحمت بی انتہا کی واسطی

ژباړه : زما غمگین حالت تر حد زیات خراب دی اې الله ﷻ ! زما مرسته وکړه د مرستي وخت دی د خپل بې پایه رحمت او لطف په واسطه سره

گرمین ہون ایک بندہ عاصی غلام پرقصور جرم میرا حوصلہ ہی نام ہی تیرا غفور

تیرا کہلاتاہون مین جیساہون ای رب شکور انت شافي انت كافي في مهمات الامور

انت حسبي انت ربي انت لي نعم الوكيل.

ژباړه : که څه هم زه ډیر گنهگار یم خو زما جرم حوصله ده او ستا نوم غفور رحیم دی اې

شکور ربه ! هر څوک چې يم خو ستا بللی يم ( يعني ستا لوري ته مې نسبت کېږي ) ته شفا ورکونکې يې او ته زما د مهمو کارونو کفايت کونکې يې ته مالره بس يې ته زما رب يې او ته زما ښه وکيل يې يعني کارسازيې.

ليکونکي : مولانا محمد زکريا کاندهلوي مقيم مظاهر العلوم سهارنپو ( وارد نظام الدين دهلوي ) دليکلو نېټه ۱۳۴۹ –رمضان– ۲۷

ژباړونکي : مولوي عبدالهادي ( حماد ) رئيس جامعه اسلاميه حماديه، قندهار تعليم القران راډيو ، قندهار، هرات، هلمند، زابل

نېټه : ۱۵\۱۰\۱۳۸٦ه ش چه د ۲۷\۱۲\۱۴۲۸ه ق سره سمون خوري .